مناقصاتو او مزایداتو په آزادی او سلامتی کښې چه ددولت د مؤسسو یا دشرکتونو چه دولت په کښې سهم لري یا د رسمی یا نیمایی رسمی دوایرو پوری اړه نه نیسي اخلال وارد کی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم او نقدی جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

سلامت مناقصات ومزایدات که به دولت، مؤسسات یا شرکت هائی‌که دولت در آن سهم دارد یا دوایر رسمی یا نیمه رسمی تعلق نمی گیرد اخلال وارد نماید، به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد و جزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دوجزا محکوم می‌گردد.

دوه ویشتم فصل
د تجارت پوری مربوط جرمونه
لومړی قسمت
غیر قانونی ربحه

څلور سوه او اته اویایمه ماده:
که شخص په علنی یا پټه توګه بل شخص ته په غیر مجاز ربحی قرض ورکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو کم نه وی او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

فصل بیست و دوم
جرایم مربوط به تجارت
قسمت اول
ربح غیر قانونی

مادۀ چهارصدو هفتادوهشتم:
هرگاه شخصی طور علنی یا مخفی به شخص دیگر قرض یا ربح غیر مجاز بدهد به حبس قصیری‌که از سه ماه کمتر نباشد و جزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

دوه یم قسمت
په تجارتی معاملو کښی تقلب

څلور سوه او نهه اویایمه ماده:
که یو شخص عمداً د مختلفو واقعو یا د دروغجنو خبرونو یا پروپاګند د خپرونی له لاری یا د نورو عملونو د لاری چه د تقلب یا دفریب متضمن وی د جنسونو د قیمت، درواجولو دپاره د تیارومالی پانو د پورته کیدو یا کښته کیدو سبب وګرځی یا د استهلاک د پاره یو تیار شوی جنس پټ کی یا د هغی د پتیدو سبب وګرځی په لنډ حبس او نقدی جزأ چه دپنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددی دواړو جزاګانو څخه په یوی محکومیږي.

څلور سوه اواتیایمه ماده:
که څوک د عقد کوونکی سره په یوه راتلونکی مواردو کې تقلب وکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وی او نقدی جزاء چه د لس زرو افغانیو تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي:

قسمت دوم
تقلب در معاملات تجارتی

مادۀ چهارصدو هفتادونهم:
شخصی‌که عمداً از طریق نشر وقایع مختلفه یا اخبار کاذب یا پروپاگند ویا از طریق ارتکاب سایر اعمالی‌که متضمن تقلب یا فریب باشد، سبب بلند رفتن یا پائین آمدن قیمت اجناس، اوراق مالی آماده ترویج گردد یا جنسی از اجناس آماده استهلاك را پنهان نماید یا سبب آن گردد، به حبس قصیر و جزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.

مادۀ چهارصدو هشتادم:
شخصی‌که با عقد کننده در یکی از موارد آتی تقلب نماید به حبس متوسط ای‌که از دوسال بیشتر نباشد و جزای نقدی که از ده هزار تجاوز نکند یا به یکی از این دو جزا محکوم می‌گردد:

۱- په تعداد، مقدار، مقیاس، وزن، پیمانی، طاقت او د ترکیبی موادو په فیصدي کښی.
۲-د جنس په عین کښې په دې توګه چه مقابل طرف ته غیر د هغی چه تعهد یی کړی تسلیم کی.
۳-دشی په ماهیت، اساسی صفتونو، ګټورو او ترکیبی عناصرو کښی.
۴-دشی په نوع، جنس او منبع کی.

درېیم قسمت
دافلاس پوری مربوط جرمونه

څلور سوه او یو اتیایمه ماده:
د هغه تاجر په افلاس چه قطعی حکم صادر شوی په یوه راتلونکی حالت کښی متقلب مفلس شمارل کیږي:
۱- په هغه حالت کښې چه خپل ټول یا ځینی دفترونه یی پټ، تلف، تغییر یا تبدیل کړی وی.
۲- په هغه حالت کښی چه دائینو ته دضرر رسولو په غرض د خپل مال یوه حصه یی اختلاس یا پټه کړی وی.
۳- په هغه حالت کښی چه په

۱- در تعداد، مقدار، مقیاس، وزن، پیمانه، طاقت و فیصدی مواد ترکیبی.
۲- در عین جنس طوری‌که غیر آنچه را تعهد نموده به جانب مقابل تسلیم دهد.
۳- در ماهیت، صفات اساسی، عناصر مفیده و مرکبه شی.
۴- در نوع، جنس ومنبع شی.

قسمت سوم
جرایم مربوط به افلاس

مادۀ چهارصدوهشتادویکم:
تاجری‌که به افلاس او حکم قطعی صادر گردیده در یکی از حالات آتی مفلس متقلب شمرده می‌شود:
۱- در حالتی‌که تمام یا بعضی دفاتر خود را پنهان، تلف، تغییر یا تبدیل نموده باشد.
۲- در حالتی‌که به غرض رساندن ضرر به دائنین یك جز مال خود را اختلاس یا پنهان نموده باشد.
۳- در حالتی‌که به دین صوری

صوری دین اعتراف وکی یا خپل ځان یی په داسی دین مدیون کړی وی چه په حقیقت کښې د هغه په ذمه نه وي عام له دی چه دا دین ئی په دفترونو، بودجی یا پخپلو نورو پاڼو کښی ثبت کړی وی یا یی په شفوی ډول په هغی اعتراف کړی وی.

۴- په هغه حالت کښی چه په بدنیت د صلاحیت لرونکو مقامونو د غوښتنی په صورت کښی د پاڼو یا د توضیحاتو دورانـدی کولو څخه ځان وژغوری. او په هغه آثارو چه په ژغورنه یی مرتبیږي علم ولري.

څلور سوه او دوه اتیایمه ماده:
متقلب مفلس په اوږده حبس چه د اووه کلونو خخه زیات نه وی محکومیږی.

څلور سوه او دری اتیایمه ماده:
۱- هغه تاجر چه په افلاس یی قطعی حکم صادر شوی او د لوی تقصیر په سبب د خپلو دائینو د خساری باعث ګرځیدلی مقصر مفلس شمارل کیږي.

اعتراف نموده یا خود را به دینی مدیون ساخته باشد که در حقیقت به ذمهٔ او نمی باشد اعم از اینکه این دین در دفاتر یا بودجه یا در اوراق دیگر خود ثبت کرده یا طور شفوی به آن اقرار نموده باشد.

۴- در حالتی‌که به نیت سوء از تقدیم اوراق یا توضیحات در صورت مطالبه مراجع با صلاحیت امتناع ورزیده و او به آثاری‌که بر امتناع وی مرتب می گردد علم داشته باشد.

مادهٔ چهارصدو هشتادو دوم:
مفلس متقلب به حبس طویلی‌که از هفت سال بیشتر نباشد محکوم می گردد.

مادهٔ چهارصدو هشتادو سوم:
۱- تاجری که به افلاس او حکم قطعی صادر گردیده وبه سبب تقصیر بزرگ باعث خساره دائنین خود گردد مفلس مقصر شمرده می شود.

۲- مفلس تاجر په یوه راتلونکی حالت کښی لوی مقصر شمارل کیږي:
۱- په هغه حالت کښی چه شخصی یا فامیلی مصرف یی نسبت عایداتو ته ډیر زیات وی.
۲- په هغه حالت کښی چه زیاتی پیسې په جواری، د بخت آزمایلو په ټکټونو یا شرط ترلو کښی مصرف کی.
۳- په هغه حالت کښی چه یوه متاع واخلی او په ټیټ قیمت یی خرڅه کی، یا زیاتی پیسی قرض کی یا قیمت لرونکی پانې صادری کی یا نوری وسیلی استعمال کی په داسی ډول چه لویه خساره ورته عاید شی، په دی منظور چه مال لاس ته راوړی او د دی لاری خپل افلاس په تاخیر واچوی.
۴- په هغه حالت کښی چه ددین د اداکولو د متوقفیدو وروسته نورو دائینو ته د ضرر رسولو په منظور یا صلحی کولو ته د رسیدو په قصد، د یوه دائن دین تادیه کی.
۵- په هغه حالت کښی چه د تقلب په وسیله د دائنینو سره مصالحی ته ورسیږي.

۲- تاجر مفلس در یکی از حالات آتی مقصر بزرگ شمرده می‌شود:
۱- در حالتی‌که مصرف شخصی یا فامیلی او نسبت به عایدات وی بسیار زیاد باشد.
۲- در حالتی‌که مبالغ هنگفت را در قمار بازی تکت های بخت آزمائی یا شرط بندی صرف نماید.
۳- در حالتی‌که متاعی را بخرد و به قیمت نازلتر بفروشد یا مبالغ زیاد را قرض بگیرد یا اوراق بهادار را صادر یا وسایل دیگری را استعمال نماید، به نحوی‌که به سبب آن خساره بزرگ به او عاید گردد به منظور این‌که مال را به دست آرد و از این طریق افلاس خود را به تاخیر اندازد.
۴- در حالتی‌که بعد از متوقف ساختن تادیه دین به منظور رساندن ضرر به سایر دائنین یا به قصد رسیدن به مصالحه دین یکی از دائنین را تادیه نماید.
۵- در حالتی‌که به وسیله تقلب با دائنین به مصالحه برسد.

څلور سوه او څلور اتیایمه ماده:
لوی مقصر مفلس په متوسط حبس چـه ددوه کلونـو څخـه کـم نـه وی محکومیږي.

مادهٔ چهارصدو هشتادو چهارم:
مفلـس مقـصر بـزرگ بـه حـبس متوسطی‌که از دوسال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

څلور سوه او پنځه اتیایمه ماده:
هغه تاجر چه په افلاس یی قطعی حکم صادر شوی په یوه راتلونکی حـالت کـښی مقـصر مفلـس ګڼـل کیږي:
۱- په هغه حالت کښی چه تجارتی قوانینو د تجارتی دفترونو لرل لازم کړی وی او هغه دا دفترونه ونه لری یا دفترونه په داسی ډول نا مکمله او نا منظمه وی چه د هغی څخه د هغه شتمنی، او قرضونه معلوم نه شی.
۲- په هغه حالت کښی چه د خپل بیلانس پاڼه په قانونی موده کښی وړاندی نه کی.
۳- پـه هغـه حـالت کـښی چـه د تادیـاتو د متوقـف کیـدو وروسـته صـحیح اظهـارات چـه قانونـاً پـری مکلف دی وړاندی نه کی.
۴- پـه هغـه حالـت کـښی چـه بـی د معقـول عـذر څخـه د غوښـتنی پـه صورت کښی شخصاً هغه مرجع ته

مادهٔ چهارصدو هشتادوپنجم:
تـاجری‌کـه بـه افـلاس او حکـم قطعـی صـادر گردیـده در یکـی از حالات آتـی مفلس مقصر دانسته می‌شود:
۱- در حـالتی‌کـه قـوانین تجـارتی داشـتن دفـاتر تجـارتی را لازم شمرده باشد و او دفاتر مذکور را نداشـته باشـد یـا دفـاتر طـوری نامکمـل و نـامنظم باشـد کـه از آن حقیقـت دارائـی و قـرض هـای او معلوم نگردد.
۲- در حالتـی‌کـه ورقـه بیـلانس خـود را در میعـاد قـانونی تـقدیـم ننـماید.
۳- در حـالتی‌که بعـد از متوقـف ساخـتن تـادیأت، اظهـارات صـحیح را کـه قـانـوناً بـه آن مکلف است تقـدیم ننماید.
۴- در حـالتی‌کـه بـدون عـذر معقـول در صـورت طلـب شخـصاً بـه مرجعـی‌کـه حکـم افـلاس وی را

چه د هغه د افلاس حکم یی صادر کړی حاضر نه شی یا کوم اظهارات چه ذکر شوی مرجع یی غواړی وړاندی نه کی یا ددې اظهاراتو عدم صحت ظاهر شی.

۵- په هغه حالت کښی چه د غیر د ګټی د پاره بی له عوضه داسی لوی قرار داد عقد کی چه د عقد په وخت کښی د هغه مالی وضعه یی اجازه نه ورکوی.

صادر نموده حاضر نگردد یا اظهاراتی را که مرجع مذکور از وی مطالبه نماید تقدیم نکند یا عدم صحت این اظهارات ظاهر گردد.

۵- در حالتی‌که برای منفعت غیر بدون عوض قرار داد بزرگی را عقد نماید که هنگام عقد وضع مالی او اجاز ه نه دهد.

څلور سوه او شپږ اتیایمه ماده:

۱- که دیوه تجارتی شرکت افلاس په اشتهار قطعی حکم صادر شی په هغه صورت کښی چه د عمومی مجمع یا مدیره هیئت په یوه غړی ددی قانون د (۴۸۱) مادی د یوه درج شوی فعل ارتکاب ثابت شی ددې قانون د (۴۸۲) مادی په تاکلی جزاء محکومیږي.

۲- که د عمومی مجمع یا مدیره هیئت یو غړی د تقلب یا فریب په واسطه دداسی فعل ارتکاب کوونکی شی چه د هغی په اثر شرکت مفلس شی یا د شرکت د تأدیاتو په متوقف کیدو کښی

مادۀ چهارصدو هشتادوششم:

۱- هرگاه به اشتهار افلاس یك شرکت تجارتی حکم قطعی صادر گردد در صورتی‌که بر یکی از اعضای مجمع عمومی یا هیئت مدیره ارتکاب یکی از افعال مندرج مادۀ (۴۸۱) این قانون ثابت گردد به جزای پیش بینی شدۀ مادۀ (۴۸۲) این قانون محکوم می گردد.

۲- اگر یکی از اعضای مجمع عمومی یا هیئت مدیره به وسیله تقلب یا فریب مرتکب فعلی گردد که به اثر آن شرکت مفلس گردد یا در توقف تأدیات شرکت مساعدت نماید،

مرسته وکی ددې قانون د (۴۸۲) مادی په ټاکل شوی جزأ محکومیږي.

څلور سوه او اووه اتیایمه ماده:
که د صغیر یا محجور علیه د افلاس په اشتهار یا د هغه شخص چه تجارت یی یو امین شخص اداره کوی، قطعی حکم صادر شی د فریب یا د تقصیر د اعمالو، جزائی مسئولیت هغه ولی، وصی یا امین ته متوجه دی چه ددی فصل د تیرو درج شوو مادو د تقلب یا فریب د افعالو ارتکاب پری ثابت شی او د حالونو سره سم د هغی په ټاکلی شوی جزاء محکومیږي.

څلور سوه او اته اتیایمه ماده:
راتلونکی اشخاص په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات او په نقدې جزأ چه د لس زرو افغانیو تجاوز ونه کي یا ددې دواړو جزاء ګانو څخه په یوی محکومیږی، په دی شرط چه په قانون کښی زیاته شدیده جزأ نه وی ټاکل شوی:

به جزای پیش بینی شدهٔ مادهٔ (۴۸۲) این قانون محکوم می‌گردد.

مادهٔ چهارصدو هشتادو هفتم:
هرگاه به اشتهار افلاس صغیر، محجور علیه یا شخصی‌که تجارت اورا شخص امین اداره می‌کند حکم قطعی صادر گردد مسؤلیت جزائی اعمال فریب یا تقصیر متوجه ولی، وصی یا امینی می باشد که ارتکاب یکی از افعال تقلب، فریب یا تقصیر مندرج مواد قبلی این فصل ثابت گردد، حسب احوال به جزای پیش بینی شدهٔ آن محکوم می گردد.

مادهٔ چهارصدو هشتادو هشتم:
اشخاص آتی به حبس متوسط که از دو سال بیشتر نباشد و جزای نقدی که از ده هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می‌گردند مشروط بر این‌که در قانون جزای شدید تری پیش بینی نه شده باشد:

۱- هغه شخص چه د مفلس ټول یا ځینی مالونه پټ کی که څه هم د هغه ښځه یا یو د اصولو او فروعو څخه یی وی.
۲- هغه شخص چه د دائنینو د جملی څخه نه وی او د تقلب په وسیله د صلحی پوری مربوطو مذاکرو کښی دخالت وکی یا د تقلب په وسیله د مفلس مدیون د مرستی په منظور د حقیقت په خلاف یو دین پخپل نوم یا د بل شخص په نوم وښیي.
۳- هغه دائن چه خاصه موافقه د خپلی ګټی او د نورو دائنینو دضرر په منظور عقد کی.
۴- هغه دائن چه د تقلب په وسیله د خپل دین اندازه زیاته کی یا په مفلس یا په بل شخص خاص امتیازونه د صلحی یا د مفلس د دارایي په مذاکرو کښی د رأی ورکولو په بدل کښی یا د هغی په وعده شرط کښیږدی.

څلور سوه او نهه اتیایمه ماده:
محکمه کولی شی چه ددې فصل ددرج شوو جرمونو د محکومیت د حکم په خپرونی امر وکی.

۱- شخصی‌که تمام یا بعضی اموال مفلس را پنهان کند گرچه زوجه یا یکی از اصول یا فروع او باشد.
۲- شخصی‌که از جمله دائنین نبوده وبوسیله تقلب در مذاکرات مربوط به صلح دخالت نماید یا به وسیله تقلب به منظور مساعدت به مدیون مفلس دینی را خلاف حقیقت به نام خود یا نام شخص دیگری وا نمود سازد.
۳- دائنی‌که موافقه خاص را به منظور منفعت خود وضرر سایر دائنین عقد نماید.
۴- دائنی‌که به وسیله تقلب اندازه دین خود را زیاد نماید یا بر مفلس یا بر شخص دیگری امتیازات خاص را در بدل دادن رأی در مذاکرات صلح یا دارائی مفلس یا وعده به آن شرط گذارد.

مادۀ چهارصدو هشتادونهم:
محکمه می تواند به نشر حکم محکومیت جرایم مندرج این فصل امر نماید.

درویشتم فصل
دمعنوی ملکیت په حقوقو تپری

څلور سوه او نوی یمه ماده:
۱- که یو شخص د غیر د معنوی ملکیت په یوه حق چه قانون یا نړیوالی معاهدی چه افغانستان ورته الحاق کړی حمایه کړی وی، تپری وکی په نقدی جزأ چه ددولس زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی مگر داچه خاص قانون په زیاتی جزاء حکم کړی وی.
۲- هغه شیان چه د غیر په حق د تپری په نتیجه کښی چه په پورتنی فقره کښی درج شوی لاس ته راشی مصادره کیږي.

څلیر ویشتم فصل
د تخریب، تلفولو او د حدودو د انتقال جرمونه
لومړی قسمت
د تخریب او تلفولو جرمونه

څلور سوه او یو نوی یمه ماده:
که یو شخص عقار یا منقول

فصل بیست وسوم
تجاوز بر حقوق ملکیت معنوی

مادۀ چهارصدو نودم:
۱- شخصی‌که بر یك حق از حقوق ملکیت معنوی غیر که آن را قانون یا معاهده بین المللی ایکه افغانستان به آن الحاق نموده حمایه کرده باشد تجاوز نماید، به جزای نقدی‌که از دوازده هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد مگر این‌که قانون خاص به جزای شدیدتری حکم کرده باشد.
۲- اشیائی‌که در نتیجه تجاوز بر حق غیر مندرج فقره فوق به دست آمده مصادره می‌گردد.

فصل بیست وچهارم
جرایم تخریب، اتلاف وانتقال
قسمت اول
جرایم تخریب واتلاف حدود

مادۀ چهارصدو نودویکم:
شخصی‌که عقار یا مال منقول یا

یـا غیـر منقـول مـال چـه د غیـر ملکیت وی تخریب یا تلف کی یا یـی داسـتفادی څخـه وباسـی یـا ورته ضرر ورسوي یا په هر قسم چه وی هغـه بیکـاره کـی پـه متوسـط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی او نقـدی جـزأ چـه د لـس زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزأګـانو څخـه پـه یـوی محکـومیږی. مګـر دا چـه قـانون زیاته شدیده جزأ ټاکلی وی.

غیر منقول ملکیت غیر را منهدم، تخریب یا تلف نماید یا آن را غیر قابل استفاده گرداند یا به آن ضرر برساند یا به هر نحوی که باشد آن را عاطـل گردانـد، بـه حـبس متوسـطی کـه از دو سـال بیـشتر نباشد و جزای نقدی که از ده هزار افغـانی تجـاوز نکنـد یـا بـه یکـی ازین دو جزا محکوم می‌گردد. مگر اینکـه قـانون جـزای شـدیدتری را پیش‌بینی کرده‌باشد.

څلور سوه او دوه نوی یمه ماده:

۱- که چېرې یو ډله چه کم تر کمه دپنځو نفرو څخه تشکیل شوی وی د غیر د ملکیت عقار یا منقول مال منهدم، خراب یا تلف کی یا یی د استفادی څخه وباسی یا ورته ضرر ورسوی یا په هر قسم چه وی هغه بیکـاره کـی. د هغـوی هـر یـو د حـالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

۲- که د پورتنی فقری جرم دعنف سره په اشخاصو واقع شی ارتکاب کـوونکی پـه اوږده حـبس چـه داووه کلونـو څخـه زیـات نـه وی محکومیږي.

مادۀ چهارصدو نودودوم:

۱- هـرگاه گروهی کـه اقـلاً از پـنج نفـر تـشکیل شـده باشـد عقـار یـا منقـول ملکیـت غیـر را منهـدم، خراب یا تلف نماید یا آن را غیر قابـل اسـتفاده گـرداند یـا بـه آن ضرر برساند یا بـه هـر نحـو ی‌کـه باشـد آنـرا عاطـل سـازد هریـك از آنها حسب احوال به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

۲- اگر جرم منـدرج فقـره فـوق بـا عنـف بـر اشـخاص واقـع گـردد مرتکب به حبس طویلی‌که از هفت سـال بیـشتر نباشـد محکـوم می‌گردد.

۳- کـه د پـورتنی فقـری درج شـوی جرم د اضطراب، نا آرامی یا د لوی فـاجعی د حـالت دوجـود څخـه پـه استفادی سره صورت ونیسي پـه اوږده حبس چه د لسو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.

څلور سوه دری نوی یمه ماده:

۱- راتلـونکی اشـخاص د خـساری پـه جبـران عـلاوه پـه لنډ حبس او نقدی جزأ چه د پنځـه زرو افغـانیو څخـه زیاتـه نـه وی یـا د دې دواړو جزأګانو څخه په یوی محکومیږي:

۱- هغـه شخـــص چـــه د غیـــر د ملکیـت د کرهنی محـــصولات چـه لوشـوی نه وی یا په پټیو کښی هر نوع موجود نباتات تلف کی.

۲- هغه شخص چه د بـل د ملکیت کرلی فصل تلف یـا پـه کښی مضر مواد یا نباتات وشندی.

۳- هغه شخص چه د بـل د ملکیت ونه د بیخه وباسی یا یی پری یـایی تلف کی یـا مضره لښته پـه کښی زرع کی او یـا ورځـخه دوچیدلو پـه منظور پوست لیری کی.

۲- که د پـورتنی فقری ددرج شـوی جـرم ارتکـاب د لمـر لویـدو او لمـر

۳- اگر ارتکاب جرم مندرج فقره فـوق بـا اسـتفاده از وجـود حـالت اضـطراب، آشـــوب یـا فاجعـه بزرگ صـورت گیـرد مرتکـب بـه حبـــس طـویلی‌کـه از ده ســـال بیـتر نباشـــد محکوم می‌گردند.

مادۀ چهارصدو نودوسوم:

۱- اشـخاص آتـی عـلاوه بـــر جبـران خـساره بـه حـبس قـصیر وجزای نقدی کـــه از پنـج هـزار افغـانی تجـاوز نکـند یـا بـه یکی ازیـن دو جزا محکوم می‌گردند:

۱- شخـصی‌که حاصلات زراعتی درو ناشـده یـا هـر نـوع نبـات موجـــود در مـــزرعه ملکیـت غـــیر را تلف نماید.

۲- شخصی‌که کشت ملکیت غیر را تلـــف یـــا در آن مـــواد یـــا نبـاتات مضره را بپـاشد.

۳- شخصی‌که درخت ملکیت غیر را ازبیـــخ بکـشـد یـا قـطع یـا تلـف نماید یا شـاخـچه مـضره را در آن زرع نمایـد یـــا آن را بـــه منظور خشك شدن پوست کند.

۲- اگـــر ارتکـاب جـــرم مندرج فقـــره فـــوق در بـــین غـــروب و

ختو ترمنځ کم تر کمه ددری نفرو په وسیله یا ددوه نفرو په وسیله چې یو یې د عنف څخه کار واخلی یا یو د هغوی ظاهری یا پټه وسله د ځان سره ولری، صورت ومومی هر یو ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم په متوسط حبس محکومیږي.

طلوع آفتاب اقلاً توسط سه نفر یا توسط دو نفر که یکی از آن ها از عنف کار بگیرد یا یکی از آن ها سلاح ظاهر یا پنهان حمل نماید صورت بگیرد هر یك از مرتکبین حسب احوال به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

دوه یم قسمت
دحدودو انتقال

قسمت دوم
انتقال حدود

څلور سوه او څلور نوی یمه ماده:

۱- که یو شخص د بل د ملکیت د حدودو څخه یوحد خراب کی یا بله علامه چه د مساحت یا حدود د ضبطولو په منظور یا د ملکیتونو ترمنځ د جدایي په منظور نصب شوی وی انتقال ورکی یا یې زایل کی، په متوسط حبس چه ددوه کلونو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی یا ددې دواړو جزاء ګانو څخه په یوی محکومیږي.*

۲- که د پورتنی فقری درج شوی جرم پر اشخاصو په عنف یا د بل د

مادهٔ چهارصدو نودوچهارم:

۱- هرگاه شخص حدی از حدود ملکیت غیر را به نحوی از انحا عمداً خراب کند یا علامهٔ دیگری را که به منظور ضبط مساحت یا حدود یا بمنظور جدائی در بین املاك نصب شده انتقال دهد، یا آنرا زایل سازد به حبس متوسط ایکه از دوسال بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از بیست وچهار هزار افغانی تجاوز نکند یا بیکی ازین دو جزا محکوم می‌گردد.*

۲- اگر جرم مندرج فقرهٔ فوق با عنف بر اشخاص

* فقره (۱) ماده ۴۹۴ تعدیل گردیده، در بخش تعدیلات مراجعه شود.

ملکیت د ځمکی د غصبولو په قصد ارتکاب شی په هغه علامی چه د رسمی او نیمایی رسمی مراجعو له خوا وضع شوی وی د پورتنی منظور د پاره لیری کی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه کم نه وی محکومیږي.

یا به قصد غصب زمین ملکیت غیر ارتکاب گردد یا علامات از طرف مراجع رسمی ونیمه رسمی وضع گردیده باشد، مرتکب به حبس متوسطی که از دوسال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

پنځه ویشتم فصل
د حیواناتو د قتل او هغی ته د ضرر رسولو جرمونه

فصل بیست وپنجم
جرایم قتل حیوانات وضرر رساندن به آن

څلور سوه او پنځه نوی یمه ماده:
راتلونکی اشخاص د خساری په جبران علاوه په لنډ حبس او نقدی جزأ چه د پنځه زرو افغانیو څخه زیاته نه وی یا ددې دواړو جزاء گانو څخه په یوی محکومیږي:
۱- هغه شخص چه عمداً یا بی له اقتضاء د بل د ملکیت د سورلی حیوان ووژنی یا یې شدیداً زخمی کی یا په بل صورت ورته لوی ضرر ورسوي.
۲- هغه شخص چه په سیند، نهر، غدیر یا حوض کښی موجود ما هیان مسموم کی یا یی په ښکار

مادۀ چهارصدو نودوپنجم:
اشخاص آتی علاوه به جبران خساره به حبس قصیر وجزای نقدی که از پنج هزار افغانی تجاوز نکند یا به یکی ازین دو جزا محکوم می گردند:
۱- شخصی‌که عمداً یا بدون اقتضا حیوان سواری ملکیت غیر را بکشد یا آنرا شدیداً زخمی سازد یا به وجه دیگر به آن ضرر بزرگ برساند.
۲- شخصی‌که ماهی های موجود در دریا، نهر، غدیر، یا حوض را مسموم نماید یا در

کښی د ټوله ایز قتل دوسیلو څخه لکه د چاودیدونکو موادو استعمال د کیمیاوی موادو، برقی او داسی نورو وسیلو څخه کار واخلی.

۳- هغه شخص چه عمداً او بی له اقتضاء څخه د بل د ملکیت دوریښمو چنجی، د شاتو د مچیو مجموعه مړه کی او یا ورته لوی ضرر ورسوي.

شکار آن از وسایل قتل دسته جمعی مانند استعمال مواد منفجره، مواد کیمیاوی وسایل برقی وامثال آن کار بگیرد.

۳- شخصیکه عمداً و بدون اقتضا کرم ابریشم، مجموعه از زنبور عسل ملکیت غیر را بکشد یا به آن ضرر بزرگ وارد نماید.

درېیم باب
قباحتونه
لومړی فصل
د عمومی لارو او ځایونو پوری مربوط قباحتونه

باب سوم
قباحات
فصل اول
قباحات مربوط به راه ها واماکن عامه

څلور سوه او شپږ نوی یمه ماده:
راتلونکی اشخاص په لنډ حبس چه د پنځلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د پنځه سوه افغانیو تجاوزونه کی محکومیږي:

۱- هغه شخص چه په عمومی لار کښی بی له ضرورته او بی صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی څخه د ازدحام سبب وګرځی عام له دی چه په هغی کې د کندی د کنلو

مادۀ چهارصدو نودوششم:
اشخاص آتی به حبس قصیری‌که از پانزده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از پنجصد افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد:

۱- شخصی‌که در راه عام بدون ضرورت یا بدون اجازه مراجع با صلاحیت سبب ازدحام گردد اعم از این‌که به کندن چقری در آن باشد

په وسیله وی یا په هغی کښې د موادو یا دداسی شیانو د اچولو په وسیله وی چه تګ او راتګ په کښی غیر مطمئن کی یا په هره وسیله چه وی د تګ او راتګ د منع کیدو سبب په کښی وګرځی.

۲- که څوک د نقلیه وسیلو په درولو یا توقف ورکولو د ترافیکی مقرراتو خلاف د لاری د مزاحمت سبب شی عام له دی چه ذکر شوی وسیلی د حیوان یا غیر له هغی وچلول شی. مګر داچه درول یا توقف ورکول د بارولو یا خالي کولو یا دسورلیو دپورته کیدو یا کښته کیدو په منظور په کافی اندازه صورت موندلی وی.

۳- که څوک پل یا پلچک چه د اوبو د جریان د پاسه جوړ شوی او خلک پری د تیریدو حق ولری قطع کی او د هغی په ځای بله د لاړو تللو وسیله نصب نه کی.

۴- ددې مادې په تولو درج شوو حالونو کښې به محکمه د موانعو د لیری کیدو علاوه د خساری په جبران چه د هغی څخه پیدا شوی هم حکم کوی.

یا به گذاشتن مواد یا اشیائی‌که رفت وآمد را در آن غیر مطمئن گرداند یا به هر نحوی که باشد سبب ممانعت رفت وآمد در راه مذکور گردد.

۲- شخصی‌که با گذاشتن یا توقف وسایط نقلیه خلاف مقررات ترافیکی سبب مزاحمت راه شود اعم از این‌که وسایط مذکور توسط حیوان یا بدون آن رانده شود مگر این‌که گذاشتن یا توقف به منظور حمل کردن، خالی کردن بار یا بالاشدن یا پائین شدن راکبین به حد لازم آن صورت گرفته باشد.

۳- شخصی‌که پل وپلچك راه رو بالای جریان آب را که مردم بر آن حق عبور داشته باشند قطع نموده بجای آن راه رو یا وسیله دیگری برای عبور و مرور مردم نگذارد.

۴- در تمام احوال مندرج این ماده محکمه علاوه بر مصارف رفع موانع به جبران خساره ناشی از آن نیز حکم می نماید.

څلور سوه اواوه نوی یمه ماده:
راتلونکی اشخاص په نقدی جزأ چه ددوه سوو افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږي:
۱- که څوك خپله امتعه په ځایو او وختونو کی چی د صلاحیت لرونکو مقاماتو له خوا منع شوی وی د خرڅولو د پاره عرضه کی مګر دا چه قانون بل ډول حکم کړی وی.
۲- که څوك په عمومی لار کی څاروي یا عرادی وتړی او یایی و دروی یا یی ومینځی او د هغی په اثر په لار کښی ازدحام یا لارویو ته تکلیف پیدا شی.

مادۀ چهارصدو نودوهفتم:
اشخاص آتی به جزای نقدی که از دوصد افغانی تجاوز نکند محکوم می گردند:
۱- شخصی‌که امتعه خود را در مواضع واوقاتی که از طرف مراجع با صلاحیت ممنوع قرار داده شده برای فروش عرضه نماید مگر اینکه قانون طور دیگری حکم کرده باشد.
۲- شخصی‌که در راه عام حیوانات یا عراده جات را بسته یا استاده کند یا بشوید وبه اثر آن در راه عام ازدحام یا به عابرین مزاحمت تولید گردد.

څلور سوه او اته نوی یمه ماده:
که څوك د ترافیکی علامو څخه یوه علامه چی په عمومی لار یا په عمارت نصب ده یا هغه علامی چی د مسافو د تګاکلو یا د ښارونو، لارو یا نورو عمومی ځایونو د ښودنی د پاره نصب دی د شکل تغییر ورکی یا یی خوا ته تغییر ورکی په حبس چی د یوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزأ چی د

مادۀ چهارصدو نودوهشتم:
شخصی‌که علامه از علایم ترافیکی را که در راه عام یا بر بنا نصب گردیده یا علایمی را که به منظور تعیین مسافه‌ها یا رهنمائی به شهرها، راه‌ها یا محلات عام دیگر نصب گردیده تغییر شکل بدهد یا جهت آنرا تغییر دهد به حبسی‌که از یك ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از

پنځه سوه افغانیو څخه تجاوز و نه کی محکومیږی .

څلور سوه او نهه نوی یمه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چه د یوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزاء چه دیو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- هغه شخص چه د اخطار یی یا تنویری علامی په ایښودلو کښی په هغه ځایونو کښې چه په عمومی لاز کښې کنده کنی یا په کښی مالونه وړی، اهمال کی.
۲- هغه شخص چی د پورتنی فقری، اخطاریه یا تنویری علامه د مینځه ویسی.
۳- هغه شخص چی چراغ چه د عمومی لاری یا میدان د روښانه کولو دپاره ورځخه کار اخیستل کیږی مړ، لیری یا تلف کی .

پنځه سوه ومه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چی د یوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزاء چی د یو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږی:
۱- هغه شخص چی په لاره کښی پنج صد افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

مادۀ چهارصدو نودونهم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از یکماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردند:
۱- شخصی‌که در گذاشتن علامۀ اخطاریه یا تنویری در مواضعی‌که در راه عام حفر می کند یا در آن اموال را می گذارد اهمال نماید.
۲- شخصی‌که علامات اخطاریه یا تنویری مندرج فقره فوق را از بین ببرد.
۳- شخصی‌که چراغی را که بمنظور روشن کردن راه یا میدان عام بکار رفته گل، دور یا تلف نماید.

مادۀ پنجصدم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از یکماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که بدون احتیاط لازم

داسی مواد واچوی چی د لارو یو د اذیت باعث شی یا بی له احتیاطه په عمومی یا خاصه لار کښی داسی شیان زورند کی که ولویږی خلکو ته اذیت یا تکلیف تولید وی.

۲- هغه شخص چی بی د لارمی احتیاط څخه جامد یا مایع مواد یا غاز په انسان واچوی که څه هم د هغی په اثر کومه جسمی صدمه و نه رسیږی.

پنځه سوه او یوومه ماده:

که څوک بی د مجاز ځایونو څخه اعلانونه نصب یا زورند کی یا بی له حق اعلانونه د مجاز ځایونو څخه لیری، تلف یا د شکل تغییر ورکی په نقدی جزأ چه دیو زر افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

پنځه سوه او دوه یمه ماده:

راتلونکی اشخاص په حبس چه دلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:

۱- هغه شخص چه په عمومی لار یا میدان کښی بی له احتیاطه او در راه عام موادی را بیندازد که باعث اذیت عابرین گردد یا بدون احتیاط لازم در راه عام یا خاص اشیائی را آویزان کند که اگر بیفتد برای مردم اذیت یا مضایقت تولید کند.

۲- شخصی‌که بدون احتیاط لازم مواد جامد، مایع یا گاز را بر انسان بیندازد گرچه به اثر آن کدام صدمه جسمی عاید نگردد.

مادۀ پنجصدو یکم:

شخصی‌که اعلانات را در غیر از جاهای مجاز نصب یا تعلیق نماید یا بدون حق اعلانات را از جاهای مجاز دور، تلف یا تغییر شکل دهد به جزای نقدی که از هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می گردد.

مادۀ پنجصدو دوم:

اشخاص آتی به حبسی‌که از ده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه صد افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:

۱- شخصی‌که در راه یا میدان های عام بدون احتیاط و بی

بی پروایی د حیوان د سورلی یا د هغـــی د ځغلولـو پـــه وسیـله د خلکو دروحی یا جسمی اذیت سبب شی.

۲- هغه شخص چه دلمر لویدو او لمر ختـو تر منځ په عمومی لارو او میدانونو کښی نقلیه وسیلي بی له دی چه ددواړو خواوو چراغونه یی روښانه کی ودروی یا یی وځغلوی.

دوه یم فصل
قباحتونه چه د خلکو د آرامتیا پوری مربوط دی

پنځه سوه او درېیمه ماده:
هغه شخص ته چه صلاحیت لرونکو مقـامونو د یـوی بنـا چـه لویـدو تـه نږدی ده د ترمیم یا تخریب اخطار ورکـــړی او هغـــه ورځخـــه ځـــان وژغـوری یـا اهمـا ل وکی په نقدی جزاء چه د زرو افغـانیو څخه زیاته نه وی محکومیږي.

پـه دې شـرط چـــه په خاص قـانون کښـــی زیاته شـــدیده جـــزأ نـه وی ټاکل شوی.

پروائـی توسـط سـواری حیـوان یـا دوانـدن آن یـا بـه وسـیله وسـایط نقلیه سبب اذیت روحی یـا جسمی مردم گردد.

۲- شخـصی‌کـه در بـین غـروب و طلوع آفتاب در راه یا میـدان های عـام وسـایط نقلیـه را بـدون روشـن کـــردن چـــراغ هـــر دو طـــرف ایســتاده کـرده یـا آن را بـراند.

فصل دوم
قباحات مربـــــو ط به آسایش عامـــه

مادۀ پنجصد و سوم:
شخصی را که مراجع بـا صـلاحیت بـه ترمـــیم یـــا تخـریـــب بنـــای نـزدیـك به سقـوط اخطـار داده و او از آن امتنـاع یـــا اهمـــال ورزد بـــه جـزای نقـــدی کـــه از هـــزار افغـــانی تـــجاوز نکنـد محکـوم مـی‌گردد.

مشـروط بر این‌که در قانون خـاص جزای سنگیـــن تـــری پیـــش بیـــنی نشده باشد.

پنځه سوه او څلورمه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چه دیوی میاشتی زیات یا نقدی جزاء چه دیو زر افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- هغه شخص چه بی د صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی څخه په داسی ځایونو کښې د اور په لوبو او د هغی په امثالو بوخت شی چه په هغی کښی داور اخیستلو، تلف کیدو او یا ضرر خطر متصور وی.
۲- هغه شخص چه په ښار یا قریه کښی دننه اوربلوونکی وسله، باروت یا نور منفلقه مواد استعمال کی.
۳- هغه شخص چه عمداً د آرن، غالمغال، تخریش کوونکو آوازونو او دهغی په امثالو د نورو د اذیت سبب شي.
۴- هغه شخص چه داسی لیونی چه خلک ورڅخه ویریږی په عمومی لار کښی خوشی کی.
۵- هغه شخص چه دیو حیوان په باره کښی چه په حیازت کښې یی دی یایی مسئولیت په اوږو دی د خطر د مخنیوی یا ممکن ضرر

مادۀ پنجصدو چهارم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از یکماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که بدون اجازه مقامات مربوط در جاهای به آتش بازی و امثال آن بپردازد که در آن خطر حریق، تلف و یا ضرر متصور باشد.
۲- شخصی‌که در داخل شهر یا قریه، اسلحه ناریه یا باروت یا دیگر مواد منفلقه را استعمال نماید.
۳- شخصی‌که عمداً بوسیله هارن، غالمغال، آواز های تخریش کننده وامثال آن سبب اذیت دیگران گردد.
۴- شخصیکه دیوانه را که مردم از او می ترسند در راه عام رها سازد.
۵- شخصی‌که در مورد حیوانی که در حیازت او است یا مسؤلیت آنرا بدوش دارد، احتیاط لازم را از جلوگیری خطر یا ضرر

لازمی احتیاط ونه کی.

درییم فصل
د عمومی صحت پوری مربوط قباحتونه

پنځه سوه او پنځمه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چه دیوی میاشتی زیات نه وی یا نقدی جزأ چه دیو زر افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک د انسان جسد په ښار، قریی یا په داسی ځای او محل کښی چه صلاحیت لرونکی مراجع په هغی کښی د ښخولو اجازه نه وی ورکړی ښخ کی.
۲- که څوک په سیند، نهر، ویالی کوڅی، یا په روانو اوبو کښی چتل مواد چه صحت ته مضر وی واچوی.

پنځه سوه او شپږمه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چه د پنځلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزاء چه د پنځه سوه افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که څوک په سرک، عمومی لار، میدان یا په عمومي تفریح ځای ممکنه اتخاذ ننماید.

فصل سوم
قباحات مربوط به صحت عامه

مادۀ پنجصدو پنجم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از یکماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که جسد انسان را در شهر، قریه یا در جای ومحلی‌که مراجع با صلاحیت اجازه دفن را در آن نه داده باشد دفن نماید.
۲- شخصی‌که در دریا، نهر، جوی، کوچه، یا درآب جاری مواد کثیفه را که به صحت مضر باشد بیندازد.

مادۀ پنجصدو ششم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از پانزده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از پنجصد افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که در سرك، راه عام، میدان یا تفریح گاه عمومی مواد

کښی ګنده شوی مواد، کثافتونه، جارو شوی خاوری، چټلی اوبه او نور چه صحت ته مضر وی واچوی.

۲- که څوک په عمدی توګه یا په اهمال بخار، دود، چټلی اوبه، یا نور مواد چه دضرر د اذیت یا د خلکو د چټلیدو سبب شی خوشی کی.

۳- که څوک ددود کش، تنور یا نورو دستګاوو په اصلاح کولو او نظافت کښې چه په کښی اور استعمالیږي اهمال وکی.

گندیده کثافات، خاك روبه، آب کثیف وغیره اشیای را که به صحت مضر باشد بیندازد.

۲- شخصی‌که عمداً یا به اهمال بخار، دود، آب کثیف یا مواد دیگری‌که سبب ضرر، اذیت یا آلوده شدن مردم گردد رها نماید.

۳- شخصی‌که در نظافت یا اصلاح دودکش، تنور یا دستگاه هائی‌که آتش در آن استعمال می‌شود اهمال نماید.

پنځه سوه او اوومه ماده:

هغه شخص چه د طبابت یا صحی کار او کسب لری او د معاینو یا تداوی په وخت کښی د مړی یا زخمی په بدن داسی زخمونه مشاهده کی چه د جرم په نتیجه کښی ورته رسیدلي یا قرائن په داسی ډول وی چه د جرم اشتباه پیداکی، نو چه صلاحیت لرونکی مقامونه خبر نه کی په حبس چه ددری میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

مادهٔ پنجصدو هفتم:

شخصی‌که پیشه طبابت یا صحی را دارد ودر اثنای معاینات یا تداوی در بدن مرده یا مجروح زخمهای را مشاهده کند که در نتیجه جرم به او رسیده یا قرائن طوری باشد که اشتباه جرم را بار آورد، مقامات باصلاحیت را اطلاع ندهد، به حبسی‌که از سه ماه بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

څلورم فصل
داملاکو، مالونو او حیواناتو پوری مربوط قباحتونه

پنځه سوه او اتمه ماده:
راتلونکی اشخاص په حبس چه دلس ورځو څخه زیات یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو تجاوز ونه کی محکومیږي:
۱- که شخص ناحقه د کرهنی یاکرلو د پاره په تیاره شوی ځمکه کښی یا په کرهنه کښی چه نه وی لوشوی، د حیواناتو سره یا بی له هغی تیر شی.
۲- که څوک ناحقه په ځمکه یا باغ کښی رمه یا نور حیوانات وځروی یا پریږدی چه په کی وځریږي.
۳- که څوک تیږه یا نور سخت مواد یا کثافات په نقلیه وسیلو، کور، بنأ، باغ یا د بل د ملکیت په احاطه کښی گذار کی.
۴- که څوک په نهر، ویالی، حوض یا په نورو روانو اوبو کښی ادوات یا نور داسی شیان چه د هغی په وسیله د خلکو لمبا اخلال یا داوبو مجری تنگه شی واچوی.

فصل چهارم
قباحات مربو ط به املاك ، اموال وحیوانات

مادۀ پنجصدو هشتم:
اشخاص آتی به حبسی‌که از ده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه صد افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردند:
۱- شخصی‌که بدون حق در زمین آماده شده برای زراعت، یا کشت شده یا در زراعت درو ناشده یا حیوان یا بدون آن از آن عبور کند.
۲- شخصی‌که بدون حق در زمین یا باغ رمه یا حیوانات دیگر را بچراند یا بگذارد که در آن بچرد.
۳- شخصی‌که سنگ یا مواد سخت دیگر یا کثافات را به وسایط نقلیۀ خانه، بنأ، باغ یا احاطه ملك غیر پرتاب نماید.
۴- شخصی‌که در نهر، جوی، حوض ویا در دیگر مجاری آب ادوات یا اشیای که بوسیله آن آب بازی اشخاص اخلال گردد یا مجاری آب تنگ شود بیندازد.

پنځه سوه او نهمه ماده:
که څوک په خطا د غیر د ملکیت حیوان مړ یا زخمی کی په لنډ حبس چه دلس ورځو زیات نه وی یا نقدی جزأ چه ددری سووافغانیو څخه تجاوز و نه کی محکومیږي.

پنځه سوه اولسمه ماده:
۱- که څوک اهلی یا الفت نیوونکی حیوان په بی رحمی مثله یا تعذیب کی یا په بله وسیله ورسره بده معامله وکی په لنډ حبس چه ددری میاشتو زیات نه وی یا نقدی جزاء چه ددری زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.
۲- که څوک د سورلی یا بار وړونکی حیوان د طاقته پورته بارکی یا مریض ، زخمی یا معلول حیوان چه د کار طاقت نه لری په کار واچوی دپورتنی فقری په عین تاکل شوی جزاء محکومیږي.

مادۀ پنجصدونهم:
شخصی‌که به سبب خطا حیوان ملکیت غیر را بکشد یا جرح نماید به حبس قصیری‌که از ده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از سه صد افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.

مادۀ پنجصدو دهم:
۱- شخصی‌که حیوان اهلی یا الفت گیرنده را بیرحمانه تعذیب یا مثله نماید یا به وسیله دیگر با آن معامله سوء نماید ، به حبس قصیریکه از سه ماه بیشتر نباشد یا جزای نقد ی که از سه هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می‌گردد.
۲- شخصی‌که حیوان سواری یا بارکش را فوق طاقت بار نماید یا حیوان مریض، زخمی یا معیوب را که طاقت کار را نداشته باشد بکار اندازد بعین جزای پیش بینی شده فقرۀ فوق محکوم می‌گردد.

پنځم فصل
دعمومی ادبونو پوری مربوط قباحتونه

پنځه سوه او یوولسمه ماده:
که څوک په بنار، قریی یا کلی کښی د حیا څخه منافی غسل وکی یا په عام محل کښی په لوخ ځان د ادب څخه منافی ظاهر شی په حبس چه د لس ورځو زیات نه وی یا نقدی جزاء چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

پنځه سوه او دوولسمه ماده:
که څوک په عمومی محلونو کښی د آدابو څخه د منافی قصد یا هدف په منظور ترصد وکی په حبس چه دلس ورځو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه د سل افغانیو څخه تجاوز ونه کی محکومیږي.

فصل پنجم
قباحات مربوط به آداب عامه

مادۀ پنجصدو یازدهم:
شخصی‌که در شهر، قریه یا ده بصورت منافی حیا غسل نماید یا در محل عام در حالت عریان منافی ادب ظاهر گردد، به حبسیکه از ده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از صد افغانی تجاوز نکند، محکوم می گردد.

مادۀ پنجصدو دوازدهم:
شخصی‌که در محلات عمومی به قصد یا هدف منافی آداب ترصد نماید به حبسی‌که از ده روز بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از صد افغانی تجاوز نکند، محکوم می گردد.

شپږم فصل
دهوټلونو دمنتظمینو پوری مربوط قباحتونه

پنځه سوه او دیارلسمه ماده:
کـــه دهوټـــل ، میلمـــستونو، مـسافرخانو یـا غرفـو چـه د شـپې دتیریدو په منظور جوړی او آمـاده شـوی وی د خاونـدانو څخـه یـو او دنـورو تورسـتیکی مؤسـسو اداره کوونکی دمسافرینو یا د ذکر شوو ځـــایونو داوســـیدونکو هویـــت دمربوطو مقرراتو سره سم دثبتولو مراعـات ونـه کـی یـا پـــه کـښـی اهـمال وکـی پـه حـبس چـــه ددری مـــیاشتو زیـات نـــه وی یـا نـــقدی جزأ چـه ددری زرو افغانـیو څخـه تجـاوز ونه کی محکومیږي.

اووم فصل
متفرقه حکمونه

پنځه سوه څوارلسمه ماده:
۱- کـه څـوک د کیمیـاوی مخـدره مـوادو د مـشتقاتو څخـه چـه دیـو شخص دعقلي یا ذهني یوی ملکي

فصل ششم
قبـاحات مربـوط به منتظمین هوتلها

مادۀ پنجصدو سیزدهم:
هرگـاه یکـی از صـاحبان هوتـل، مهمان خانه، مسافر خانه یـا غرفـه هـــا ی کـــه بـــه منظـــور شـــب گـذشتاندن اشخاص تهیه وآمـاده شـــده باشـــد وســـایر تأسیـــسات تورستیك در ثبت هویت مسافریـن یا ساکنین امـاکن مذکور طـــبق مقـررات مربـوط رعایـت ننمایـد ویـــــا در آن اهـــمال ورزد ، بـــه حبسیکه از سه ماه بیشتر نبـاشـد یـا جـزای نقد یکه از سه هـزار افـغانی تجـــاوز نکـند محکـوم می گردد.

فصل هفتم
احکام متفرقه

مادۀ پنجصدو چهاردهم:
۱- شخصی‌کـه یکی از مـشتقات مواد کیمیاوی مخدره را کـه زایـل کننـده یکـی از ملکـات عقلـی یـا

زایلیدونکی ګرځیدلي وي او استعمال یي د چټک اعتیاد او دصعب العلاج مرض دایجاد سبب شي، استعمال کي د مخدره نیشه یي موادو پوری د مربوطو حکمونو سره سم مجازات کیږي.

۲- د پورتنی فقری ددرج شوو موادو واردول، ساتنه، خرڅول، خرڅولو ته عرضه کول، انتقال یا رواجول جنایت دی ارتکاب کوونکی یي په اوږده حبس محکومیږي.

ذهنی شخص گردیده و استعمال آن سبب اعتیاد سریعانه و ایجاد مرض صعب العلاج گردد استعمال نماید طبق احکام مربوط به استعمال مواد مخدره و مسکره مجازات می‌گردد.

۲- تورید، نگهداشت، فروش، عرضه به فروش، انتقال و یا ترویج مواد مندرج فقره فوق جنایت بوده مرتکب به حبس طویل محکوم می‌گردد.

پنځه سوه او پنځلسمه ماده:

۱- که یو شخص نور په تهدید، عنف یا په هره بله وسیله چه وي برمته کی په اوږده حبس محکومیږي.

۲- که په برمته نیولی شوی شخص زخمی، معلول یا ووژل شی ارتکاب کوونکی د اصلی جرم په تاکلی جزاء محکومیږي.

په دې شرط چه ددې مادې د پورتنی فقری ددرج شوی جزأ څخه کمه نه وی.

۳- که ارتکاب کوونکی ددې مادې د (۱) فقری ددرج شوی جرم

مادۀ پنجصدو پانزدهم:

۱- هرگاه شخص دیگران را به تهدید، عنف ویا بهر وسیله از وسایل دیگر گروگان بگیرد به حبس طویل محکوم می گردد.

۲- اگر شخص گروگان گرفته شده مجروح، معلول یا مقتول گردد مرتکب به جزای پیش بینی شده اصل جرم محکوم می گردد.

مشروط بر اینکه از جزای مندرج فقرۀ فوق کمتر نباشد.

۳- اگر مرتکب باثر ارتکاب جرم مندرج فقره (۱) این ماده پول یا

په اثر پیسی یا ګټه تر لاسه کی دعین مال په ورکولو یا د هغی د مثل په قیمت هم محکومیږي.

پنځه سوه او شپاړسمه ماده:
که څوک د خلکو دکار قوه په فریب یا حیلی استثمار کی یا یی خرڅه کی یا دیو خارجی خوا سره د هغوی د کار په قوه معامله وکی دخساری په جبران علاوه په اوږده حبس محکومیږي.

پنځه سوه او اووه لسمه ماده:
۱- که څوک کونډه ښځه یا نجلی چه د اتلس کلنی عمر یی پوره کړی دهغی درضا او رغبت په خلاف میړه ته ورکی دحالونو سره سم په لنډ حبس محکومیږي.
۲- که دپورتنی فقری درج شوی جرم د بدو ورکولو په شکل وی ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی محکومیږي.
۳- ددې مادی د (۱-۲) فقرو ددرج شوو جرمونو په باره کښې جزائی دعوی هغه وخت اقامه منفعتی را بدست آورده باشد برد عین مال یا قیمت مثل آن نیز محکوم می‌گردد.

مادۀ پنجصدو شانزدهم:
شخصی‌که نیروی کار مردم را به فریب یا حیله استثمار نماید یا بفروش رساند ویا به یکی از جهات خارجی نیروی کار آنها را مورد معامله قرار دهد، علاوه بر جبران خساره به حبس طویل محکوم می‌گردد.

مادۀ پنجصدو هفدهم:
۱- شخصی‌که زن بیوه یا دختری را که سن هجده سالگی را تکمیل نموده باشد به خلاف رضا ورغبت وی به شوهر دهد حسب احوال به حبس قصیر محکوم می‌گردد.
۲- اگر جرم مندرج فقره فوق به شکل بد دادن باشد مرتکب به حبس متوسط که از دوسال بیشتر نباشد محکوم می گردد.
۳- دعوی جزائی در موردجرایم مندرج فقرات (۱-۲) این ماده وقتی اقامه شده

کیدی شی چه مجنی علیها شکایت وکی.

می تواند که مجنی علیها شکایت نماید.

پنځه سوه او اتلسمه ماده:
که څوک عمداً برق، ګاز، اوبه، معدنی پیداوار یا د ځنګلو ونی د صلاحیت لرونکو مقامونو د اجازی په غیر د خپل ځان کې یا په کښی مالکانه تصرف وکی د هغه دا عمل دغلا په حکم کښی دی ارتکاب کوونکی علاوه د مال یاد هغی دمثل د قیمت په ورکولو په حبس چه ددوه کلونو څخه زیات نه وی یا نقدی جزأ چه څلیر ویشتو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کي محکومیږي.

مادهٔ پنجصدو هجدهم:
شخصی‌که عمداً برق، گاز، آب، پیداوار معادن ویا اشجار جنگلات را بدون استیذان مقامات صلاحیتدار تصاحب یا تصرف مالکانه نماید این عمل وی در حکم سرقت بوده مرتکب علاوه بر رد مال یا قیمت مثل آن به حبسی‌که از دو سال بیشتر نباشد یا جزای نقدی که از بیست و چهار هزار افغانی تجاوز نکند محکوم می گردد.

پنځه سوه او نولسمه ماده:
که څوک لقطه یا ورک شوی مال په لاس راوړی یا یی پیداکی بی د معقول عذر څخه دیوی هفتی په موده کښی د محل نږدی اداری ته یا د مال خاوند ته چه تشخیص شی تسلیم نه کی علاوه له دی چه د مکافات څخه محرومیږي په نقدي جزاء چه دري سوه افغانیو څخه زیاته نه وي

مادهٔ پنجصدو نزدهم:
شخصی‌که مال لقطه ویا مال مفقود را دستیاب یا دریافت نماید بدون عذر موجه ودرظرف یك هفته آنرا جهت تسلیم دهی به نزدیکترین اداره محل ویا به صاحب مال در صورتی‌که تشخیص شود تسلیم ندهد ،علاوه بر محرومیت از مکافات به جزای نقدی که از سه صد افغانی بیشتر

محکومیږي.

پنځه سوه او شلمه ماده:

۱- کـه څـوک دخاصـو مقرراتـو د حکمونـو څخـه چـه دیـوی اداری، امنیتـی، ښـاروالی او ترافیکـي مرجع له خوا ددې قانون د حکمونو سره سم وضع او نافذ شوی وی ځان وژغـوری د ټاکـل شـوی جـزأ پـه ورکولـو پـه هغـه ترتیـب چه پـه ذکـر شـوو مقرراتـو کـښی تنظـیم شـوی مکلـف دی پـه دی شـرط چـه پـه مقرراتو کښی ټاکل شوی جزأ ددې قـانون د (۲۶) مـادی ددرج شـوی قباحت د اکثری نـقدی اندازی جزأ څخه تجاوز ونه کی.

۲- کـه پـه خاصـو مقرراتـو کـښی د هغـی د حکمونـو څخـه د تخلـف د پاره جزأ نه وی ټاکل شـوی متخلف په نقدی جزأ چـه ددوه سوه افغانیو څخه زیاته نه وی مکلف دی.

۳- خـاص مقـررات پـه هـیڅ صورت بی لـه نقـدی جزأ چه ددې مـادی پـه (۱) فقـری پـه حـدودو کـښی ذکـر شـوی بلـه جزأ نـه شـی ټاکلي.

نباشد محکوم می‌گردد.

مادۀ پنجصدو بیستم:

۱- شخصی‌که از احکام مقررات خاصی‌که از طرف یکی از مراجع اداری، امنیتـی، شـاروالی هـا و ترافیـك مطـابق بـه احکـام قـانون وضـع ونافـذ گردیـده باشـد تخلـف ورزد، بـه تادیـه جزای نقدی پیش بینی شده به ترتیبی‌که در مقررات مربوطـه تنظـیم شـده مکلـف مـی گـردد. مـشروط بـر ایـن‌کـه جـزای پیش بینی شده در مقررات از حد اکثـر جزای نقـدی قباحت منـدرج مـاده (۲۶) ایـن قـانون تجـاوز ننماید.

۲- اگـر در مقـررات خـاص جـزای برای تخلف از احکام آن پیش بینی نـشده باشـد متخـلف بـه جزای نقـدی کـه از دو صـد افغـانی تجاوز نکند مکلف می‌گردد.

۳- مقـررات خـاص بـه هـیچ وجـه بجـز از جـزای نقـدی در حدودیکـه در فقره (۱) ایـن مـاده تـذکر یافتـه است جزای دیگری را پـیش بینـی نموده نمی‌تواند.

پنځه سوه او یوویشتمه ماده:
په هغه موارد و کښې چه خاصو قوانینو جزائي حکمونه تنظیم کړی وی ارتکاب کوونکی دخاصو قوانینو ددرج شوو حکمونو سره سم مجازات کیږي. مګر په هغه حالونو کښې چه دې قانون د هغی په خلاف تصریح کړی وی.

مادهٔ پنجصدو بیست ویکم:
در مواردی‌که قوانین خاص احکام جزائی را تنظیم کرده باشد مرتکیبین مطابق به احکام مندرج قوانین خاص مجازات می‌گردند. مگر در احوالیکه این قانون بخلاف آن تصریح کرده باشد.

پنځه سوه او دوه ویشتمه ماده:
ددې قانون دنافذیدو سره سم د مامورینو دجرایمو او دعامو ګټو او امنیت په خلاف د جرایمو دجزا د اصولنامی درج شوی حکمونه چه د ۱۳۴۱ کال دلیندی د میاشتی په شپږ ویشتمه نیټه خپره شوی او د رشوت د مجازات د تعقیب قانون چه د ۱۳۵۱ کال د کب دمیاشتي په پنځلسمه نیټه خپور شوی او دجزائی قوانینو د حکمونو څخه هر حکم چه صراحتاً یا دلالتاً ددې قانون دیوه حکم داحکامو سره مناقض وي ملغي پیژندل کیږي. د عسکري جزا قانون ددې حکم څخه مستثنی دی.

مادهٔ پنجصدو بیست ودوم:
با انفاذ این قانون احکام مندرج قانون جزای جرایم مامورین و جرایم علیه امنیت ومنفعت عامه مورخه (۲۶) قوس ۱۳۴۱ هـ.ش وقانون تعقیب و مجازات رشوت (۱۵) حوت سال ۱۳۵۱ و هر حکم از احکام قوانیني جزائی ایکه صراحتاً یا دلالتاً مناقض با حکمی از احکام این قانون باشد ملغی شناخته می‌شود. قانون جزای عسکری ازین حکم مستثنی می باشد.

پنځه سوه اودر ویشتمه ماده:
دا قانون (۳۰) ورځی وروسته په رسمي جریده کښې دخپریدو څخه نافذ یږي.

مادهٔ پنجصدو بیست وسوم:
این قانون (۳۰) روز بعداز نشر در جریده رسمی نافذ می‌گردد.

تعدیلات قانون جزا

دجمهوري رياست مقام
د۱۳۵۶کال دمرغومي
دمياشتي دنهه ويشتمي
نيټي (۲۰۰۷) ګڼه فرمان

ښاغلي محترم عدليه وزير!
دوزيرانو مجلس د (۵۵۱) پريکړي لاندي د۱۳۵۶/۱۰/۲۷ نيټي په غونډې کې دعدليي دوزارت د(۴۴۱۴) ګڼي، د۱۳۵۶/۱۰/۲۶ نيټي عرض پاڼي ته په کتلوسره لاندني مراتب تصويب کړل:
«دمدني قانون يوه لمبر ضميمه په څلورو فقروکي دننه اودجزاء د قانون يوه لمبر ضميمه په اووفقروکي دننه چې په پيشنهاد کي درج شوي او ددارالانشاء مهر پرلګيدلي دي منظور ده.»

جمهور رئيس محمد داود

فرمان شماره (۲۰۰۷)
مؤرخ بيست ونهم جدی
سال ۱۳۵۶ مقام
رياست جمهوری

شاغلی محترم وزير عدليه!
مجلس وزراء تحت فيصله شماره (۵۵۱) درجلسهٔ تاريخی ۱۳۵۶/۱۰/۲۷ باملاحظهٔ ورقهٔ عرض شماره (۴۴۱۴) مؤرخ ۱۳۵۶/۱۰/۲۶ وزارت عدليه مراتب آتی را تصويب نمود:
«ضميمهٔ نمبر يک قانون مدنی بداخل چهار فقره وضميمهٔ نمبر يک قانون جزاء بداخل هفت فقرهٔ مندرج پيشنهاد که به مهر دارالانشاء رسيده منظور است.»

محمد داود رئيس جمهور

دجزاء د قانون یوه لمبر ضمیمه

۱- د(۳۱۴) مادی تعدیل:
«کـه ددی قـانون د (۳۱۳) مـادی د درج شوو جرمونو ارتکاب کوونکی دعمومی خدمتونو موظف نه وی د حالونو سره سم په لنډ یا متوسط بند محکومیږی.»

۲- د (۳۱۶) مادی تعدیل:
«۱- که څوك ددی قـانون د (۳۱۳) مادی د (۱) فقری درج شوی تزویر شـوی پـانی او د (۳۱۴) او (۳۱۵) مـادو درج شـوی تزویـر شـوی پـانی سره ددی چـه پـه تزویـر علـم ولـری استعمال کی د حالونو سره سم په متوسط یا اوږده بند محکومیږی.»
۲- کـه څـوك ددی قـانون د (۳۱۳) مادی د (۲) فقری تزویر شوی پـانی سره ددی چه دهغی پـه تزویـر علـم ولـری اسـتعمال کـی د حـالونو سره سـم پـه لنـډ یـا متوسـط بنـد محکومیږی. »

۳- د (۳۱۹) مادی تعدیل:
«د جـزاء د قـانون د (۳۱۹) مـادی (۲) فقـره دی حـذف شـی او د (۱)

ضمیمهٔ نمبر یك قانون جزاء

۱- تعدیل مادهٔ (۳۱۴):
«هرگاه مرتکب جرایم منـدرج مـادهٔ (۳۱۳) این قانون مؤظف خدمات عامه نباشد حسب احوال به حبس قـصیر یـا متوسـط مـحکوم می‌گردد.»

۲- تعدیل مادهٔ(۳۱۶):
«۱- شخصی‌که اوراق تزویـر شـدهٔ منـدرج فقـرهٔ (۱) مـادهٔ (۳۱۳) و اوراق تزویـر شـدهٔ منـدرج مـواد (۳۱۴ و ۳۱۵) ایـن قـانون را بـا وجود علم به تزویر استعمال نماید حسب احـوال به حبس متوسط یـا طویل محکوم می‌گردد. »
۲- شخـصی‌کـه اوراق تزویـر شـدهٔ فقرهٔ (۲) مادهٔ (۳۱۳) این قانون را بـا وجـود علـم بـه تزویـر آن اسـتعمال نـماید حسب احـوال به حبس قصیر یا متوسط محکوم می‌گردد.»

۳- تعدیل مادهٔ (۳۱۹):
«فـقرهٔ (۲) مـادهٔ (۳۱۹) قـانون جـزاء حـذف شـود و

فقری درج شوی حکمونه دی د ذکر شوی مادی د پوره متن په حیث د ذکر شوی فقری د حذف سره، وپیژندل شی. »

احکام مندرج فقرهٔ (۱) بحیث متن کامل مادهٔ متذکره با حذف فقرهٔ مذکور شناخته شود.»

۴- د (۳۲۱) مادی تعدیل:
«که څوك ددی قانون د (۳۱۹) او (۳۲۰) مادو درج شوی تزویر شوی تصدیق سره ددی چه د هغی په تزویر علم ولری، استعمال کی په داسی توګه چه هغه محکمی یا د دولت یو واك لرونکی مقام ته وړاندی کی عیناً د ذکر شوو مادو په پیشبینی شو و جزا ګانو محکومیږی.»

۴- تعدیل مادهٔ (۳۲۱):
«شخصی که تصدیق مزورمندرج مواد (۳۱۹ و ۳۲۰) این قانون را با وجود علم به تزویر آن استعمال نماید طوری که آنرا به محکمه یا یکی از مقامات با صلاحیت دولت تقدیم نماید به عین جزای پیش بینی شده مواد متذکره محکوم می گردد.»

۵- د (۳۴۶) مادی تعدیل:
«د هر نوع منع کړه شوو شیانو په واردولو او صادرولو پوری د مربوطو جرمونو غور د قاچاق دانسداد د قانون د حکمونو تابع دی او ارتکاب کوونکی د حالونو سره سم د ذکر شوی قانون په پیشبینی شوی جزاء محکومیږی.»

۵- تعدیل مادهٔ (۳۴۶):
«رسیدگی به جرایم مربوط به ورود و صدور هر نوع اشیای ممنوعه تابع احکام قانون انسداد قاچاق بوده و مرتکب حسب احوال به مجازات پیش بینی شدهٔ قانون مذکور محکوم می گردد.»

۶- د (۴۲۷) مادی تعدیل:

«کـه څـوك د مـؤنثی سـره زنـا یـا لواطت او یـا د نارینـه سره لواطت وکی،زنا کوونکی او زنا کړه شوی، لواطـت کـوونکی او لواطـت کـړه شوی هر یـو د حالونو سره سم په متوسـط او یـا پـه اوږده بنـد محکومیږی.»

۶- تعدیل مادۀ (۴۲۷):

«شخـصی‌کـه بـا مؤنـث زنـا و یـا لـواط و یـا بـا مـذکر لـواط نمایـد زانـی و زانیـه لایـط و ملـوط هـر واحـد حسب احـوال بـه حبس متوسط و یـا حـبس طـویـل محکـوم می‌گردد.»

۷- د (۴۹۴) مـادی دلمـړی فقری تعدیل:

(د جزاء د قـانون د (۴۹۴) مـادی د (۱) فقری په آخر کښی دی (یا ددی دواړو جزاء ګانو څخه په یوی) جمله حذف شی.)

۷- تعـدیل فقـرۀ اول مـادۀ (۴۹۴):

(در فقـرۀ (۱) مـادۀ ۴۹۴ قـانون جزاء جمله (یا بـه یکی از ایـن دو جزاء) در اخیـر فقرۀ مذکور حذف شود.)

داضـمیمه پـه رسمی جریـدی کـښی دخپریدو وروسته نافذیږی.

ایـن ضـمیمه بعـد نـشر در جریـدۀ رسمی نافذ می‌گردد.

(دجزاء دقـانون یـوه لمبرضـمیمه د ۱۳۵۶ کال دسلواغی پـه دیرشـمه نیټـه پـه (۳۹۱) ګڼه رسمي جریـده کـــي خپـــره شـــوي ده.)

(ضـمیمۀ نـمبر (۱) قـانون جـزاء در جـریدۀ رسـمی شـماره (۳۹۱) مـؤرخ ۱۳۵۶/۱۱/۳۰ نـشر گـردیده اسـت.)

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیسه هیأت فرمان

د جزاء د قانون د دوهمی ګڼی ضمیمی په هکله

دکابل ښار
۱۳۶۰/۹/۱۸

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی سره سم د انقلابی شورا رئیسه هیأت په لاندی ډول تصویب کوی:

لومړی ماده:
د جزاء د قانون (۹۳) ماده دی په لاندی ډول تعدیل شی:
هغه شخص چی د جرم د ارتکاب په وخت کی یی د اتلس کلنی عمر بشپړ کړی وی په اعدام محکوم کیدلای شی.

دوهمه ماده:
دغه ضمیمه د تصویب له نیټی نه نافذه ده او په رسمی جریده کی

فرمان هیأت رئیسهٔ شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان

در بارهٔ ضمیمهٔ نمبر (۲) قانون جزاء

شهر کابل
۱۳۶۰/۹/۱۸

مطابق به مادهٔ (۴۴) اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان هیأت رئیسهٔ شورای انقلابی ذیلاً تصویب می‌دارد:

مادهٔ اول:
مادهٔ (۹۳) قانون جزاء قرار ذیل تعدیل گردد:
شخصی‌که هنگام ارتکاب جرم سن هجده سالگی را تکمیل کرده باشد محکوم به اعدام شده می تواند.

مادهٔ دوم:
این ضمیمه از تاریخ تصویب نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر

خپریږی.

ببرک کارمل
د افغانستان دموکراتیک
جمهوریت دانقلابي شورا د رئیسه
هیأت صدر

(دجزاء دقانون دوهمه ګڼه ضمیمه د ۱۳۶۰ هـ.ش کال دمرغومی په لومړی نیټه، (۴۹۸) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)

می گردد.

ببرک کارمل
صدرهیأت رئیسهٔ شورای
انقلابی جمهوری دموکراتیک
افغانستان

(ضمیمهٔ نمبر دوم قانون جزاء در جریدهٔ رسمی شماره (۴۹۸) ۱۳۶۰/۱۰/۱ نشر گردیده است.)

د جزاء د قانون د درېیمی ګڼی ضمیمی په هکله

د کابل ښار
۱۳۶۲/۹/۲۳

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی د حکم په اساس تصویبوی:

لومړی ماده:

د جزاء د قانون (۹۸) ماده دی په لاندی ډول تعدیل شی:

اعدام عبارت دی د محکوم علیه له تیر باران څخه د مړینی تر وخته.

دوهمه ماده:

دغه ضمیمه د تصویب له نیټی څخه نافذه او په رسمی جریده کی خپریږی.

در بارهٔ ضمیمهٔ شماره سوم قانون جزاء

شهر کابل
۱۳۶۲/۹/۲۳

هیأت رئیسهٔ شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان بتأسی از حکم مادهٔ (۴۴) اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان تصویب می‌دارد:

مادهٔ اول:

مادهٔ (۹۸) قانون جزا قرار ذیل تعدیل گردد:

اعدام عبارت است از تیر باران محکوم علیه تا وقت مرگ.

مادهٔ دوم:

این ضمیمه از تاریخ تصویب نافذ و در جریده رسمی نشر می‌گردد.

ببرک کارمل
د افغانستان ددموکراتیک
جمهوریت دانقلابي شورا د رئیسه
هیأت صدر

(دجزاء د قانون درېیمه ګڼه ضمیمه
د ۱۳۶۲ هـ. ش کال دمرغومی د
۱۵ نیټي په (۵۴۷) ګڼه رسمی
جریده کې خپره شوی ده.)

ببرک کارمل
صدرهیأت رئیسهٔ شورای
انقلابی جمهوری دموکراتیک
افغانستان

(ضمیمهٔ شماره سوم قانون
جزاء درجریدهٔ رسمی شماره
(۵۴۷) مؤرخ ۱۳۶۲/۱۰/۱۵
نشر گردیده است)

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت

د انقلابي شورا د رئیسه هیأت فرمان

کابل ښار

ګڼه: ۱۲۸
نیټه: ۱۳۶۶/۴/۲۰

د اختلاس، بډه اخیستلو او قاچاقو د جرمونو د مجازاتو د سختولو په هکله

دافغانستان دموکراتیك جمهوریت د انقلابی شورا رئیسه هیأت د دولتی او عامه شتمنیو داختلاس، بډه اخیستنی او قاچاق د جرمونو د مجازاتو د سختولو په منظور د افغانستان دموکراتیك جمهوریت د اساسی اصولو د (۴۴) مادی د حکم پر اساس تصویبوی:

لومړی ماده:
د جزاء د قانون په (۱۴۸) ماده کی شپږمه فقره دی په لاندی ډول

فرمان هیأت رئیسهٔ شورای انقلابی

جمهوری دموکراتیک افغانستان

شهر کابل

شماره: ۱۲۸
تاریخ: ۱۳۶۶/۴/۲۰

در مورد تشدید مجازات جرایم اختلاس، رشوت و قاچاق

هیأت رئیسهٔ شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغانستان بمنظور تشدید مجازات جرایم اختلاس اموال دولتی و عامه، رشوت و قاچاق بتأسی از حکم مادهٔ (۴۴) اصول اساسی جمهوری دموکراتیك افغانستان تصویب می‌دارد:

مادهٔ اول:
در مادهٔ (۱۴۸) قانون جزاء فقرهٔ شش ذیلاً ایزاد

ورزیاته شی:
۶- په هغه صورت کی چی د دولتی او عامه شتمنیو اختلاس له یو ملیون افغانیو څخه په زیاتو پیسو او همدغه راز بډه اخیستنه له سل زره افغانیو څخه زیاتره د عامه خدماتو د دنده لرونکی په واسطه صورت نیولی وی.

څلورمه ماده:
دا فرمان دتصویب له نیټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شی.

حاجي محمد څمکنی
د افغانستان د دموکراتیک
جمهوریت د انقلابي شورا درئیسه
هیأت دصدر دمقام سرپرست

(پورتنی فرمان د ۱۳۶۶ هـ. ش کال دوږی دمیاشتی په پنځلسمه نیټه (۶۴۶) ګڼه رسمی جریده کې خپور شوی دی.)

می‌گردد:
۶- در صورتی‌که اختلاس اموال دولتی و عامه به مبلغ زیاد تر از یک ملیون افغانی و همچنان رشوت زیاد تر از یکصد هزار افغانی توسط مؤظف خدمات عامه صورت گرفته باشد.

مادۀ چهارم:
این فرمان ازتاریخ تصویب نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حاجی محمد څمکنی
سرپرست مقام صدرهیأت
رئیسۀ شورای انقلابی
جمهوری دموکراتیک افغانستان

(فرمان فوق درجریدۀ رسمی شماره (۶۴۶) مؤرخ ۱۳۶۶/۶/۱۵ نشر گردیده است.)

د افغانستان جمهوریت دجمهور رئیس فرمان

ګڼه: ۱۳۲۰
نېټه: ۱۳۷۰/۱۰/۲۴

د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید دقانون په هکله دتقنیني فرمان دتوشیح په باب

د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادي دحکم پر اساس د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید د قانون په باب د وزیرانو شوري د ۱۳۷۰/۱۰/۹ نېټې (۷۵) ګڼه تقنیني فرمان په (۳) مادوکې توشیح کوم.

د وزیرانو شوري مکلفه ده دغه فرمان او نومورې قانون دملی شوري لومړنی اجلاس ته د منظوری لپاره وړاندی کړی.

دغه فرمان له نومورې تقنیني فرمان او قانون سره په رسمی جریده کې دخپرولو له پاره د افغانستان جمهوریت دعدلیي

فرمان رئیس جمهور جمهوری افغانستان

شماره: ۱۳۲۰
تاریخ: ۱۳۷۰/۱۰/۲۴

در بارهٔ توشیح فرمان تقنینی در مورد قانون تحدید حکم اعدام در جمهوری افغانستان

به تأسی ازحکم مادهٔ (۱۰۴) قانون اساسی ج .ا فرمان تقنینی شماره (۷۵) مؤرخ ۱۳۷۰/۱۰/۹ شورای وزیران را پیرامون قانون تحدید حکم اعدام در جمهوری افغانستان. به داخل (۳) ماده توشیح می‌دارم.

شورای وزیران مؤظف است فرمان و قانون متذکره را در اولین اجلاس شورای ملی جهت منظوری ارائه نماید.

این فرمان همراه بافرمان تقنینی و قانون متذکره جهت نشر در جریدهٔ رسمی به وزارت عدلیه ج.ا گسیل

وزارت ته دې واستول شی.

گردد.

نجیب الله
د افغانستان جمهور رئیس

نجیب الله
رئیس جمهور افغانستان

د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري تقنیني فرمان

ګڼه: ۷۵
نیټه: ۱۳۷۰/۱۰/۹

د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید دقانون په هکله

۱- د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم پر بنسټ د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید قانون وضع کیږي.
۲- دغه فرمان د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم له مخې توشیح له پاره د جمهوري ریاست مقام ته دې وړاندی شی.

فضل الحق خالقیار
صدراعظم

فرمان تقنینی شورای وزیران جمهوری افغانستان

شماره: ۷۵
تاریخ: ۱۳۷۰/۱۰/۹

درمورد قانون تحدید حکم اعدام درجمهوری افغانستان

۱-به تأسی ازحکم مادۀ (۱۰۴) قانون اساسی ج . ۱ قانون تحدید حکم اعدام در جمهوری افغانستان وضع می‌گردد.
۲-این فرمان برطبق حکم مادۀ (۱۰۴) قانون اساسی ج . ا جهت توشیح به مقام ریاست جمهوری ارایه گردد.

فضل الحق خالقیار
صدراعظم

د افغانستان په جمهوریت کې داعدام دحکم دتحدید په باب قانون

دغه قانون د ملی روغی جوړی د انسان پالونکی تګلوری په رڼا کی او ددغه تګلوری د لاښه تحقق په خاطر د اسلام د سپیڅلی دین د اساساتو د په نظر کی نیولو په داسی حال کی چی نړیواله منل شوی معیارونه او بشرپالونکی ملاحظات د افغانستان دجمهوری دولت د عمل ملاك دي د اساسی قانون د (۳۹) او (۱۱۵) مادو د حکمونو پر بنسټ وضعه کیږی.

لومړی ماده:

د افغانستان په جمهوریت کی له لاتدنیو موردونو څخه پرته د اعدام حکم نه تطبیقیږی:

۱- قصدی قتل.
۲- ډله ییزی وژنی.
۳- چاودنه (له قتل سره).
۴- لاره شکونه (له قتل سره).
۵- هغه جرمونه چی په نتیجه کی یی د افغانستان د جمهوری دولت د ځمکی ټوله او یا یوه برخه یی د بهرنی دولت تر واکمنی لاندی

قانون در مورد تحدید حکم اعدام درجمهوری افغانستان

این قانون در پرتو مشی انسان دوستانه مصالحه ملی و به منظور تحقق هرچه بیشتر این مشی با نظر داشت اساسات دین مقدس اسلام در حالی‌که معیار های قبول شدهٔ جهانی و ملحوظات بشر دوستانه ملاك عمل دولت ج.۱ می‌باشد بتأسی از احکام مواد (۳۹) و (۱۱۵) قانون اساسی وضع می‌گردد:

مادهٔ اول:

در جمهوری افغانستان حکم اعدام جز در موارد ذیل تطبیق شده نمی تواند:

۱- قتل عمد.
۲- کشتار جمعی.
۳- انفجار (توأم با قتل).
۴- قطاع الطریقی (توأم با قتل).
۵- جرایمی‌که در نتیجهٔ آن اراضی دولت جمهوری افغانستان تماماً یا قسماً تحت حاکمیت دولت خارجی

راوستل شی او ځمکنی بشپړتیا او خپلواکی یی تاوانی کړی.

دوهمه ماده:
دهیواد د نافذو قوانینو د موادو په ټولو حکمونو کی چی شدیده جزاء د (اعدام) مجازات پکی مسجل دی شلو کالو بندته دی تعدیل شی.

درېیمه ماده:
دغه قانون د ۱۳۷۰ کال د جدی له (۲۵) نیټی نه نافذ او د ډله ییزو اطلاعاتو په وسیلو او رسمی جریده کی دی خپور شی.

(پورتنی تعدیل د ۱۳۷۰ هـ، ش کال د کب دمیاشتي د (۱۷) نیټي (۷۶۳) ګڼه رسمي جریده کې خپور شویدی.)

قرار داده شود و به تمامیت ارضی و استقلال آن صدمه وارد نماید.

مادۀ دوم:
در تمام احکام مواد قوانین نافذ کشور که جزای اشد مجازات (اعدام) مسجل می‌باشد به بیست سال حبس تعدیل گردد.

مادۀ سوم:
این قانون اعتبار از (۲۵) جدی ۱۳۷۰ نافذ و در وسایل اطلاعات جمعی و جریدۀ رسمی نشرگردد.

(تعدیل فوق در جریدۀ رسمی شماره (۷۶۳) مؤرخ ۱۳۷۰/۱۲/۱۷ نشر گردیده است.)

د افغانستان جمهوریت د جمهور رئیس فرمان

ګڼه: ۱۳۹۸
نېټه: ۱۳۷۰/۱۲/۵

د وزیرانو شورا دتقنیني فرمان دتوشیح په هکله

د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم پر بنسټ د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري ۱۳۷۰/۱۱/۲۸ نیټې (۸۱) ګڼه تقنیني فرمان چې د جزاء قانون ددوه سوه درېیمې مادي دلغوه کولو په هکله وضعه شویده توشیح کوم.

د افغانستان جمهوریت د وزیرانو شوري ته دنده سپارل کیږي چې پورتنی ګڼه تقنیني فرمان او دنومورې مادې الغا دی دمنظورۍ لپاره د ملی شوري لومړنۍ غونډې ته وړاندې کړي.

دغه فرمان دوزیرانو شوري له تقنیني فرمان او دنومورې مادې له الغا سره یوځای د افغانستان جمهوریت دعدلیي وزارت ته په رسمی جریده کې دخپرولو له پاره

فرمان رئیس جمهور جمهوری افغانستان

شماره: ۱۳۹۸
تاریخ: ۱۳۷۰/۱۲/۵

دربارۀ توشیح فرمان تقنینی شورای وزیران

بتأسی ازحکم مادۀ (۱۰۴) قانون اساسی جمهوری افغانستان فرمان تقنینی شماره (۸۱) مؤرخ ۱۳۷۰/۱۱/۲۸ شورای وزیران جمهوری افغانستان. که درمورد الغای مادۀ دوصد وسوم قانون جزاء وضع گردیده، توشیح میدارم.

شورای وزیران جمهوری افغانستان مؤظف است تا فرمان تقنینی شمارۀ فوق والغاء مادۀ متذکره را دراولین اجلاس شورای ملی غرض منظوری ارائه نماید.

این فرمان همراه بافرمان تقنینی شورای وزیران والغای مادۀ متذکره جهت نشر درجریدۀ رسمی بوزارت عدلیه جمهوری افغانستان

دې واستول شي.

گسیل گردد.

نجیب الله
د افغانستان جمهور رئیس

نجیب الله
رئیس جمهور افغانستان

د افغانستان جمهوریت دوزیرانو شوري تقنیني فرمان

فرمان تقنینی شورای وزیران جمهوری افغانستان

ګڼه: ۸۱
نېټه: ۱۳۷۰/۱۱/۲۸

شماره: ۸۱
تاریخ: ۱۳۷۰/۱۱/۲۸

دجزاء قانون ددوه سوه درېیمی مادې دلغوه کیدو په هکله

۱-دافغانستان جمهوریت داساسي قانون (۱۰۴) مادې د حکم پر بنسټ دجزاء د قانون د دوه سوه درېیمی مادې الغا وضعه کیږي.

۲- دغه فرمان د افغانستان جمهوریت داساسي قانون د (۱۰۴) مادې دحکم له مخې دجمهوري ریاست مقام ته دې د توشیح له پاره وړاندی شي.

در مورد الغای مادۀ دوصدو سوم قانون جزاء

۱-به تأسی ازحکم مادۀ (۱۰۴) قانون اساسی جمهوری افغانستان، الغای مادۀ دوصد وسوم قانون جزاء وضع می‌گردد.

۲-این فرمان طبق حکم مادۀ (۱۰۴) قانون اساسی جمهوری افغانستان جهت توشیح به مقام ریاست جمهوری ارائه گردد.

فضل الحق خالقیار
صدراعظم

فضل الحق خالقیار
صدر اعظم

د رسمي جريدي د ۱۳۵۵/۷/۱۵ نيټې په (۳۴۷) ګڼه کې خپور شوی دجزاء د قانون د دوه سوه درېيمې مادې دالغا طرحه

لومړی ماده:
د جزاء د قانون دوه سوه درېيمه ماده دې لغوه وګڼل شي.
دوهمه ماده:
دغه الغا له توشيح نه وروسته نافذ او په رسمي جريده کې دې خپره شي.

(پورتنۍ الغا د ۱۳۷۱ کال دوری د میاشتی د ۱۷ نیټې په (۷۶۵) ګڼه رسمی جریده کې خپره شوی ده.)

طرح الغای مادۀ دوصد وسوم قانون جزاء منتشرۀ شماره (۳۴۷) مؤرخ ۱۳۵۵/۷/۱۵ جریدۀ رسمی

مادۀ اول:
مادۀ دوصدو سوم قانون جزاء ملغی شناخته شود.
مادۀ دوم:
این الغا بعد از توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

(الغاء فوق درجریدۀ رسمی شماره (۷۶۵) مؤرخ ۱۳۷۱/۱/۱۷ نشر گردیده است.)

قانون جرایم علیه
امنیت داخلی و خارجی

د افغانستان دموکراتیک
جمهوریت دانقلابي شور د رئیسه
هیأت فرمان
کابل ښار

ګڼه : ۱۵۳
نېټه : ۱۳۶۶/۵/۱۰

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو د قانون د تصویب په هکله

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا رئیسه هیأت د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو په هکله د قانونیت دټینګښت او د جزائي حکمونو د لاښه تنظیمولوپه منظور د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د اساسي اصولو د (۴۴) مادې د حکم پر بنسټ تصویبوي:

لومړۍ ماده:
د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د کورني او بهرني امنیت پر ضد جرمونو قانون په دوو فصلونو او دېرشو مادو کې تصویب دی.

فرمان
هیأت رئیسه شورای انقلابی
جمهوری دموکراتیک افغانستان
شهر کابل

شماره : ۱۵۳
تاریخ : ۱۳۶۶/۵/۱۰

دربارهٔ تصویب قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان

هیأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان بمنظور تحکیم قانونیت و تنظیم بهتر احکام جزائی در مورد جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی به تأسی از حکم مادهٔ (۴۴) اصول اساسی جمهوری دموکراتیک افغانستان تصویب می‌دارد:

مادهٔ اول:
قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان بداخل دو فصل و سی ماده تصویب است.

دوه یمه ماده:

د (۲۵ او ۲۶) موادو څخه پرته د دې قانون د مندرجو جرمونو تحقیق د دولتي امنیت د وزارت د تحقیق د ارګانونو له لارې صورت نیسي.

د دې قانون د لومړي مادې د جرمونو تحقیق د عسکري جرمونو د قانون د تصویب په هکله د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیسه هیأت د ۱۳۶۴/۱۱/۹ نېټې د (۱۷۷) ګڼه فرمان د دوه یمې مادې د مندرج واک په حدود کې د اړوندو ارګانونو لخوا صورت نیسي.

مادۀ دوم:

تحقیق جرایم مندرج این قانون به استثنای مواد(۲۵ و ۲۶) از طریق ارګانهای تحقیق وزارت امنیت دولتی صورت می‌گیرد.

تحقیق جرایم ماده اول این قانون در حدود صلاحیت مندرج ماده دوم فرمان شماره (۱۷۷) مؤرخ ۱۳۶۴/۱۱/۹ هیأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان در بارۀ تصویب قانون جرایم عسکری از طرف ارګانهای مربوط صورت می‌گیرد.

درېیمه ماده:

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د عدلیې وزارت د دولتي امنیت وزارت او د حقوقو د ساتنې له نورو ارګانونو سره یوځای ددې قانون سره سم دیوې میاشتې په موده کې د جرمونو د کشف او تحقیق او د هغه د تطبیق پر قانونیت باندې د څارنوالۍ د څارنې د قانون د تعدیل طرح برابر

مادۀ سوم:

وزارت عدلیۀ جمهوری دموکراتیک افغانستان یکجا با وزارت امنیت دولتی و سایر ارګانهای حراست حقوق در ظرف مدت یکماه طرح تعدیل در قانون کشف و تحقیق جرایم و نظارت څارنوالی بر قانونیت تطبیق آن را مطابق این قانون تهیه و جهت

کړي او د انقلابي شورار ئيسه هيأت ته تصويب لپاره دې وړاندې کړي.

څلورمه ماده:
د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د عدليې وزارت دنده لري د پنځلسو ورځو په بهير کې د جزاء د قانون د هغو موادو فهرست چې د دې قانون په نافذيدوسره لغو کېږي برابر کړي او د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شورا رئيسه هيأت ته دې وړاندې کړي.

پنځمه ماده:
دا فرمان د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د کورنې او بهرنې امنيت پر ضد جرمونو له قانون سره يو ځای تصويبيږي او په رسمي جريده کې له خپرېدو وروسته دې نافذ شي.

حاجي محمد څمکنی
د افغانستان دموکراتيک
جمهوريت د انقلابي شورا د رئيسه
هيأت د صدر د مقام سرپرست

تصويب به هيأت رئيسه شورای انقلابی ارائه نمايد.

مادۀ چهارم:
وزارت عدليه جمهوری دموکراتيک افغانستان مؤظف است در ظرف پانزده روز فهرست مواد قانون جزاء را که با انفاذ اين قانون ملغی می‌گردد تهيه و به هيأت رئيسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتيک افغانستان ارائه نمايد.

مادۀ پنجم:
اين فرمان يکجا با قانون جرايم عليه امنيت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتيک افغانستان تصويب و بعد از نشر در جريدۀ رسمی نافذ گردد.

حاجی محمد څمکنی
سرپرست مقام صدر هيأت رئيسه
شورای انقلابی جمهوری
دموکراتيک افغانستان

لومړی فصل
د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد جرمونه

لومړی ماده:
وطن ته خیانت (ملی خیانت):
۱- د وګړنیز حاکمیت، صیانت، ځمکنی بشپړتیا د خپلواکی د حق او د هیواد د ملی امنیت او دفاعی وړتیا پر ضد د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د تبعی عمدی کړه وړه دی چی عبارت دی له:
- دښمن سره پیوستون، د وګړنیز حاکمیت پر ضد وسله واله فعالیت، جاسوسی، د ځواکونو تسلیمول، د وسلی، جګړه ایز تخنیک، استحکاماتو او د جګړی د پر مخبیولو د نورو وسیلو پریښودل، هیوادونو، یا د دولتی ضد سازمانونو او یا ډلو ته د دولتی او نظامی اسرار لرونکو معلوماتو په واک ایښودل.
- بهرنیو هیوادونو یا د دولتی ضد سازمانونو یا ډلو سره د افغانستان دموکراتیک جمهوریت پر ضد د هغوی د دښمن ډولو فعالیتونو په

فصل اول
جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان

مادۀ اول:
خیانت بوطن (خیانت ملی) :
۱- اعمال عمدی تبعۀ جمهوری دموکراتیک افغانستان علیه حق حاکمیت مردمی، صیانت، تمامیت ارضی، استقلال و امنیت ملی و قابلیت دفاعی کشور میباشد که عبارت است از:
- پیوستن به دشمن، فعالیت مسلحانه علیه حاکمیت مردمی، جاسوسی، تسلیمی نیروها، واگذاری سلاح، تخنیک محاربوی، استحکامات و سایر وسایل پیشبرد جنگ، در اختیار گذاشتن معلومات حاوی اسرار دولتی و نظامی به کشورها یا سازمان ها یا گروه‌های ضد دولتی.
- تشریک مساعی و همکاری با کشور های خارجی یا سازمان ها یا گروه های ضد دولتی در اجرای فعالیت خصمانه شان

تر سره کولو کی ګډې هلی ځلی او مرستی.
- د دولتی قدرت د تر لاسه کولو په منظور توطئه.
- وطن ته د خیانت د جرم مرتکب د دوام په بند یا اعدام او د شتمنی د مصادری په جزا محکومیږی.
۲- که د افغانستان دموکراتیک جمهوریت تبعه چی په دغه ماده کی د مندرجو جرمونو د ارتکاب قصد ولری یا د دغو جرمونو ارتکاب ته په اکراه سره اړ شوی وی د ارتکاب او تعقیب څخه د مخه دولتی مقاموته په خپله خوښه خبر ورکړی له جزا څخه معاف کیږی.

دوهمه ماده:
جاسوسی:
بهرنی دولت، دولتی ضد سازمان یا ډلی یا د هغوی ګمارل شویو کسانو ته د تسلیمولو په منظور د دولتی اسرار لرونکو معلوماتو سپارل یا غلا کول او یا ټولول، همدغه راز د بهرنیو اطلاعاتو د خدماتو د ارګانونو په لاربښودنه د هغو نورو معلوماتو ټولول او سپارل چی دافغانستان دموکراتیک جمهوریت پر ضد ورځنی کار علیه جمهوری دموکراتیک افغانستان.
- توطئه به منظور کسب قدرت دولتی.
- مرتکب جرم خیانت بوطن به جزای حبس دوام یا اعدام و مصادرهٔ دارایی محکوم می‌گردد.
۲- هرګاه تبعهٔ جمهوری دموکراتیک افغانستان که قصد ارتکاب جرایم مندرج در این ماده را داشته یا باکراه بارتکاب آن جرایم کشانیده شده باشد قبل از ارتکاب و تعقیب، داوطلبانه به مقامات دولتی اطلاع دهد از مجازات معاف می‌گردد.

مادهٔ دوم:
جاسوسی:
تسلیم دهی یا سرقت و یا جمع آوری معلومات حاوی اسرار دولتی به منظور تسلیم آن به دولت خارجی سازمان یا گروه ضد دولتی یا گماشتگان آنها، همچنان جمع آوری و تسلیم دهی سایر معلومات به دستور ارگانهای خدمات اطلاعات خارجی که از آن علیه جمهوری دموکراتیک افغانستان سوء

واخیستل شی، پدی شرط چی دغه عملو نه د بهرنی تبعی او تابعیت نه لرونکو کسانو لخوا تر سره شی مرتکب یی د دوام بند یا اعدام او د شتمنی د مصادری په جزا محکومیږی.

درېیمه ماده:

ترور:

۱- چا چی دولتی، سیاسی، ټولنیز، مذهبی شخصیت د دولت استازی او د قوم قبیلی او ملیت مشران دهغوی د دولتی یا ټولنیزو دندو له امله د وګړنیز حاکمیت د ورانولو یا کمزوری کولو په خاطر وژنی مرتکب یی د دوام بند او یا اعدام او د شتمنیو د مصادری په جزا محکومیږی.

۲- که د دغی مادی په (۱) فقره کی مندرج شخص د هغه هدف له امله چی پکښی لیکلی شوی ده تر ځانی یاروانی فشارلاندی واقع شی مرتکب یی له دری نه تر لس کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.

څلورمه ماده:

۱- که د بهرنی دولت استازی جګړی ته د راپارولو یا له نورو استفاده به عمل آمده بتواند، مشروط بر اینکه این اعمال از جانب تبعهٔ خارجی و افراد بدون تابعیت انجام یابد، مرتکب آن به جزای حبس دوام یا اعدام و مصادره دارایی محکوم می‌گردد.

مادهٔ سوم:

ترور:

۱- شخصی‌که شخصیت دولتی، سیاسی، اجتماعی، مذهبی نمایندهٔ دولت و سران قوم، قبیله و ملیت رابه ارتباط وظایف دولتي و یا اجتماعی‌شان به خاطر تخریب و تضعیف حاکمیت مردمی به قتل بر ساند مرتکب آن به جزای حبس دوام و یا اعدام و مصادرهٔ دارایی محکوم می‌گردد.

۲- هرگاه شخص مندرج در فقره (۱) این ماده بنابر هدفیکه در آن درج است تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد مرتکب به جزای حبس از سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

مادهٔ چهارم:

۱- هرگاه نمایندهٔ دولت خارجی بمنظور تحریک جنگ یا ایجاد

هیوادونو سره د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په دیپلوماتیکو اړیکوکی د خړپړتیا د منځته راوړلو په منظور ووژل شی مرتکب یی ددوام بند اویا اعدام او دشتمنیو دمصادرې په جزا محکومیږی.

۲- که د بهرنی دولت استازی په پورتنی فقره کی د مندرج هدف له امله تر ځانی یا روانی فشار لاندی واقع شی مرتکب یی له دری څخه تر لس کاله پوری د بند په جزا محکومیږی.

پنځمه ماده:
ورانکاری:

۱- که څوک د وګړنیز حاکمیت او ملی اقتصاد د کمزوری کولو په منظور د چاودنی، اویا نورو وسیلو سره مؤسسی، مواصلاتی کرښی ترانسپورتی مخابراتی وسیلی او یا نور دولتی، ټولنیز، کوپراتیفی او ګډ یا شخصی مالونه وران کړی یا تاوانی کړی یا د اپیدیمی ناروغیو د خپرولو یا د کتلوی مسمومیت باعث وګرځی له لسو څخه تر شلو کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.

تشنج در مناسبات دیپلوماتیک جمهوری دموکراتیک افغانستان با سایر کشورها بقتل برسد، مرتکب بجزای حبس دوام و یا اعدام و مصادره دارایی محکوم می گردد.

۲- هرگاه نمایندۀ دولت خارجی بنابر هدف مندرج در فقرۀ فوق تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد مرتکب بجزای حبس سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

مادۀ پنجم:
خرابکاری:

۱- هرگاه شخصی بمنظور تضعیف حاکمیت مردمی و اقتصاد ملی توسط انفجار وحریق یا با وسایل دیگر مؤسسات، خطوط مواصلاتی، وسایط ترانسپورتی، مخابراتی و سایر اموال دولتی، اجتماعی، کوپراتیفی و مختلط یا شخصی را تخریب نموده یا صدمه برساند یا سبب پخش امراض اپیدیمی یا مسمومیت کتلوی گردد بجزای حبس ده الی بیست سال محکوم می‌گردد.

۲- که د دغی مادی د (۱) فقری د مندرجو عملونو د ارتکاب له امله ځانی تلفات منځته راشی یا دایمی معلولیت پیښ شی یا اقتصادی لوی تاوانونه یا نور خطرناک عواقب رامنځته شی مرتکب یی د دوام په بند یا په اعدام محکومیږی.

۲- اگر در اثر ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده تلفات انسانی بوجود آید یا منجر به معلولیت دایمی گردد یا خسارات هنگفت اقتصادی یا عواقب وخیم دیگر بوجود آید مرتکب آن بجزای حبس دوام یا اعدام محکوم می‌گردد.

شپږمه ماده:

سبو تاژ:

۱- که څوک د عمدی یا بیله عمدی عمل سره د مؤسسو، ادارو، ټولنیزو یا خصوصی سازمانونو څخه په کار اخیستلو سره د دولتی قدرت، صنعت، سوداګری، ترانسپورت، کرنی، مالداری، مالی نظام د مخابراتو د وسیلو او د ملی اقتصاد د نورو څانګو یا د دولتی ارګانونو، ټولنیزو، کوپراتیفی او ګډو یا خصوصی سازمانونو د فعالیتونو د کمزوری کولو په منظور مختل کړی یا د هغوی له عادی فعالیتونو څخه مخنیوی وکړی احوال سره سم له دریو څخه تر لسو کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.

۲- که د نومورو عملونو په نتیجه کی ملی اقتصاد ته لوی تاوان او

مادهٔ ششم:

سبوتاژ:

۱- هرگاه شخصی با عمل عمدی یا غیر عمدی با استفاده از مؤسسات ادارات یا سازمان‌های اجتماعی یا خصوصی به منظور تضعیف قدرت دولتی، صنعت، تجارت، ترانسپورت، زراعت، مالداری، نظام مالی، وسایل مخابرات و سایر رشته های اقتصاد ملی یا فعالیت های ارگان‌های دولتی، سازمان‌های اجتماعی، کوپراتیفی و مختلط یا خصوصی را مختل سازد یا از فعالیت های عادی آنها جلوگیری نماید حسب احوال به جزای حبس سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

۲- هرگاه درنتیجه اعمال متذکره صدمه و زیان بزرگ متوجه

صدمه پیښ شی مرتکب یی د دوام د بند په جزا محکومیږی.

اوومه ماده:
د دولت پر ضد تبلیغ:
۱- چا چې د خپل هدفونو د تامینولو او د وګړنیز حاکمیت د کمزوری کولو په منظور په قصدی توګه اخبار اعلامیی، د رواغی څرګندونی او مغرضانه افتراآت خپری کړی یا په هره وسیله چی وي په لمسونکی پروپاګند یا شفوی او لیکلی تبلیغ لاس پوری کړی یا دغه راز خپرونی پخپل واک ولری د منځنی بند په جزا محکومیږی.
۲- که د دغی مادی مندرج عملونه د عامه نظام د ګډوډی او د دولتی ارګانونو، مؤسسو، سازمانونو، ادارو د عادی کار په بهیر کی د ګډوډی باعث شی یا په ورانی، تالاګولو او اور اچونی تمامه شی او یا د دغو جرمونو ارتکاب د دولتی ضد ډلو سره او یا د افغانستان د دولت دښمن بهرنی دولت سره د مخابراتی تماس یا د اړیکو د نورو وسیلو نتیجه وی مرتکب یی د اوږد بند په جزا محکومیږی.

اقتصاد ملی گردد مرتکب آن به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

مادۀ هفتم:
تبلیغ علیه دولت:
۱- شخصی‌که به منظور تأمین اهداف خویش و تضعیف حاکمیت مردمی عمداً اخبار اعلامیه‌ها و اظهارات دروغ و افتراآت مغرضانه را نشر نماید یا به پرو پاگند تحریک آمیز یا تبلیغ شفوی و تحریری به هر وسیله که باشد بپردازد یا چنین نشرات را در حیازت خویش داشته باشد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.
۲- اگر اعمال مندرج این ماده موجب اخلال نظام عامه و بی نظمی ها در جریان کار عادی ارگانهای دولتی، مؤسسات، سازمانها، ادارات یا منجر به تخریبات، غارت و آتش افروزی گردد و یا ارتکاب این جرایم نتیجۀ تماس مخابراتی و غیره وسایل ارتباط با گروه های ضد دولت و یا با دولت خارجی طرف خصومت دولت افغانستان باشد مرتکب آن بجزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۳-کـه د دغـی مـادی د منـدرجو عملونو د ارتکاب په نتیجه کی د عامه نظم ګډوډی رامنځ ته شی یا ځانی تلفات منځته راشی مرتکب یی د دوام د بند یا اعدام په جزا محکومیږی.

۳- اگـر در نتیجـهٔ ارتـکاب اعمـال منـدرج ایـن مـاده اخـلال نظم عامـه بـه بـار آیـد یـا تلفـات انـسانی بوجـود آیـد مرتکـب آن بجـزای حـبس دوام یـا اعـدام محکوم میگردد.

اتمه ماده:

د جګړې تبلیغ:

چـا چـی جـګړه پـه هـره بڼه چی وی تـبلیغ کړی احـوال سره سم د منځنـی بنـد پـه جـزا محکومیږی.

مادهٔ هشتم:

تبلیغ جنگ:

شخصی‌که جنگ را بـه هـر شـکلی که باشد تبلیغ نماید حسب احوا ل بـه جـزای حـبس متوسـط محکـوم می‌گردد.

نهمه ماده:

د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد سازمانی فعالیت:

۱- چـا چـی د دی قـانون د لـومړی فصل د مندرجو جرمونو د ارتکاب پـه منظور د ټولنی، هیـات یـا ډلـی په نامه پټ سازمان تأسیس، تنظیم یا یی اداره کړی د دوام بند پـه جـزا محکومیږی.

۲- چـا چـی د دغـی مـادی د (۱) فقری یو د مندرجو سازمانونو یـا د هغـه د خـانګو د یـوی خـانګی غړیتوب تر لاسه کړی د اوږد بند پـه جزا محکومیږی.

۳- چـا چی پخپلـه یـا د بـل چـا پـه

مادهٔ نهم:

فعالیت سازمانی بر علیه امنیت داخلی و خارجی:

۱- شخصی‌که سـازمان مخفـی را بنـام جمعیـت، هیـأت یـا گـروه بـه منظـور ارتکـاب جـرایم منـدرج فـصل اول ایـن قـانون تأسـیس، تنظـیم یـا اداره نمایـد بـه جـزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

۲- شخـصی‌کـه عـضویت یکـی از سـازمانهای منـدرج فقـرهٔ (۱) ایـن ماده یا فرعی از فـروع آنـرا حاصـل نماید بجزای حبس طویـل محکـوم می گردد.

۳- شخـصی‌کـه خـود یـا توسـط

واسطه د دغی مادی د (۱) فقری د مندرجو سازمانونو د څانګو له یوی څانګی سره د ناروا هدفونو د تأمین په منظو اړیکه ټینګه کړی یا د نورو کسانو د هڅونی یا د ځانی او روانی فشار څخه په کار اخستلو سره دویری سبب شی احوال سره سم د اوږد بند په جزا محکومیږی.

لسمه ماده:

له بهرنیو هیوادونو سره د افغانستان د دیپلوماتیکو اړیکو پر ضد جرمونه:

که د چا کړه وړه له بهرنیو هیوادونو سره د افغانستان متقابلی اړیکی په یو ډول سره زیانمن او تاوانی کړی له دریو څخه تر لسو کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.

که د چا کړه وړه د بهرنیو هیوادونو او افغانستان تر منځ د دیپلوماتیکو اړیکو د قطع کیدو باعث وګرځی مرتکب یی د دوام بند په جزا محکومیږی.

شخص دیگر به سازمانهای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به فرعی از فروع آن به منظور تأمین اهداف غیر مشروع ارتباط قایم نماید یا سبب تشویق و ارعاب اشخاص دیگر یا استفاده از فشار جسمی و روانی گردد حسب احوال بجزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

مادهٔ دهم:

جرایم علیه مناسبات دیپلوماتیک افغانستان با کشورهای خارجی:

هرگاه عمل شخصی به نحوی از انحا به مناسبات متقابله افغانستان با دول خارجی زیان و خساره وارد نماید بجزای حبس سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

هرگاه عمل شخصی سبب قطع مناسبات دیپلوماتیک بین افغانستان و دول خارجی گردد مرتکب آن به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

دوهم فصل
د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد نور جرمونه

یووه لسمه ماده:
د ملـی مـذهبی او نـژادی حقوقـو برابری نه په پام کی نیول:
۱- چا چی د دښمنی د راپارولو او د ملی، نژادی، مـذهبی، او تبرایـز او لـسانی اختلافونـو په مقصد په تبلیغ او ترویج لاس پوری کوی یا د قومی، ملی نژادی، مذهبی، تبریز او لسانی اړیکو پر بنسټ د اتباعو د حقوقـو پـه محـدودولو یـا د توپیرونـو پـه تـامینولو لاس پـوری کړی تر دریـو کـالو پـوری د منځنی بند په جزا محکومیږی.
۲- په هغه صورت کی چی دغه راز کـړه وړه د اوسـیدونکو تـر مـنځ د بلـوا یـا ګـډوډی باعـث وګرځـی مرتکـب د اوږد بنـد پـه جـزا محکومیږی.

دووه لسمه ماده:
د وسـله وال پـوځ دجزوتامونو پخپل سره سوق او اداره:
چا چی په جرمی قصد سره د وسله وا ل پوځ د جزوتامونو او قطعاتو او د جګـړه ییـزی الـوتکی قیـادت د

فصل دوم
سایر جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

مادۀ یازدهم:
نقـض تـساوی حقـوق ملـی، مذهبی و نژادی:
۱- شخصی‌که به تبلیغ یا ترویج بـه قـصد تحریـک خـصومت و اختلافـات ملـی نـژادی، مـذهبی، قبیلـوی و لـسانی پرداختـه یـا بـه محـدود سـاختن حقـوق یـا تـأمین برتـری هـای اتبـاع بنـابر تعلقـات قـومی، ملـی، نـژادی، مـذهبی، قبیلوی و لسانی بپردازد به جزای حبس متوسط الی سه سال محکوم می‌گردد.
۲- در صـورتی‌کـه چنـین اعـمال موجب شورش یـا بـی نظمی بـین اهـالی گـردد مرتـکب آن بـه جـزای حـبس طویـل محکـوم می‌گردد.

مادۀ دوازدهم:
سـوق و اداره خـود سـرانه جـزو تامهای قوای مسلح:
شخـصی‌کـه بـه قـصد جرمـی، قیـادت جـزو تامهـا و قطعـات قـوای مـسلح و طیـاره جنـگی،

واکمن مقام د امر څخه پرته او د روا سبب څخه پرته په غاړه واخلی یا له قیادت څخه د منع کولو په هکله د دولت د امر له صادریدو سره سره خپل عمل ته ادامه ورکړی یا دا چی د وسلی د پریښودنی په پاب د واکمن مقام د امر له صادریدونه وروسته د وسله وا ل پوځ د جزوتام قوماندان خپل تر لاس لاندی سرتیری مسلح کړی او په راتول شوی حالت وساتی د دوام بند او یا اعدام په جزا محکومیږی.

را بدون امر مقام ذیصلاح و بدون سبب مشروع به دوش گیرد یا با وجود صدور امر دولت مبنی بر منع قیادت به عمل خود ادامه دهد یا اینکه قوماندان جزو تام قوای مسلح بعد از صدور امر مقام ذیصلاح راجع به گذاشتن سلاح، عساکر تحت اثر خود را مسلح و به حالت جمع نگه دارد بجزاء حبس دوام و یا اعدام محکوم می‌گردد.

دیارلسمه ماده:
دولتی اسرار افشا کول:
۱- چا چی دولتی اسرار چی د دندی په توګه ورسپارل شویده یا د دندی د اجرا په وخت کی پری پوه شویده وطن د خیانت له قصد لرلو څخه پرته افشاء کړی د منځنی بند په جزا محکومیږی.
۲- په هغه صورت کی چی د دغی مادی د (۱) فقری مندرج عمل په اقتصادی، سیاسی او نظامی ډګرونو کی د افغانستان د موکراتیک جمهوریت ته درونډ عواقب منځته راوړی مرتکب یی د اوږد بند په جزا محکومیږی.

مادۀ سیزدهم:
افشای اسرار دولتی:
۱- شخصی‌که اسرار دولتی را که منحیث وظیفه به او سپرده شده یا حین اجرای وظیفه از آن آگاهی حاصل نموده بدون داشتن قصد خیانت بوطن افشاء نماید بجزای حبس متوسط محکوم میگردد.
۲- در صورتی‌که عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده عواقب سنگین را برای جمهوری دموکراتیک افغانستان در عرصه های اقتصادی، سیاسی و نظامی بار آورد مرتکب آن به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

څوارلسمه ماده:
د دولتـی اسـرار لرونکـو سـندونو ورکیدل:
۱- چا چی دولتـی اسرار لرونکی سندونه یا هغه شیان چی د دولتـی اسـرارو لـه جملـی څخـه دی او د دندی په توګه ورسپارل شوی وی د هغو د ساتنی او څارنی د مقرراتو د نه په پام کی نیولو په اساس ورک کړی احـوال سره سم د منځنی بند په جزا محکومیږی.
۲- که د پورتنی فقری مندرج جرم درونـد عواقـب منځتـه راوړی مرتکـب د اوږد بنـد پـه جـزا محکومیږی.

پنځلسمه ماده:
وسلی سره لوټول (باندیتیزم):
پر مؤسسو، دولتی، ټولنیزو ادارو، خـصوصی، سـهامی، گـډ، کوپراتیفی او د وګړو پر اقتصادی تأسیساتو باندی د تـالاو تـاوانی کولو په منظور وسله وال یر غـل سازمـانـول په وسله والو ډلو کی د شرکت کولو په شمول باندیتیزم ګڼل کیږی او مرتکـب یـی د دوام بنـد او یـا اعـدام پـه جـزا محکومیږی.

مادۀ چهاردهم:
مفقـودی اسـناد حـاوی اسـرار دولتی:
۱- شخصی‌که اسناد حاوی اسرار دولتی یا اشیاییکه از جملۀ اسرار دولتی بوده و منحیث وظیفه بوی سپرده شده باشد به اساس عدم رعایت مقررا ت حفظ و نگهداری آنهـا مفقـود نمایـد حسب احـوال بـه جـزای حـبس متوسـط محکـوم می‌گردد.
۲- اگـر جـرم منـدرج فقـرۀ فـوق عواقـب سـنگینی را بـه بـار آورد مرتکب آن بـه جـزای حبس طویـل محکوم می‌گردد.

مادۀ پانزدهم:
غارت مسلحانه (باند یتیزم) :
سازماندهی حملۀ مسلحانه بالای مؤسـسات، ادارات دولتـی، اجتمـاعی، تأسیسات اقتصادی، خـصوصی، سـهامی، مخـتلط و کـوپراتیفی و اشـخاص بـه منظـور غـارت و صـدمه رسـانیدن بـشمول شـرکت در گروپهـای مـسلح بانـدیتیزم نامیـده مـی‌شـود و مرتکب آن به جزای حبس دوام و یا اعدام محکوم میگردد.

شپاړسمه ماده:
یرغمل نیول:
۱- که څوک نور کسان په ګوابښ او جبر او یا د نورو وسیلو نه په هره وسیلې سره یرغمل ونیسی د اوږد بند په جزا او د هماغه مال یا بیه یې او یا هغه ګټه چې تر لاسه کړی وی په بیرته ورکولو یې محکومیږی.
۲- که یرغمل شوی شخص ټپی معلول او یا ووژل شی مرتکب یې د دوام بند یا اعدام او د هماغه مال یا بیه یې او یا د هغې ګټې په مستردولو محکومیږی چې لاس ته راوړی وی.

مادۀ شانزدهم:
گروگان گیری:
۱- هرگاه شخصی دیگران را به تهدید و عنف و یا به هر وسیله از وسایل دیگر گروگان بگیرد به جزای حبس طویل و رد عین مال یا قیمت پول و یا منفعتی را که به دست آورده باشد محکوم میگردد.
۲- اگر شخص گروگان گرفته شده مجروح، معلول و یا مقتول گردد مرتکب به جزای حبس دوام یا اعدام و رد عین مال یا قیمت پول و یا منفعتی را که بدست آورده باشد محکوم می‌گردد.

اووه لسمه ماده:
د نړیوالو الوتنو مقررات نه په پام کې نیول:
که د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د فضا له لارې څخه ننوتل او وتل له رسمي اجازې څخه پرته او همدغه راز د مجازو مشخصو تګلارو، د کښته کیدو د ځایونو، هوایي دروازې، د الوتنې جګوالي په هکله د نه پاملرنې یا د نړیوالو الوتنو له مقرراتو څخه نورې سر غړونې صورت ونیسی

مادۀ هفدهم:
نقض مقررات پروازهای بین المللی:
هرگاه ورود و خروج از طریق فضای جمهوری دموکراتیک افغانستان بدون اجازۀ رسمی و همچنین عدم رعایت خط السیرهای مشخص مجاز، محلات فرود آمدن دروازه‌های هوایی ارتفاع پرواز یا سایر تخلفات از مقررات پروازهای بین‌المللی صورت گیرد مرتکب آن

مرتکب یی د منځنی بند په جزا محکومیږی.

اتلسمه ماده:
د عامه تأسیساتو غیر قانونی نیول:
چا چی له زور څخه په کار اخیستلول سره د دولتی ودانیو مؤسسو او نورو ځایونو په نیولو چی د عامو ګټو په منظور جوړشوی دی لاس پوری کړی احوال سره سم د اوږد یا دوام بند په جزا محکومیږی.

نولسمه ماده:
د پیسو او ارزښت لرونکو پانو جعل کول او رواج کول یی:
۱- که چا په افغانستان کی مروجی پیسی ارزښت لرونکی سندونه یا بهرنی اسعار په هر کیفیت چی وی جعل کړی د دوام بند په جزا محکومیږی.
۲- هغه چا چی د علم په لرلو سره جعلی پیسی یا ارزښت لرونکی پانی رواج کړی یا وچلوی یا د رواج کولو یا چلولو په قصد یی په خپل واک کی ولری د اوږد بند په جزا چی له لسو کالو څخه زیاته نه وی محکومیږی.

به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

مادۀ هجدهم:
اشغال غیر قانونی تأسیسات عامه:
شخصی‌که با استعمال قوه به اشغال بناء های دولتی، مؤسسات و دیگر اماکن که بمنظور منفعت عامه اعمار گردیده اقدام نماید، حسب احوال به جزای حبس طویل یا دوام محکوم می‌گردد.

مادۀ نزدهم:
جعل پول و اوراق بهادار و ترویج آن:
۱- هر گاه شخص به هر کیفیتی که باشد پول مروج در افغانستان، اسناد بهادار یا اسعار خارجی را جعل نماید به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.
۲- شخصی‌که با وجود علم، پول جعلی یا اوراق بهادار را ترویج یا به آن معامله یا به قصد ترویج یا معامله آنرا در حیازت خود داشته باشد به جزای حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- چا چی د علم لرلو سره سره یا د بل چا په واسطه جعلی پیسی یا ارزښت لرونکی پانې افغانستان ته داخل یا وباسی د اوږد بند په جزا محکومیږی.

۴- چا چی آلی، ادوات او وسیلی د پیسو یا ارزښت لرونکو پانو د جعل کولو په منظور جوړ کړی یا په کار واچوی یا یی وپلوری یا یی خرڅلاوته وړاندی کړی یا یی په اجاره ورکړی او یا په خپل واک کی ولری د اوږد بند په جزا چی له لسو کالو څخه کمه نه وی محکومیږی.

۳- شخصی‌که با وجود علم خود یا توسط شخص دیگری پول یا اوراق بهادارجعلی رابه افغانستان داخل یا خارج نماید به جزای حبس طویل محکوم میگردد.

۴- شخصی‌که آلات، ادوات یا وسایل را به منظور جعل پول و اوراق بهادار بسازد یا بکار برد یا بفروشد یا به فروش عرضه نماید یا به اجاره دهد یا در حیازت خود در آورد به جزای حبس طویل که از ده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

شلمه ماده:
دولتی ضد سازمانونو ته د پیسو او مادی مرستو راټولول:
چا چی پخپله یا د بل چا په واسطه په یو ډول سره د دی قانون د مندرجو موادو د جرمونو د ارتکاب په منظور له کورنیو او بهرنیو منابعو څخه پیسی یا هر راز مادی ګټی یا مرستی تر لاسه کړی احوال سره سم د اوږد بند په جزا محکومیږی.

مادۀ بیستم:
جمع آوری پول و کمک مادی به سازمانهای ضد دولتی:
شخصی‌که خود یا توسط شخص دیگر به نحوی از انحا مبالغ پولی یا هر نوع منفعت یا مساعدت مادی دیگر را از منابع داخلی و یا خارجی به منظور ارتکاب جرایم مندرج مواد این قانون بدست آرد، حسب احوال بجزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

یو ویشتمه ماده:
د جګړی په وخت کی غیر قانونی سوداګری:

مادۀ بیست و یکم:
تجارت غیر قانونی در زمان جنگ:

۱- که چا د جګړې په وخت کې پخپله یا د خپل استازی په واسطه د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت سره په جګړه کې شامل بهرنی دولت سره یا د هغه دولت په استازی سره په هر ځای کې چې استوګنه ولري د افغانستان دموکراتیک جمهوری دولت له موافقی څخه پرته د سوداګری اړیکې تینګې کړې د جرم د موضوع د مالونو پر مصادره کیدو بر سیره د اوړد بند په جزا چې له لسو کالو څخه زیاته نه وی محکومیږی.

۲- که د دغی مادی د (۱) فقری د مندرج جرم د موضوع شیان ضبط شوی نه وی محکمه د بیې په ورکولو هم حکم کوی.

۱- هرگاه شخصی در زمان جنگ خود و یا توسط نمایندۀ خویش با دولت خارجی داخل جنگ با دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان یا با نماینده دولت مذکور در هر جائیکه اقامت داشته باشد بدون موافقۀ دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان مناسبات تجارتی را قایم نماید علاوه بر مصادرۀ اموال موضوع جرم به جزای حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر اشیاء موضوع جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده ضبط نگردیده باشد محکمه به تادیۀ قیمت آن نیز حکم نماید.

دوه ویشتمه ماده:
د جګړې په وخت کې د ژمنو له تر سره کولو څخه ډډه کول:

۱- که چاد جګړې په وخت کې د وسله وال پوځ د اړتیاوړ موادو د واردولو یا رسولو په هکله له دولت سره د خپلې ژمنې د ټولې یا یوی برخې په تر سره کولو کې یا د اوسیدونکو د لومړنی اړتیا وړ خوراکی موادو کی په قصدی توګه

مادۀ بیست و دوم:
تعلل از اجرای تعهدات در زمان جنگ:

۱- هرگاه شخصی در زمان جنگ به اجرای تمام یا قسمتی از تعهدات خود با دولت مبنی بر توریدیا رسانیدن مواد مورد ضرورت قوای مسلح یا مواد ارتزاقی مورد نیاز اولیه اهالی را عمداً خلل وارد نماید به

خنډواچوی، د اوږد بند په جزا محکومیږی.
۲- که د پورتنی فقری مندرج جرمونه د هیواد د دفاعی ځواک یا دوسله وال پوځ دعملیاتو په کمزوری کولو منجر شی مرتکب یی د دوام بند په جزا محکومیږی.
۳- که څوک د جګړې په بهیر کی د ورسپارل شویو دندو له سرته رسولو څخه تعلل وښیی د منځنی بند په جزا محکومیږی.

دری ویشتمه ماده:
د دښمن له پوځ سره مرسته کول:
که څوک ځانته یا بل چاته د مادی یا معنوی ګټې د لاس ته راوړلو په منظور په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د دی قانون د موادو له مندرجو حالتونو څخه پرته د دښمن پوځ ته کوم خدمت سرته ورسوی د اوږد بند په جزا چی له لسو کالو څخه زیاته نه وی محکومیږی.

څلیر ویشتمه ماده:
دولتی بیرغ او نښان ته سپکاوی:
چا چی د علنی وسیلو په یوه سره د افغانستان د دولت بیرغ یا نښان ته سپکاوی وکړی احوال سره جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.
۲- اگر جرایم مندرج فقرهٔ فوق منجر به تضعیف قدرت دفاعی کشور یا عملیات قوای مسلح گردد مرتکب به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.
۳- اگر شخص درجریان جنگ از اجرای وظایف محوله تعلل ورزد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

مادهٔ بیست و سوم:
مساعدت به قوای دشمن:
هرگاه شخص به منظور بدست آوردن منفعت مادی یا معنوی برای خود یا شخص دیگر به قوای دشمن طور مستقیم یا غیر مستقیم در غیر از حالات مندرج مواد این قانون خدمتی را انجام دهد به جزای حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

مادهٔ بیست و چهارم:
توهین به بیرق و نشان دولتی:
شخصی‌که توسط یکی از وسایل علنی بیرق یا نشان دولت افغانستان را توهین نماید حسب

سم د منځنی بند په جزا محکومیږی.

احوال به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

پنځه ویشتمه ماده:
د اخلاقی فساد په منظور د شیانو برابرول او خرڅول:
۱- چا چی مطبوعات، مخطوطات رسمونه، سلایدونه، کلیشی مجسمی انځور شوی تصاویر، رمزی اشاری او نور هغه شیان او تصاویر چی د عامه کلتور او آدابو سره توپیر ولری د سوداګری، ویشلو، اجاری، وړاندی کولو یا نښلولو په قصد جوړ کړی یا پخپل واک کی ولری برابر یا صادر او یا وارد یی کړی احوال سره سم له یوه څخه تر دری کاله پوری د بند په جزا محکومیږی.
۲- په هغه صورت کی چی د دی مادی د (۱) فقری مندرج عملو نه د اخلاقی فساد په منظور صورت ونیسی احوال سره سم له یوه څخه تر پنځه کاله پوری د بند په جزا محکومیږی.

مادۀ بیست و پنجم:
تهیه و فروش اشیاء بمنظور فساد اخلاقی:
۱- شخصی‌که مطبوعات، مخطوطات، رسم‌ها، سلایدها، کلیشه ها، مجسمه ها، تصویر های نقش شده، اشاره های رمزی و سایر اشیا و تصاویریکه منافی کلتور و آداب عامه باشد، به قصد تجارت، توزیع، اجاره، عرضه، یا الصاق بسازد یا در حیازت خود داشته باشد و یا تهیه و یا صادر یا وارد نماید حسب احوال به جزای حبس از یک الی سه سال محکوم می‌گردد.
۲- در صورتی‌که اعمال مندرج فقرۀ (۱) این ماده به منظور فساد اخلاقی صورت گیرد حسب احوال به جزای حبس از یک سال الی پنج سال محکوم می‌گردد.

شپږ ویشتمه ماده:
د فرهنګی او لرغونو اثرونو څخه ناروا ګټه اخیستل او غلا کول:
۱- د فرهنګی او لرغونو اثرونو او قلمی اثرونو څخه ناروا ګټه اخیستنه او غلا کول یی او په عامه شتمنیو پوری مربوطو خپرونو تابلوګانو، مجسمو او نورو فرهنګی او لرغونو اثرونو څخه ګټه اخستنه او همدغه راز لیږدول، ورکول او په کرایه ورکول یی له یوه څخه تر دری کاله پوری د بند د جزا وړ دی.
۲- د فرهنګی اثرونو غلا کول، خرڅول، له منځه وړل یا په قصدی توګه ورانول یی د اوږد بند د جزا یا د تاوان د پوره کولو او اندول نغدی جریمی وړ دی.

اووه ویشتمه ماده:
د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد جرمونو په هکله خبر نه ورکول:
که څوک وطن ته د خیانت، ترور، جاسوسی، ورانکاری، کار ماتولو، د جګړې د تبیغاتی جرمونو، د دولتی ضد جرمونو د سازمانولو او باندیتیزم د ارتکاب په هکله

مادۀ بیست و ششم:
سوء استفاده و سرقت آثار فرهنگی و باستانی:
۱- سوء استفاده و سرقت از آثار فرهنگی و باستانی و آثار قلمی و استفاده از نشرات، تابلوها، مجسمه‌ها و سایر آثار فرهنگی و باستانی متعلق به دارایی عامه و همچنان انتقال، اهدا و کرایه دهی آن مستلزم جزای حبس از یک الی سه سال می‌باشد.
۲- سرقت، فروش، از بین بردن یا تخریب عمدی آثار فرهنگی مستلزم جزای حبس طویل یا جبران خساره و جریمۀ نقدی معادل آن می‌باشد.

مادۀ بیست و هفتم:
عدم اطلاع دهی در مورد جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی:
هرگاه شخصی دربارۀ ارتکاب جرایم خیانت بوطن، ترور، جاسوسی خرابکاری، کار شکنی، تبلیغات جنگ، سازماندهی جرایم ضد دولتی، باند یتیزم، اطلاعات

باوری خبرتیا ولری او د وګړنیز حاکمیت ارګانونو ته خبر ور نکړی د منځنی بند په جزا محکومیږی.

موثق داشته باشد و از آن به ارگانهای حاکمیت مردمی خبر ندهد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

اته ویشتمه ماده:
د دولتی ضد جرمونو او د ملی ګټو پر ضد د نورو جرمونو پټول:
که څوک وطن ته د خیانت، جاسوسی، تروریستی، ورانکاری، کارماتولو، دولتی ضد عملونو د سازمانولو، باندیتیزم د پیسو او ارزښت لرونکو پاڼو د جعل کولو د اټکل شویو جرمونو په هکله له مرتکبینو سره د مخکنی توافق څخه پرته خبرتیا ولری او پټ یی کړی د منځنی بند په جزا محکومیږی.

مادهٔ بیست و هشتم:
اخفای جرایم ضد دولتی و سایر جرایم علیه منافع ملی:
هرگاه شخصی دربارهٔ جرایم پیشبینی شده خیانت بوطن، جاسوسی، تروریستی، خرابکاری، کار شکنی سازماندهی اعمال ضد دولتی، باند یتیزم، جعل پول و اوراق بهادار بدون توافق قبلی با مرتکبین اطلاع داشته باشد آنرا مخفی نگهدارد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

نهه ویشتمه ماده:
له دی قانون سره سم له جزایی مسئولیت څخه معافیت:
۱- که څوک د جرم له اتکاب څخه وروسته او د عدلی تعقیب نه د مخه دنده لرونکی مامورینو ته خبر ورکړی او د مرتکبینو یا د جرم د شریکانو بشپړه پیژند نه یا د جرم په کشفولو پوری مربوط نور د

مادهٔ بیست و نهم:
معافیت از مسئولیت جزایی بر طبق این قانون:
۱- هرگاه شخص بعد از ارتکاب جرم و قبل از تعقیب عدلی به مامورین مؤظف اطلاع و شهرت کامل مرتکبین یا شرکای جرم یا سایر معلومات ضروری مربوط

ارتیا وړ معلومات د دنده لرونکو مامورینو په واک کی کیږدی یا دا چی د مرتکبه جرم سره ورته د جرم مرتکبین اړوندو مقاموته ور وپیژنی محکمه کولای شی د هغه په هکله مخففه احوال په پام کی ونیسی.

۲- که خبرتیا د جرم د ارتکاب او پای ته رسیدونه د مخه اړوندو مقاموته ورسیږی خبر ورکوونکی له جزا څخه معاف کیږی.

۳- د پټولو او خبرنه ورکولو په حالت کی میړه، ماندینه، ماشومان او مور او پلار د جزایی تعقیب وړ نه ګرځی.

دیرشمه ماده:

دا قانون په رسمی جریده کی د خپریدو له نیټی څخه وروسته نافذ یږی.

به کشف جرم را به دسترس مامورین مؤظف قرار دهد یا اینکه مرتکبین جرم مماثل جرم مرتکبه را به مقامات مربوطه معرفی کند محکمه می‌تواند احوال مخففه را در مورد او رعایت کند.

۲- اگر اطلاع قبل از ارتکاب و اتمام جرم به مقامات مربوط صورت بگیرد اطلاع دهنده از مجازات معاف می‌گردد.

۳- در حالت اخفاء و عدم اطلاع شوهر، زن، اطفال و والدین مورد تعقیب جزایی قرار نمی‌گیرد.

مادۀ سی ام:

این قانون از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می‌گردد.

قانون مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان

د انسان د اختطاف او قاچاق پر علیه د مبارزې د قانون د توشیح په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

ګڼه: (۵۲)
نېټه: ۱۳۸۷/۴/۲۴

لومړۍ ماده:
د افغانستان د اساسي قانون د نهه او یایمې مادې د حکم له مخې د انسان د اختطاف او قاچاق پر علیه د مبارزې قانون چې په (۴) فصلونو او (۲۳) مادو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د وزیرانو شوري د ۱۳۸۷/۴/۱۷ نېټې (۱۸) ګڼې مصوبې پر بنسټ تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان، د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې د ملي شوري ولسي جرګې ته وړاندې

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان
در مورد توشیح قانون
مبارزه علیه اختطاف و
قاچاق انسان

شماره: (۵۲)
تاریخ: ۱۳۸۷/۴/۲۴

مادۀ اول:
به تأسی از حکم مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۸) مؤرخ ۱۳۸۷/۴/۱۷ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان بداخل (۴) فصل و(۲۳) ماده تصویب گردیده است، توشیح می دارم.

مادۀ دوم:
وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند ، این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی،به ولسی جرگۀ شورای ملی تقدیم

کړي.

درېيمه ماده:
دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوريت
رئيس

نمایند.

مادۀ سوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی
افغانستان

د انسان د اختطاف او قاچاق پر علیه د مبارزې قانون لومړی فصل عمومي حکمونه

مبني

لومړی ماده:

دغه قانون د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو پر علیه د مبارزې په منظور، وضع شوی دی.

موخې

دوه یمه ماده:

د دغه قانون موخې عبارت دي له :

۱- د انسان د اختطاف او قاچاق دجرمونو له ارتکاب څخه مخنیوی.

۲- د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو له مجني علیه (په خاصه ښځو او اطفالو) څخه ملاتړ.

۳- دانسان داختطاف اوقاچاق پر علیه دمبارزې په کارکې د بین المللي متقابلې هم غړې او همکارۍ تأمینول.

۴- د انسان د قاچاق د جرمونو په هکله د ملګرو ملتونو پروتوکولونو د ګټو په پام کې نیول.

۵- د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو د مرتکبینو مجازات.

قانون مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان فصل اول احکام عمومی

مبنی

مادۀ اول:

این قانون به منظور مبارزه علیه جرایم اختطاف و قاچاق انسان وضع گردیده است.

اهداف

مادۀ دوم:

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- جلوگیری از ارتکاب جرایم اختطاف و قاچاق انسان.

۲- حمایت از مجنی علیه جرایم اختطاف و قاچاق انسان (بخصوص زنان واطفال).

۳- تأمین هماهنگی و همکاری متقابل بین المللی در امر مبارزه علیه اختطاف و قاچاق انسان.

۴- رعایت مفاد پروتوکول های ملل متحد راجع به جرایم قاچاق انسان.

۵- مجازات مرتکبین جرایم اختطاف وقاچاق انسان.

اصطلاحګاني

دريمه ماده:

پدې قانون کې لاندې اصطلاحګاني دغه مفاهيم افاده کوي:

۱- اختطاف : له ګواښ يا له قوې (زور) څخه په ګټې اخستنې يا د وېرونو په نورو ډولونو يا په چل او تېر ايستنې سره يا له جسمي يا رواني کم زورتيا څخه په ګټې اخستنې يا د نوي زېږېدلي طفل سره د بل نوي زېږېدلي طفل بدلول يا له والدينو يا قانوني سرپرست څخه د طفل لرې کول يا په نا استوګن ځای کې د طفل پرېښودل دي که څه هم چې داسی عملونه د ګټې اخستنې په مقصد وي يا ضرر رسولو.

۲- د انسان قاچاق: د اقتصادي ضعف يا د مجبوريت د حالت څخه په ګټې اخستنې سره د پيسو يا ګټې د ورکړې يا ترلاسه کولو او يا له نورو غولوونکو لارو څخه د مجني عليه يا هغه شخص چې د هغه سرپرستي په غاړه لري د رضايت د ترلاسه کولو لپاره، د ګټې اخستلوپه مقصد د شخص لېږدول، حمل او نقل (ترانزيت) استخدامول، ساتل اويا په واک کې

اصطلاحات

مادۀ سوم:

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- اختطاف: ربودن شخص با استفاده از تهدید یا استعمال قوه (زور) یا انواع دیگر ارعاب یا کاربرد حیله و فریب یا با استفاده از ناتوانی جسمی یا روانی یا تبدیل نمودن طفل نوزاد با طفل نوزاد دیگر یا دور نمودن طفل از والدین یا سرپرست قانونی وی و یا رها نمودن طفل در محل غیرمسکون است اعم از اینکه چنین اعمال به مقصد بهره برداری باشد یا رسانیدن ضرر.

۲- قاچاق انسان: انتقال، حمل و نقل (ترانزیت)، استخدام، نگهداری یا در اختیارگرفتن شخص است به مقصد بهره برداری با استفاده از ضعف اقتصادی یا حالت مجبوریت از طریق پرداخت یا دریافت پول یا منفعت و یا سایر روش های فریب دهنده جهت کسب رضایت مجنی علیه یا شخصی که سر پرستی وی را به عهده

اخستل دي.
۳- ګټه اخستل:د استخدام، پېرودلو او پلورلو په، جنسي، جنايي د اخلاقو د منافي تصويرونو يا فلمونو (پورنوګرافي) د برابرولو، په وسله والو جګړو کې د فعاليتونو او اجباري کار په ګمارلو او د بدن د غړي يا انساجو د اخستلو، د طبي او روغتيايي ازموينو يا نورو غير قانوني فعاليتونو ته دار ايستلو له لارې، د انسان د اختطاف يا قاچاق د جرمونو له مجني عليه څخه، د ګټې تر لاسه کول دي.
۴- د انسان اختطاف کوونکی او قاچاق وړونکی: هغه حقيقي يا حکمي شخص دی چې د انسان په اختطاف او قاچاقو کې په خپلواکه يا په ډله ييزه توګه فعاليت کوي يا د انسان اختطاف يا قاچاق ترغيبوي، هڅوي يا دهغو د ارتکاب لپاره وسايل او آسانتياوې برابر وي.
۵- جنايت کاره ډله: له دريو يا له هغه څخه د زياتو جوړه ډله ده چې پدې قانون کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ يا زياتو د ارتکاب د موخې په لرلو سره متفقاً اقدام کوي.

دارد.
۳- بهره برداری: کسب منفعت از مجنی علیه جرایم اختطاف یا قاچاق انسان ازطریق استخدام خرید، فروش، گماشتن به فعالیت های جنسی، جنائی، تهیۀ تصاویر یا فلم های منافی اخلاق (پورنوگرافی)، جنگهای مسلحانه و کاراجباری، برداشت عضو یا انساج بدن، آزمایشات طبی و صحی یا وادار نمودن به سایر فعالیت های غیر قانونی می باشد.
۴- اختطاف کننده و قاچاقبر انسان: شخص حقیقی یا حکمی است که در اختطاف و قاچاق انسان به طور مستقل یا بشکل گروهی فعالیت نموده یا اختطاف یا قاچاق انسان را ترغیب، تشویق یا وسایل و تسهیلات را جهت ارتکاب آن فراهم می نماید.
۵- گروه جنایت کار: گروه متشکل از سه نفر یا بیشتر از آن است که با داشتن هدف ارتکاب یکی از جرایم مندرج این قانون یا بیش از آن، متفقاً اقدام نمایند.

۶- مجنـي علیـه: هغـه حقیقـي شخص دی چې د دې مـادې پـه (۱ او ۲) جزکـي پـه درج شـوو مقصدونو اختطاف یا قاچاق‌کېږي.

۶- مجنی علیه: شخصی حقیقی است که به مقاصد مندرج اجزای (۱ و۲) ایـن مـاده اختطـاف یـا قاچاق می‌گردد.

د انـسان د اختطـاف او قاچـاق د جرمونـو پـر علیـه د مبـارزې عـالي کمېسیون

څلورمه ماده:

د انـسان د اختطـاف او قاچـاق لـه جرمونو سره د مبارزې او پدې برخه کې د اړوندو مراجعـو تـرمنځ د هـم غـړې د تـأمینولو پـه منظـور، د عدلیې وزیر تر مشرۍ لاندې، په لاندې ترکیب، د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونـو پـر علیـه عـالي کمېسیون جوړېږي:

۱- د لویې څارنوالۍ استازی.
۲- دکورنیوچارو وزارت استازی.
۳- د بهرنیو چارو وزارت استازی.
۴- دکار او ټولنیزو چارو شهیدانو او معلولینو ووزارت استازی.
۵- د پوهنې وزارت استازی.
۶- داطلاعـاتو او فرهنـګ وزارت استازی.
۷- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت استازی.
۸- دعامې روغتیاوزارت استازی.
۹- دښځو د چارو وزارت استازی.

کمیـــسیون عـــالی مبـــارزه علیـه جـرایم اختطـاف و قاچـاق انسان

مادۀ چهارم:

بـه منظـور مبـارزه علیـه جـرایم اختطـــاف و قاچـــاق انـــسان و تـأمین همـآهنگی میـان مراجـع ذیربط در زمینه،کمیسیون عـالی مبـارزه علیـه جـرایم اختطـاف و قاچاق انسان تحت ریاست وزیر عدلیـه بـه ترکیـب ذیـل ایجـاد می گردد:

۱- نمایندۀ لوی څارنوالی.
۲- نمایندۀ وزارت امور داخله.
۳-نمایندۀ وزارت امور خارجه.
۴- نماینـدۀ وزارت کـار و امـور اجتماعی، شهداء ومعلولین.
۵- نمایندۀ وزارت معارف.
۶-نماینـدۀ وزارت اطلاعـات و فرهنگ.
۷- نماینـدۀ وزارت ارشـاد، حـج و اوقاف.
۸- نمایندۀ وزارت صحت عامه.
۹- نمایندۀ وزارت امـور زنان.

۱۰- د مهـــاجرینو د راســـتنولو وزارت استازی.
۱۱- د ملـــي امنیـــت د عمـــومي ریاست استازی.
۱۲- دافغانستان دبشر د حقوقو د خپلواک کمېسیون استازی.
۱۳- د عـدلیې وزیـر پـه ټاکنـه، د اړوندو ټولنیزو سازمانونو دوه تنه استازي.

دکمېسیون دندې او واکون
پنځمه ماده:
(۱) دانسان د اختطاف او قاچاق د جرمونـو پـرخلاف د مبـارزې عـالي کمېـــسیون، د لانـــدې دنـــدو او واکونو لرونکی دی:
۱- د هبـــواد پـــه کچـــه د انـــسان داختطـــاف او قاچـــاق دجرمونـــو د ارتکاب دعواملو کتنه او ارزونه.
۲- د تبلیغـاتو او عامـه پوهـاوي پـه ګډون د انسان داختطاف او قاچاق د جرمونـــو لـــه ارتکـــاب څخـــه د مخنیـوي پـه منظـور، دپروګرامونـو طرح او تطبیقول.
۳- د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو په کـار کې د اړوندو ادارو او مراجعـو د فعالیـت دهـم غـړې تأمینول .
۴- د انسان د اختطاف او قاچاق د

۱۰- نماینـــدۀ وزارت عـــودت مهاجرین.
۱۱- نماینـدۀ ریاسـت عمـومی امنیت ملی.
۱۲- نماینـدۀ کمیـسیون مـستقل حقوق بشر افغانستان.
۱۳- دو نفـر نماینـدگان سـازمان های اجتمـاعی ذیـربط بـه انتخـاب وزیرعدلیه.

وظایف وصلاحیت های کمیسیون
مادۀ پنجم :
(۱)کمیـسیون عـالی مبـارزه علیـه جـرایم اختطـاف و قاچـاق انـسان، دارای وظـایف وصـلاحیت هـای ذیل می باشد:
۱- مطالعـــه و ارزیـــابی عوامـــل ارتکـاب جرایم اختطاف و قاچاق انسان در سطح کشور.
۲- طرح و تطبیـق پـروگرام ها بـه شمول تبلیغات و آگاهی عامـه بـه منظـــور جلـــوگیری از ارتکـــاب جـــرایـــم اخـــتطاف و قـاچـــاق انسان.
۳- تأمین هماهنگی فعالیت های ادارات و مراجـع ذیـربط در امـر مبـارزه علیـه جـرایم اختطـاف و قاچاق انسان.
۴- جمـــع آوری ارقـــام جـــرایم

جرمونـــو د ارقـــامو راټولـــول او خپرول.
۵- د اړوندو قوانینو د حکمونو د تعـــدیل پـــه اړه د وړانـــدیز وړاندې کول.
۶- دانسان د اختطاف او قاچاقو دجرمونو دکلنۍ رپوټ برابرول او حکومت ته د هغه وړاندې کول.
۷- نورې هغه دندې چې د حکومت لخوا سپارل کېږي.
(۲) د کمېسیون دفعالیت ډول، د هغې لایحې په واسطه تنظیمېږي چې د کمېسیون لخوا تصویبېږي.

دوه یم فصل
د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو مجازات

اختطاف

شپږمه ماده:
(۱) هغه شخص چې په ګواښ یا د قوې په استعمال یا د وېرې په نورو ډولونو یا له مسمومونکو مواد و څخه په ګټې اخستنې سره بـل اختطـاف کـړي، پـه اوږدۀ حبس چې له دوولسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.
(۲) هغه شخص چې په چل او تېر ایستنې فریب سره، بل اختطاف کړي،پـه اوږدۀ حـبس چـې لـه اختطاف و قاچاق انسان و نشر آن.
۵- ارایـــۀ پیـــشنهاد مبنـــی بـــر تعـــدیل احکـــام قـــوانین مربوطه.
۶- ترتیب گزارش سالانۀ جرایم اختطاف و قاچاق انسان و ارایۀ آن به حکومت.
۷- سایر وظایفی که از طرف حکومت محول می شود.
(۲) طرز فعالیت کمیسیون توسط لایحه ای تنظیم می گردد که از طرف کمیسیون تصویب می‌شود.

فصل دوم
مجازات جرایم اختطاف وقاچاق انسان

اختطاف

مادۀ ششم:
(۱) شخصی که دیگری را با تهدید یا استعمال قوه یا انواع دیگر ارعاب و یا با استفاده از مـــواد مـــسموم کننـــده اختطـاف نماید، به حبس طویلی که از دوازده سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.
(۲) شخصی که دیگری را با حیله و فریب اختطاف نماید، به حبس طویلی که از هشت سال

اتوکلونوځخه کم نه وي، محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې له جسمي یا روانې کمزورتیا څخه په ګټې اخستنې سره بل اختطاف کړي، په اوږدۀ حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۴) هغه شخص چې ددې مادې په (۱ ، ۲ او ۳) فقره کې له درج شوو لارو او وسایلو څخه ګټې اخستنې سره بل اختطاف کړي او د هغۀ د پرېښودولو په بدل کې مال یا ګټه وغواړي یا واخلي، د اوږدۀ حبس په اکثر حد ، محکومېږي.

(۵) هغه شخص چې طفل په نااستوګن ځای کې پریږدي، په متوسط حبس، محکومېږي.

(۶) هغه شخص چې نوی زېږېدلی طفل له بل نوي زېږېدلي طفل سره په هر ډول چې وي، بدل کړي، په اوږدۀ حبس چې له اتو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۷) هغه شخص چې طفل له هغو اشخاصو څخه چې پر هغۀ باندې قانوني سلطه لري، لرې کړي یا هغه پټ کړي یا هغۀ په دروغو سره دهغۀ له مور غیر ته نسبت ورکړي، له احوالو سره سم په اوږدۀ حبس چې له اتو کلونو څخه لږ نه وي،

کمتر نباشد ، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که دیگری را با استفاده از ناتوانی جسمی یا روانی وی اختطاف نماید ، به حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد ، محکوم می‌گردد.

(۴) شخصی که دیگری را با استفاده از طرق و وسایل مندرج فقره های (۱ ، ۲ و ۳) این ماده اختطاف نموده و در بدل رهائی وی مال یا منفعت را مطالبه یا اخذ نماید ، به حداکثر حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۵) شخصی که طفل را به محل غیر مسکون رها نماید ، به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(۶) شخصی که طفل نوزاد را با طفل نوزاد دیگر به هر نحوی که باشد ، تبدیل نماید ، به حبس طویلی که از هشت سال کمتر نباشد ، محکوم می‌گردد.

(۷) شخصی که طفل را از نزد اشخاصی که بالای او سلطۀ قانونی دارند ، دور سازد یا او را پنهان نماید یا او را کذباً به غیر از مادرش نسبت بدهد ، حسب احوال به حبس طویلی که از هشت سال

محکومیږي.

داختطاف دجرم مشدده حالات
اوومه ماده:
(۱) که چیرې مجني علیه طفل یا ښځه وي یا جرم د مجني علیه د مستخدم یا هغۀ شخص په واسطه چې مجني علیه دهغۀ تر واك، ساتنې یا روزنې لاندې وي، ارتکاب شي، مرتکب پدې قانون کې د درج شوي اټکل شوې اکثر حد په جزاءباندې، محکومیږي.
(۲) که چیرې مجني علیه جنسي فعالیتونو یا د اخلاقو منافي تصویرونو یا فلمونو (پورنوګرافي) برابرولو ته د ګمارلو له لارې، تر ګټې اخستنې لاندې راوستل شي، مرتکب د دوام لرونکې حبس په جزاء، محکومیږي.
(۳) که چیرې مجني علیه وسله والې جګړې یا اجباري کار، طبي ازموینو او نورو غیر قانوني فعالیتونو ته د ګمارلو له لارې تر ګټې اخستنې لاندې راوستل شوی وي، مرتکب د اوږدۀ حبس په اکثر حد جزاء باندې، محکومیږي.
(۴) که چیرې ددې مادې کمتر نباشد ، محکوم می گردد.

حالات مشددۀ جرم اختطاف
مادۀ هفتم:
(۱) هرگاه مجنی علیه طفل یا زن باشد یا جرم توسط مستخدم مجنی علیه یا شخصی که مجنی علیه تحت تسلط یا نگهبانی ویا تربیت وی قرار داشته، ارتکاب گردد ، مرتکب به حداکثر جزای پیش بینی شدۀ، مندرج این قانون محکوم می گردد.
(۲) هرگاه مجنی علیه از طریق گماشتن به فعالیت های جنسی و تهیۀ تصاویر و فلم های منافی اخلاق (پورنوگرافی)، مورد بهره برداری قرار گیرد ، مرتکب به جزای حبس دوام ، محکوم می گردد .
(۳) هرگاه مجنی علیه از طریق گماشتن به جنگ مسلحانه یا کار اجباری ،آزمایشات طبی وسایر فعالیت های غیر قانونی مورد بهره برداری قرار گرفته باشد ، مرتکب به حد اکثرحبس طویل، محکوم می گردد.
(۴) هرگاه در حالات مندرج

په (۱ ، ۲ او ۳) فقرو کې په درج شوو حالاتو کې، له مجني علیه سره زنا یا لواط صورت مونډلی وي، مرتکب د اختطاف دجرم پر اټکل شوې جزا برسېره، د زنا یا لواط د جرم په مجازاتو باندې هم، محکومېږي.

(۵) ددې مادې د (۱، ۲، ۳ او ۴) فقرو په درج شوو حالاتو کې، د جزاء د قانون په (۱۴۵) ماده کې درج او نور قضائي مخففه حالات په پام کې نه نیول کېږي.

فقره های(۱، ۲و۳) این ماده با مجنی علیه زنا یا لواط صورت گرفته باشد، مرتکب علاوه بر جزای پیشبینی شده ای جرم اختطاف به مجازات جرم زنا یا لواط نیز محکوم می گردد.

(۵) در حالات مندرج فقره های (۱، ۲، ۳ و۴) این ماده حکم مادۀ (۱۴۵) وسایر احوا ل مخففه قضائی مندرج قانون جزا رعایت نمی گردد.

د شخص قاچاق

اتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې دانسان دقاچاق د جرم مرتکب شي، له احوالو سره سم په اوږدۀ حبس چې له اتو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

(۲) که چېرې مجني علیه طفل یا ښځه وي، مرتکب په اوږده حبس چې له دوولسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۳) که چېرې له مجني علیه سره زنا یا لواط صورت مونډلی وي، مرتکب د انسان د قاچاق د جرم پر اټکل شوې جزاء برسېره د زنا یا

قاچاق انسان

مادۀ هشتم:

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق انسان گردد ، حسب احوال به حبس طویل که ازهشت سال بیشتر نباشد ، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه مجنی علیه طفل یا زن باشد ، مرتکب به حبس طویل که از دوازده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه با مجنی علیه زنا یا لواط صورت گرفته باشد مرتکب علاوه برجزای پیش بینی شده‌ای جرم قاچاق انسان به مجازات

لـواط د جـرم پـه مجـازاتو هـم، محکومېږي.

جـرم زنـا یـا لـواط نیـز محکـوم می‌گردد.

د مجني علیه د غړي پرې کول یا معلولیت

نهمه ماده:

کـه چېـرې د انـسان د اختطـاف یـا قاچاق د جرم له امله د مجني علیه د بـدن لـه غـړو څخـه یـو غـړی لـه منځـه ولاړ شـي یـا معیـوب شـي، مرتکـب د عمـدی جـرح پـه جـزاء او کـه د مړینې سبب شي د عمدي قتـل پـه اټکـل شـوې جـزاء محکومېږي.

قطـع عـضو یـا معلولیـت مجنـی علیه

مادۀ نهم:

هرگـاه بـه اثـر جـرم اختطـاف یـا قاچـاق انـسان عـضوی از اعـضای بـدن مجنـی علیـه تلـف یـا معیـوب گـردد، مرتکـب بـه جـزای جرح عمدی و اگر منجر به مرگ شـود بـه جـزای پـیش بینـی شـدۀ قتـل عمـدی، محکـوم می گردد.

د بـدن د غـړي یـا انـساجو د پـرې کولو اواخستلو دفاعل مجازات

لسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې پدې قانون کې د درج شـوي مجنـي علیـه د بـدن غړي یا انساج پرې او اخستي وي، خـو د هغـۀ د مړینـې سـبب و نـه ګرځي، له احوالو سره سم، په اوږدۀ حبس محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱) فقره کې درج شوی عمـل د مجني علیـه د مړینـې سـبب و ګرځـي، مرتکب له احوالو سره سم، د دوام لرونکې حبس یا اعدام په مجازاتو

مجـازات فاعـل قطـع و برداشـت عضو یا انساج بدن

مادۀ دهم:

(۱) شخـصی کـه عـضو یـا انـساج بدن مجنی علیه مندرج ایـن قـانون را قطـع و برداشـت نمـوده ولـی منـتج بـه مـرگ وی نگـردد، حـسب احـوال بـه حـبس طویـل محکـوم می‌گردد.

(۲) هـرگـاه عمـل منـدرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به مرگ مـجـنـی علیـه شـود، مرتکـب حـسب احـوال بـه مجـازات حـبس دوام یـا اعـدام محکـوم

محکومیږي.

د حکمي شخص مجازات
یوولسمه ماده:
(۱)که چېرې د انسان د اختطاف یا قاچاق جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، له احوالو سره سم د فاعل او شریکانو پر مجازاتو سربېره، حکمي شخص د پنځو ملیونو افغانیو په نغدي جزا اود فعالیت د جواز په سلبېدو محکومیږي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې جریمه،د سترې محکمې په وړاندیز، د وزیرانو شوري په تصویب او د جمهور رئیس په منظوري تعدلېدلای شي.

د جنایت کارې ډلې مجازات
دوولسمه ماده:
که چېرې د انسان د اختطاف او قاچاق جرم، د جنایت کارې ډلې په واسطه ارتکاب شي، مرتکب یا مرتکبین، دارتکاب شوو جرمونو په اټکل شوې اکثر حد جزاء، محکومیږي.

می‌گردد.

مجازات شخص حکمی
مادۀ یازدهم:
(۱) هرگاه جرم اختطاف یا قاچاق انسان توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، حسب احوال علاوه بر مجازات فاعل و شرکا، شخص حکمی به جزای نقدی مبلغ پنج ملیون افغانی و سلب جواز فعالیت، محکوم می‌گردد.
(۲) جریمۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده به پیشنهاد ستره محکمه، تصویب شورای وزیران و منظوری رئیس جمهور تعدیل شده می تواند.

مجازات گروه جنایت کار
مادۀ دوازدهم:
هرگاه جرم اختطاف یا قاچاق انسان توسط گروه جنایت کار ارتکاب یابد، مرتکب یا مرتکبین به حداکثر جزای پیش بینی شدۀ جرایم ارتکاب یافته، محکوم می‌گردند.

دجرم د سازمانوونکي مجازات
دیارلسمه ماده:
هغه شخص چې جنایت کارې ډلې ته د انسان د اختطاف یا قاچاق د جرمونو لپاره سازمان ورکړي، رهبري یا یې اداره کړي، د جرم شریک پېژندل کېږي، په هغې جزاء چې د جرم د فاعل لپاره ټاکل شوېده، محکومېږي.

دمجرم دملاتړکوونکي مجازات
څوارلسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې په یو ډول نه یو ډول د کشف، تحقیق یامحاکمې په بهیر کې د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو له مظنونینو او تورنو سره مرسته وکړي یا حقایق پټ یا تحریف کړي یا د جرم د اثبات مدرکونه او دلایل له منځه یوسي، له احوالو سره سم دجرم د فاعل په ثلث جزاء، محکومېږي.
(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، د عامه خدمتونو مؤظف وي، پر ټاکل شوې جزاء سربېره، له دندې څخه په دایمی انفصال هم محکومېږي.

مجازات سازمانده جرم
مادۀ سیزدهم:
شخصی که گروه جنایتکار را جهت ارتکاب جرایم اختطاف یاقاچاق انسان سازمان دهی، رهبری یا اداره نماید، شریك جرم شناخته شده، به جزائی که برای فاعل جرم پیش بینی شده، محکوم می‌گردد.

مجازات حمایت کنندۀ مجرم
مادۀ چهاردهم:
(۱) شخصی که به نحوی از آنجا مظنونین و متهمین جرایم اختطاف و قاچاق انسان را در جریان کشف، تحقیق یا محاکمه مساعدت نموده یا حقایق را کتمان یا تحریف و یا مدارك ودلائل اثبات جرم را از بین ببرد، حسب احوال به ثلث جزای فاعل جرم، محکوم می‌گردد.
(۲) هرگاه شخص مندرج فقرۀ(۱) این ماده، مؤظف خدمات عامه باشد، علاوه برجزای معینه به انفصال دایمی از وظیفه نیز محکوم می‌گردد.

د اهمال مجازات
پنځلسمه ماده:
هغه شخص چې د اړوندې دندې د خصوصیت پربنسټ، دخاصو قواعدو او مقرراتو، په پام کې نیولو مکلف وي خو په اجراء کولو کې یې اهمال او غفلت وکړي او له املې ئې د انسان د اختطاف او قاچاق د جرم د ارتکاب د آسانولو موجب شي، مرتکب له احوالو سره سم په متوسط حبس، محکومېږي.

مجازات اهمال
مادۀ پانزدهم:
شخصی که به اساس خصوصیت وظیفوی مربوط، مکلف به رعایت قواعد و مقررات خاص بوده ولی دراجرای آن اهمال و غفلت نموده وبالاثر، موجب تسهیل ارتکاب جرم اختطاف یاقاچاق انسان شود، مرتکب حسب احوال به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

د جزایي مسئولیت معافیت او تخفیف
شپاړسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې په یو ډول نه یو ډول، پدې قانون کې د درج شوو جرمونو له مرتکبینو سره اړیکې او همکاري ولري خود هغو له ارتکاب څخه د مخه له مسئولو مراجعو سره دمرتکبینو په ښکاره کولو او نیولو کې مرسته وکړي، له جزائی مسئولیت څخه معافېږي.
(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مرسته، د جرم له ارتکاب څخه وروسته صورت ومومي او زمینه داسې برابره کړي چې دجنایت کارې ډلې د نورو غړو د نیولو سبب شي،

معافیت وتخفیف مسئولیت جزائی
مادۀ شانزدهم:
(۱) شخصی که به نحوی از انحا با مرتکبین جرایم مندرج این قانون ارتباط و همکاری داشته ولی قبل از ارتکاب آن مراجع مسئول را در افشاء وگرفتاری مرتکبین مساعدت نماید، از مسئولیت جزائی معاف می‌گردد.
(۲) هرگاه مساعدت مندرج فقرۀ(۱) این ماده بعد از ارتکاب جرم صورت گرفته و زمینه را طوری مساعد سازد که سبب گرفتاری سایر اعضای گروه جنایتکار شود، محکمه به

محکمه د اټکل شوو مجازاتو په تخفیف حکم کوي.

تخفیف مجازات پیشبینی شده حکم می نماید.

درېیم فصل
له مجني علیه څخه ملاتړ

فصل سوم
حمایت از مجنی علیه

دعدلي تعقیب منع
اووه لسمه ماده:
د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو مجني علیه، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

منع تعقیب عدلی
مادۀ هفدهم:
مجنی علیه جرائم اختطاف وقاچاق انسان مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد.

ساتنه
اتلسمه ماده:
(۱) که چېرې مجني علیه طفل وي، دهغۀ والدینو او قانوني سرپرست ته سپارل کېږي، د والدینو او قانوني سرپرست د نه شتون په صورت کې، مجني علیه د ټولنیزوخدمتونو په اختصاصي مؤسسه کې ساتل کېږي.
(۲)که چېرې مجني علیه ښځه وي، د هغې شرعي محرم ته سپارل کېږي د هغې د شرعي محرم د نه شتون یا له تسلیمۍ څخه د ډډې کولوپه صورت کې د ټولنیزو خدمتونو په اختصاصي مؤسسه کې ساتل کېږي.

نگهداری
مادۀ هجدهم:
(۱)هرگاه مجنی علیه طفل باشد، به والدین یا سرپرست قانونی وی سپرده می شود، در صورت عدم موجودیت والدین یا سرپرست قانونی، مجنی علیه در مؤسسۀ اختصاصی خدمات اجتماعی نگهداری می شود.
(۲) هرگاه مجنی علیه زن باشد، به محرم شرعی وی تسلیم داده میشود در صورت عدم موجودیت محرم شرعی وی یا خود داری از تسلیمی در موسسۀ اختصاصی خدمات اجتماعی نگهداری می شود.

مجنـي عليـه تـه د روغتيـايي خدمتونو وړاندې کول
نولسمه ماده:
د کـشف او تحقيـق مراجـع مکلفـې دي، مجني عليـه په بيړنۍ توګه د درملنې لپـاره روغتيـايي مرکزونـو ته واستوي.

د زيان د جبران غوښتنه
شلمه ماده:
(۱) مجنـي عليـه يـا دهغـۀ قانوني استازی کولی شي،د زيان د جبـران غوښـتنليک چې هغـه تـه اوښـتی دی، عـدلي او قـضايي مراجعو ته وړاندې کړي.
(۲) کـه چېـرې د افغانـستان تبعـه مجنـي عليـه، بهرنـي هېـواد تـه لېږدول شوی وي، د ملاتړ وړ دی، کـولی شـي پـه بهـر کـې د هېـواد سياسـي يـا قونـسلي نماينـدګۍ تـه مراجعه وکړي. سياسي يـا قونـسلي نماينـدګي مکلفـه ده، د مظنـون دعـدلي تعقيـب اود مجنـي عليـه د زيان د جبران لپاره د مېشت هېواد د بهرنيـو چـارو وزارت يـا دهغـۀ د سياسـي نماينـدګۍ لـه لارې، هـر اړخيزه هڅه وکړي.

عرضـۀ خـدما ت صـحی بـه مجنی علیه
مادۀ نزدهم:
مراجع کشف و تحقیق مکلف‌اند، مجنی علیه را طور عاجل غرض تـداوی بـه مراکـز صـحی اعـزام نمایند.

درخواست جبران خساره
مادۀ بیستم:
(۱) مجنـی علیـه یانماینـدۀ قـانونی وی مـی توانـد درخواست جبـران خـساره را کـه بـه وی عاید گردیده، به مراجع عدلی و قضائی ارائه نمایند.
(۲) هرگـاه مجنـی علیـه تبعـۀ افغانـستان بـه کـشور خـارجی انتـقال گردیـده باشـد، قابـل حمایت بوده، می تواند در خارج به نمایندگی سیاسی یا قونسلی کشور مراجعه نماید. نمایندگی سیاسی یا قونسلی مکلف است، جهـت تعقیـب عـدلی مظنـون و جبـران خـساره مجنـی علیـه از طریـق وزارت امـور خارجۀ دولت مقـیم یـا نماینـدگی سیاسـی آن، مساعی همه جانبه نماید.

د مجني علیه د بېرته راګرځولو په هکله د تدبیرونو نیول

یوویشتمه ماده:

(۱) د کورنیو چارو، بهرنیو چارو، عامې روغتیا، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو، د بنځو د چارو وزارتونه مکلف دي، د مجني علیه ملاتړ وکړي اوخپلې کورنۍ یا امن ځای ته د هغۀ د بېرته راګرځولو په هکله، لازم تدبیرونه ونیسي.

(۲) که چېرې مجني علیه د بهرني دولت تبعه وي،د هغۀ د متبوع هېواد سیاسي نمایندګۍ ته ورتسلیمېږي.

د نه رضائیت په صورت کې، د قانون د حکمونو مطابق، تر شپږو میاشتو پورې په هېواد کې د لنډ مهالې استوګنې سند ورته صادرېږي. د اړتیا په صورت کې، دغه موده تمدید بدی شي.

(۳) افغاني سیاسي نمایندګۍ مکلفې دي، د افغانستان د تبعه مجني علیه د بېرته راګرځولو لپاره، لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.

اتخاذ تدابیر در مورد بازگردانیدن مجنی علیه

مادۀ بیست ویکم:

(۱) وزارت های امور داخله، امور خارجه، صحت عامه، کار و امور اجتماعی، شهدا و معلولین، امور زنان و سایر ادارات ذیربط مکلفاند، مجنی علیه را تحت حمایت قرارداده و در مورد بازگشت مجدد وی به خانواده یا محل امن، تدابیر لازم را اتخاذ نمایند.

(۲) هرگاه مجنی علیه تبعۀ دولت خارجی باشد، به نمایندگی سیاسی کشور متبوع وی تسلیم داده می شود.

درصورت عدم رضایت، طبق احکام قانون سند اقامت مؤقت درکشور الی ششماه برایش صادر می شود . در صورت ضرورت، این مدت تمدید شده می تواند.

(۳) نمایندگی های سیاسی افغانی مکلف اند ، جهت باز گشت مجنی علیه تبعۀ افغانستان، سهولت های لازم را فراهم نمایند.

څلورم فصل
وروستني حکمونه

مصادره

دوه ویشتمه ماده:

(۱) هغه وجوه او شتمنۍ چې د انسان د اختطاف او قاچاق د جرمونو له ارتکاب څخه لاسته راغلي يا يې په ارتکاب کې استعمال شوي او يا د جرم په ارتکاب کې داستعمال په نيت برابر شوي وي، مصادره کېږي.

(۲) که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې د مصادرې حکم يې صادر شوی، ترلاسه نشي، محکمه د هغو د معادل وجوهو او شتمنيو په مصادرې حکم صادروي.

(۳) هغه وجوه او شتمنۍ چې دانسان د اختطاف او قاچاقو د جرمونو د څېړنې په پايله کې لاسته راځي، د مجنې عليه د زيان له جبران وروسته، د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحويلېږي.

انفاذ

درويشتمه ماده:

دغه قانون د توشيح له نېټې څخه وروسته نافذ او په رسمي جريده کې دې خپور شي او په نافذ ېدو

فصل چهارم
احکام نهائی

مصادره

مادۀ بیست ودوم:

(۱) وجوه و دارائی های که از ارتکاب جرایم اختطاف و قاچاق انسان به دست آمده یا در ارتکاب آن استعمال گردیده و یا به قصد استعمال در ارتکاب جرم تهیه شده باشد، مصادره می شود.

(۲) هرگاه وجوه و دارائی های که حکم به مصادره آن صادر گردیده، دستیاب شده نتواند، محکمه به مصادرۀ وجوه و دارائی‌های معادل آن، حکم صادر می‌نماید.

(۳) وجوه ودارائی های که در نتیجۀ رسیدگی جرایم اختطاف یا قاچاق انسان به دست می آید، بعد از جبران خسارۀ مجنی علیه به حساب واردات دولت، تحویل بانك می گردد.

انفاذ

مادۀ بیست وسوم:

این قانون بعد از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر مي گردد و با انفاذ آن مادۀ

سره یې د ۱۳۵۵ کال په (۳۴۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوي د جزاء د قانون ۳۵۶ ماده او له (۴۱۸ څخه تر ۴۲۴) پورې مادې، د اطفالو د اختطاف او قاچاق دجرمونو پرخلاف دمبارزې دسختولو په هکله د افغانستان دانتقالي اسلامي دولت د رئیس د ۱۳۸۳/۴/۱۳ نېټې (۴۷) ګڼه تقنیني فرمان او نور مغایر حکمونه، لغو ګڼل کېږي.

۳۵۶ و مواد (۴۱۸ الی ۴۲۴) قانون جزا منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۳۴۷) سال ۱۳۵۵، فرمان تقنینی شماره (۴۷) مؤرخ ۱۳۸۳/۴/۱۳ رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان درمورد تشدید مبارزه علیه جرایم اختطاف و قاچاق اطفال و سایر احکام مغایر، ملغی شمرده می شود.

قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم

دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

ګڼه: (۱۳۶۹۹)
نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶

د عدلیې وزیر محترم قانونپوه عبدالرحیم کریمې!
د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۵) فصلونو او (۳۰) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب او د ۱۳۸۳/۷/۲۶ نېټې د (۸۲) ګڼې فرمان پر بنسټ زموږ لخوا منظور شوی دی، تاسوته درواستول شو چې په رسمي جریده کې یې په خپرولو اقدام وکړئ.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره: (۱۳۶۹۹)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

محترم قانونپوه عبدالرحیم کریمی وزیر عدلیه!
قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم را که بداخل (۵) فصل و (۳۰) ماده از طرف مجلس عالی وزراء تصویب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۸۲) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۶ منظور گردیده است، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدۀ رسمی اقدام نمائید.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې د قانون د انفاذ په هکله د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان

ګڼه: (۸۲)
نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶

لومړۍ ماده:
د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۵) فصلونو او (۳۰) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا د ۱۳۸۳/۷/۲۰ نېټې د(۳۱) ګڼې مصوبې پر بنسټ تصویب شوی دی توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

فرمان
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در مورد انفاذ قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم

شماره: (۸۲)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

مادۀ اول:
قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۰ از طرف مجلس عالی وزراء بداخل (۵) فصل و (۳۰) ماده تصویب گردیده است، توشیح میدارم.

مادۀ دوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

هدف
لومړی ماده:
دغه قانون د اساسي قانون د اوومې مادې د حکم په رڼا کې د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې په منظور وضع شوی دی.

اصطلاحګانې
دوه یمه ماده:
لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې معناوې افاده کوي:
۱-.وجوه او شتمنی: له هر ډول مادي او غیر مادي، شرکتي او غیر شرکتي، منقولو او غیر منقولو، عیني او غیر عیني شتمنیو او د الکترونیکي او دیجیتل سندونو په ګډون له هغو قانوني سندونو یا مدارکو څخه عبارت دي چې د دې ډول شتمنیو مالکیت یا په هغو کې ګټې درلودل ثابت کړي.
۲- دولتي ودانۍ او تجهیزات: له ودانیو، نقلیه وسایلو او هغو مؤقتو یا دایمي وسایلو او

قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم
فصل اول
احکام عمومی

هدف
مادۀ اول:
این قانون در روشنی حکم مادۀ هفتم قانون اساسی به منظور مبارزه علیه تمویل تروریزم وضع گردیده است.

اصطلاحات
مادۀ دوم:
اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می‌نماید:
۱- وجوه و دارائی ها: عبارت است از هر نوع دارائی های مادی و غیر مادی، شرکتی و غیر شرکتی، منقول و غیر منقول، عینی و غیر عینی و اسناد یا مدارک قانونی به شمول اسناد الکترونیکی و دیجیتل که مالکیت دارائی‌ها یاداشتن منافع در آن را ثابت نماید.
۲- عمارات و تجهیزات دولتی: عبارت است از عمارات، وسائل نقلیه و تجهیزات مؤقت یا

تجهیزاتو څخه عبارت دي چې د ټولو دولتي او بین الحکومتي سازمانونو د کارکوونکو او د نورو دولتي مراجعو د مسئولینو لخوا د خپلو رسمي دندو له پرمخ بیولو سره په رابطه کې تصرف او تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۳- له جرمونو څخه منځته راغلي عواید: له هر ډول هغو وجوهو او شتمنیو څخه عبارت دي چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د دې قانون په درېیمه ماده کې د درج شوي جرم له ارتکاب څخه تر لاسه شوي وي.

۴- کنوانسیون: د تروریزم له تمویل څخه د مخنیوي په هکله له نړیوال کنوانسیون څخه عبارت دی چې د (۲۰۰۰) میلادي کال د جنورۍ په لسمه نېټه لاسلیک شوی دی.

دائمی که توسط تمام کارکنان دولتی و سازمانهای بین الحکومتی و سایر مسئولین مراجع دولتی در رابطه با پیشبرد وظایف رسمی آنها تصرف و مورد استفاده قرار می‌گیرد.

۳- عواید ناشی از جرایم: عبارت است از هر نوع وجوه و دارائی های که طور مستقیم یا غیر مستقیم از طریق ارتکاب جرم مندرج مادۀ سوم این قانون حاصل گردیده باشد.

۴- کنوانسیون: عبارت است از کنوانسیون بین المللی در مورد جلوگیری از تمویل تروریزم که به تاریخ دهم جنوری سال (۲۰۰۰) میلادی به امضاء رسیده است.

د تروریزم د تمویل جرم

درېیمه ماده:

(۱) شخص هغه وخت د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب ګڼل کېږي چې وجوه او شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه، عمداً او په غیر قانوني صورت سره برابرې او راټولې یا یې د برابرولو او راټولولو

جرم تمویل تروریزم

مادۀ سوم:

(۱) شخص زمانی مرتکب جرم تمویل تروریزم شناخته می‌شود که وجوه و دارائی ها را طور مستقیم یا غیر مستقیم عمداً و بصورت غیر قانونی تهیه و جمع آوری یا سعی به تهیه و جمع آوری آن

هڅه وکړي يا وجوه او شتمنۍ او نور خدمتونه پدې باندې په پوهېدو سره چې قسماً يا کلاً په لاندې يادو شويو فعاليتونو کې تر ګټې اخېستنې لاندې نيول کېږي برابري او راټولې کړي يا يې د برابرولو او راټولولو هڅه وکړي:

۱- هر هغه عمل چې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي په کنوانسيون کې د درج شوو ضميمو مطابق د جرم په توګه پېژندل شوی او د افغانستان دولت ورسره الحاق کړی وی.

۲- هر هغه عمل چې د ملکي افرادو يا نورو هغو اشخاصو د وژلو يا شديد ټپ په نيت چې په دښمنيو او وسله والو شخړو کې يې فعاله ونډه نده اخيستې، صورت ومومي او هدف يې د ماهيت او قرينې له نظره د يوې ټولګې (جمعيت) ترمنځ ترهګري يا د يوۀ عمل تر سره کولو يا نه تر سره کولو ته د حکومت او يا نړيوال سازمان مجبورول وي.

(۲) هر هغه عمل چې د دې مادې د (۱) فقرې د حکم مطابق، د جرم د متشکله عناصرو له جملې څخه وي، لدې پرته چې له وجوهو او شتمنيو څخه واقعاً د نومورې نموده يا وجوه و دارائی ها و سایر خدمات را با داشتن علم و آگاهی از اینکه قسماً یا کلاً به منظور پیشبرد فعالیت های ذیل مورد استفاده قرار می‌گیرد، تهیه و جمع آوری و یا سعی به تهیه و جمع آوری آن نماید:

۱- هر عملیکه مطابق ضمائم مندرج کنوانسیون جلوگیری از تمویل تروریزم به حیث جرم شناخته شده و دولت افغانستان به آن الحاق نموده باشد.

۲- هر عملی که به قصد قتل یا جراحت شدید افراد ملکی یا سایر اشخاص که سهم فعال در خصومت ها و منازعات مسلحانه نداشته، صورت گیرد و هدف آن از نگاه ماهیت و قرینه دهشت افگنی در بین یك جمعیت یا وادارساختن حکومت یا سازمان بین المللی به انجام یا عدم انجام یك عمل باشد.

(۲) هر عملی که مطابق حکم فقرۀ (۱) این ماده از جملۀ عناصر متشکلۀ جرم باشد، صرف نظر از اینکه از وجوه و دارائی ها واقعاً برای انجام جرم مندرج اجزای (۱ و

فقرې په (۱ او ۲) جزء کې د درج شوي جرم د سرته رسولو لپاره له هغو څخه کتله اخیستل شوې وي.

(۳) شخص په لاندې حالاتو کې هم د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب ګڼل کېږي:

۱- چې د دې مادې په (۱) او (۲) فقره کې د درج شوې جرم د شریک په توګه برخه واخلي.

۲- نورو اشخاصو ته پدې ماده کې د درج شوي جرم د ارتکاب په غرض، سازمان ورکړي، لارښوونه یې وکړي او یا یې ولمسوي.

۳- پدې ماده کې د درج شوي یوؤ یا له یوؤ څخه د زیاتو جرمونو په ارتکاب کې له هغو اشخاصو سره چې د یوؤ ګډ هدف لپاره په عمل لاس پورې کوي، د جرم د ارتکاب په هکله د هغو له هدف څخه له پوهې او خبرتیا سره سره همکاري وکړي او یا یې د هدفونو د سرته رسولو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.

(۴) پدې ماده کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب د توجیه کولو لپاره سیاسي، عقیدتي، توکمیزې او قومي ملاحظې او نور ورته موارد، د اعتبار وړ نه ګڼل کېږي.

۲) فقرهٔ مذکور از آن استفاده صورت گرفته باشد جرم تلقی می‌شود.

(۳) شخص در حالات آتی نیز مرتکب جرم تمویل تروریزم شناخته می‌شود:

۱- به حیث شریك در جرم مندرج فقره های (۱) و (۲) این ماده سهم بگیرد.

۲- سائر اشخاص را غرض ارتکاب جرم مندرج این ماده سازمان دهی، رهنمائی و یا تحریك نماید.

۳- در ارتکاب یك یا بیشتر از یك جرم مندرج این ماده با اشخاصی‌که برای یك هدف مشترك دست به عمل می زنند، با وصف داشتن علم و آگاهی از هدف آنها مبنی بر ارتکاب جرم همکاری نموده و یا تسهیلات لازم را جهت برآوردن اهداف شان فراهم نماید.

(۴) برای توجیه ارتکاب جرائم مندرج این ماده ملاحظات سیاسی،عقیدتی، نژادی، قومی، مذهبی و سایر موارد مشابه آن مدار اعتبار پنداشته نمی‌شود.

دوه يم فصل
اجباري تدبيرونه او مجازات

د حقيقي اشخاصو مجازات
څلورمه ماده:

۱-.هغه شخص چې د تروريزم د تمويل د جرم مرتکب وګرځي، د حبس په مجازاتو چې موده يې له پنځو کلونو څخه لږ او له پنځلسو کلونو څخه زياته نه وي او نقدي جريمه چې له دوه سوه پنځوسو زرو افغانيو څخه لږ او له يو مليون او پنځه سوه زرو افغانيو څخه زياته نه وي، محکومېږي.

۲- د تروريزم د تمويل د جرم د ارتکاب ګډون کوونکی، مرستندوی، آسانتياوې برابروونکی، قصد کوونکی او سلاورکوونکی او هغه اشخاص چې له دوی سره په يووالي يا توافق کې وي، د جرم د فاعل په ډول مجازات کېږي.

د حکمي اشخاصو مجازات
پنځمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې د تروريزم دتمويل جرم، د کارکوونکي (کارمند)، د حکمي شخصيت د وکيل يا نماينده لخوا

فصل دوم
تدابير اجباری و مجازات

مجازات اشخاص حقیقی
مادۀ چهارم:

(۱) شخصی‌که مرتکب جرم تمویل تروریزم گردد، به مجازات حبسی که مدت آن از پنج سال کمتر و از پانزده سال بیشتر و جریمه نقدی ایکه از مبلغ دو صد و پنجاه هزار افغانی کمتر و از یک ملیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

(۲) اشتراك کننده، معاونت کننده، تسهیلات فراهم آورنده، قصد کننده و مشوره دهنده به ارتکاب جرم تمویل تروریزم و اشخاصی که در اتحاد یا توافق با آنها قرار داشته باشند، مانند فاعل جرم مجازات می‌گردند.

مجازات اشخاص حکمی
مادۀ پنجم:

(۱) در صورتی‌که جرم تمویل تروریزم توسط کارمند، وکیل و یا نمایندۀ شخصیت حکمی ارتکاب گردد شخصیت حکمی به جریمۀ

ارتکاب شي، حکمي شخصیت په نقدي جریمه چې له یو ملیون او پنځه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له څلور ملیونو او پنځه سوه زرو افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي، دغه حکم، حکمي شخصیت ته منسوب پر حقیقي اشخاصو باندې د مجازاتو د اصل د تطبیق خنډنه ګرځي. په دولت پورې مربوط حکمی شخصیت لدې امر څخه مستثني دی.

(۲) حکمي شخصیت د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو مجازاتو بر سېره په لاندې مجازاتو هم محکومېدای شي:

۱- په دایمي توګه یا لږ تر لږۀ د پنځو کلونو لپاره دځینو سوداګریزو فعالیتونو له مستقیم او یا غیر مستقیم پر مخبیولو څخه منع کول.

۲- په دایمي توګه یا لږ تر لږه د پنځو کلونو لپاره د هغو اړوندو ودانیو چې پدې قانون کې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې ور څخه ګټه اخیستل شوې وي، بندول.

۳- د شرکت منحلول، پدې شرط چې له جوړېدو څخه یې هدف د جرم ارتکاب وي.

نقدی که از مبلغ یک ملیون و پنجصد هزار افغانی کمتر و از چهار ملیون و پنجصد هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم میگردد، این حکم مانع تطبیق اصل مجازات بالای اشخاص حقیقی منسوب به شخصیت حکمی نمی گردد. شخصیت حکمی متعلق به دولت از این امر مستثنی است.

(۲) شخصیت حکمی علاوه بر مجازات مندرج فقرۀ (۱) این ماده به مجازات آتی نیز محکوم شده می‌تواند:

۱- ممنوعیت دائمی یا حداقل پنج سال از پیشبرد مستقیم و یا غیر مستقیم برخی از فعالیت‌های تجارتی.

۲- مسدود نمودن دائمی یا حداقل برای مدت پنج سال ساختمان‌های مربوط که در ارتکاب جرائم مندرج این قانون از آن استفاده صورت گرفته باشد.

۳- انحلال شرکت مشروط بر اینکه هدف از تأسیس آن ارتکاب جرم باشد.

۴- د ټولیزو رسنیو له لارې د حکم خپرول.

۴- نشر حکم از طریق رسانه های همگانی.

مشدده احوال

شپږمه ماده:

که چېرې د تروریزم د تمویل جرم، د جنایتکار سازمان یا هغۀ حکمي شخصیت لخوا چې د جنایتکار سازمان تر تملک یا کنترول لاندې د ی تر سره شي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- حقیقي شخص په هومره حبس چې له پنځلسو کلونو څخه لږ نه وي یا په ابد حبس او نقدي جریمه چې له یو ملیون افغانیو څخه لږ او له دوولسو ملیونو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومېږي.

۲- حکمي شخص په نقدي جریمه چې له څلورو ملیونو او پنځه سوه زرو افغانیو څخه لږ او له شلو ملیون افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي.

احوال مشدده

مادۀ ششم:

هرگاه جرم تمویل تروریزم توسط سازمان جنایتکار یا شخصیت حکمی ایکه تحت تملك یا کنترول سازمان جنایت کار قرار دارد صورت گیرد، طور ذیل مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقیقی به حبسیکه از پانزده سال کمتر نباشد یا حبس ابد و جریمۀ نقدی ایکه از یك ملیون افغانی کمتر و از دوازده ملیون افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- شخص حکمی به جریمۀ نقدی ایکه از مبلغ چهار ملیون و پنجصد هزار افغانی کمتر و از بیست ملیون افغانی بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

مخففه احوال

اوومه ماده:

پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د مرتکبینو په هکله د هېواد په قوانینو کې درج شوي مخففه احوال د رعایت وړ دي.

احوال مخففه

مادۀ هفتم:

احوال مخففه مندرج قوانین جزائی کشور در مورد مرتکبین جرائم مندرج این قانون قابل رعایت می‌باشد.

مصادره

اتمه ماده:

(۱) لاندې وجوه او شتمنۍ د واکمنې محکمې لخوا مصادره کېږي:

۱- هغه وجوه او شتمنۍ چې د جرم د ارتکاب په منظور ور څخه ګټه اخیستل شوې وي یایې د ګټې اخیستلو نیت (قصد) موجود وي.

۲- هغه وجوه او شتمنۍ چې له جرمې عواید و څخه لاسته راغلې وي یا له هغو څخه مشتق شوې وي او یا یې له تبادلې څخه لاسته راغلې وي.

۳- د دې فقرې په (۱ او ۲) جزء کې درج شوي وجوه او شتمنۍ چې بل شخص ته منتقل شوې وي خو دا چې خاوند ثابته کړي چې د دا ډول وجوهو او شتمنیو د تر لاسه کولو په مقابل کې یې د هغو معادله بیه ورکړې یایې د هغو د ارزښت معادل خدمتونو په بدل کې او یایې له بلې مشروعې لارې څخه تر لاسه کړېدي او د دغۀ ډول وجوهو او شتمنیو د منشاء له غیر قانوني والي څخه خبر نه دي.

۴- هغه وجوه او شتمنۍ چې په مستقیم یا غیر متسقیم صورت

مصادره

مادۀ هشتم:

(۱) وجوه و دارائی های ذیل از طرف محکمۀ ذیصلاح مصادره می گردد:

۱- وجوه و دارائی های که به منظور ارتکاب جرم مورد استفاده قرار گرفته یا قصد استفاده از آن موجود باشد.

۲- وجوه و دارائی های که از عواید جرمی به دست آمده یا از آن مشتق گردیده و یا از تبادلۀ آن به دست آمده باشد.

۳- وجوه و دارائی های مندرج اجزای (۱و۲) این فقره که به شخصی دیگری منتقل گردیده باشد، مگر اینکه مالك ثابت نماید که در مقابل دریافت چنین وجوه و دارائی ها قیمت معادل آن را پرداخته یا آنرا در بدل خدمات معادل به ارزش آن و یا از طریق مشروع دیگری بدست آورده و از غیر قانونی بودن منشاء چنین وجوه و دارائی ها آگاهی نداشته است.

۴- وجوه و دارائی های که به صورت مستقیم یا غیر مستقیم از

سره لـه جرمـي عمـل څخـه لاسـته راغلـي وي او لـه هغـو وجوهـو او شـتمنيو سره چې لـه مـشروعو سر چينو څخه تر لاسه شوي، ګډې وي، د دغـسې وجوهـو او شـتمنيو د مـصادرې حکـم پـه هغـه انـدازه صـورت مـومي چـې د محکمـې د ارزونـې مطـابق، لـه جـرم څخـه د لاسـته راغلـو وجوهـو او شـتمنيو د عوايدو له ارزښت سره معادل وي.

۵- که چېرې هغه وجوه او شـتمنۍ چې پـر مـصادرې يـې حکـم صـادر شـوی وي تـر لاسـه نـه شـي د هغـو د معـادل وجوهـو او شـتمنيو پـر مصادرې حکم صادر ېږي.

پدې حکم کې هغه وجوه او شـتمنۍ شـامل دي چې پـه مـستقيم يـا غـير مـستقيم صـورت سره د تروريـزم د تمويـل د جـرم پـه مرتکـب پـورې اړه لري يا هغه وجوه او شـتمنۍ چې د مېرمنـي يـا د محکـوم عليـه تـر کفالـت لانـدې اولاد پـه واسـطه لـه هغـۀ څخـه تـر لاسـه شـوې وي، خـو داچې د دغـسې وجوهـو او شـتمنيو پـه مقابـل کـې معادلـه بيـه ورکـول شوې وي.

(۲) د مصادرې په حکم کې د نظر وړ وجوهـو او شـتمنيو انـدازه پـه ګوته (مشخصه) کېږي.

عمـل جرمـی حاصـل گردیـده، بـا وجـوه و دارائـی هـای کـه از منـابع مـشروع بدسـت آمـده، مخلـوط باشـــد، حکـــم مـــصادرۀ چنـین وجـوه و دارائـی هـا بـه انـدازۀ صـورت مـی‌گیـرد کـه بـــا ارزش عوايـــد وجـــوه و دارائـــی هـــای حاصـــله از جـرم، مطـابق ارزیـابی محکمـه معادل باشد.

۵- هرگاه وجوه و دارائی های که حکم به مصادرۀ آن صادر گردیده دسـتیاب شـده نتوانـد، حکـم بـه مـصادرۀ وجـوه و دارائـی هـای معادل آن صادر می‌شود.

ایـــن حکـــم شـــامل وجـــوه و دارائـی هـای اسـت کـه بـصورت مـستقیم یـا غیـر مـستقیم بـه مـــرتکب جـرم تمویـل تروریـزم متعـــلق بـــوده و یـــا وجـوه و دارائی هـای کـه توسـط همسر یـا اولاد تحت کفالت محکوم علیـه از وی حاصـل گردیـده باشـد، مگـر اینکـه قیمـت معـادل در مقابـل چنـین وجوه و دارائی ها پرداختـه شده باشد.

(۲) در حکم مصادره اندازۀ وجوه و دارائی های مورد نظر مشخص می‌گردد.

د جنایت کار سازمان د وجوهو او شتمنیو مصادره

نهمه ماده:

د جنایتکار سازمان وجوه او شتمنی چې د هغو د خرڅلاو یا د له لاسه ورکولو د نورو شکلونو واک یې ولري، د مجرمیت یا له جرم سره د رابطې له په پام کې نیولو پرته مصادره کېږي.

مصادرهٔ وجوه و دارائی های سازمان جنایتکار

مادهٔ نهم:

وجوه و دارائی های سازمان جنایت کار که صلاحیت فروش یا سایر اشکال از دست دادن آنرا داشته باشد بدون نظرداشت مجرمیت یا رابطه با جرم مصادره می گردد.

د ځینو قانوني سندونو ابطال

لسمه ماده:

هغه قانوني سندونه چې له مصادرې څخه د دې قانون په اتمه او نهمه ماده کې د درج شوو و جوهو او شتمنیو د ساتنې په منظور، په ژوندوني په وړیا توګه یا د بیې په بدل کې یا له مړینې د مخه د هبې یا وصیت په ډول ترتیب شوي وي، د محکمې د حکم په اساس باطل او هغه پیسې مشتري ته مسترد ېږي چې واقعاً یې ورکړې وي.

ابطال بعضی از اسناد قانونی

مادهٔ دهم:

اسناد قانونی ایکه به منظور حفاظت وجوه و دارائی ها از مصادرهٔ، مندرج مواد هشتم و نهم این قانون به صورت رایگان یا در بدل قیمت در زمان حیات یا به صورت هبه و یا وصیت قبل از مرگ ترتیب گردیده باشد، به اساس حکم محکمه باطل و مبلغی به مشتری مسترد می گردد که واقعاً آنرا پرداخته باشد.

د مصادره شوو وجوه او شتمنیو اړوندتیا (تعلقیت)
یوولسمه ماده:
(۱) مصادره شوي وجوه او شتمنۍ او له هغو څخه تر لاسه شوي عواید په دولت پورې اړه مومي، په مصادره شوو وجوهو او شتمنیو کې د ثالثو اشخاصو رهني حقوق په هغۀ صورت کې چې قانوناً تثبیت شي، خوندي دي.
(۲) د وجوهو او شتمنیو پر مصادرې د غیابي حکم د صادرېدو په صورت کې، د هغو مالکیت په دولت پورې اړه مومي.
که چېرې محکمه د غوښتنلیک په اساس تورن تبرئه او د مصادرې حکم لغوه کړي، مصادره شوي وجوه او شتمنۍ یا یې معادل ارزښت خاوند ته بېرته ورکول کېږي.

په مصادره شوو وجوهو او شتمنیو کې د ثالثو اشخاصو حقوق
دوولسمه ماده:
په مصادره شوو وجوهو او شتمنیو کې د ثالثو اشخاصو د مالکیت ادعا د حکم د صادرېدو له نېټې څخه تر یوه کال پورې په واکمنه محکمه کې د اورېدو وړ ده.

تعلقیت وجوه و دارائی های مصادره شده
مادۀ یازدهم:
(۱) مالکیت وجوه و دارائی های مصادره شده و عواید حاصله از آن به دولت تعلق می‌گیرد. حقوق رهنی اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده در صورتی‌که قانوناً تثبیت گردد، محفوظ می‌باشد.
(۲) در صورت صدور حکم غیابی مبنی بر مصادرۀ وجوه و دارائی ها، مالکیت آن به دولت تعلق می‌گیرد.
هرگاه محکمه به اساس درخواست متهم را تبرئه و حکم مصادره را لغو نماید، وجوه و دارائی های مصادره شده یا ارزش معادل آن به مالك اعاده می‌گردد.

حقوق اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده
مادۀ دوازدهم:
ادعای مالکیت اشخاص ثالث در وجوه و دارائی های مصادره شده از تاریخ صدور حکم الی یك سال در محکمۀ ذیصلاح قابل سمع می‌باشد.

د وجوهـــو او شـــتمنیو کنګـــل (منجمد) کول
دیارلسمه ماده:
د اشخاصـو او هغـو سـازمانونو د و جوهو او شتمنیو کنګل کول چې د ملګرو ملتونو دمنشور داووم فصل له مخې د ملګرو ملتـو د امنیـت د شـوري لخـوا ټاکـل شـوېدي، د افغانـســتان د دولــت د رئــیس د فرمان پر اساس صورت مومي.

د کنګـل کولـو د شـخړو پـه هکلـه کړنلاره
څوارلسمه ماده:
د اشخاصو او هغو سازمانونو وجوه او شتمنی چې د دې قـانون د (۱۳) مـادې د حکـم پـه موجـب کنګـل شویدي، د هغو خاوند کولای شي د فرمان د صادرېدو له نېټې څخه تر (۳۰) ورځـو پـورې د اسـتیناف غوښتنې په غـرض سترې محکمې ته مراجعه وکړي. پدې برخه کې د سترې محکمې تـصمیم وروسـتنی (نهایي) دي.

مؤقت تدبیرونه
پنځلسمه ماده:
(۱) واکـــمنه محکمـــه د خپـــل لزومدیـد لـه مخې یـا د څارنـوال د

مـــنجمد ســـازی وجـــوه و دارائی‌ها
مادۀ سیزدهم:
منجمد ساختن وجوه ودارائی های اشخاص و سازمان های که توسط شورای امنیت ملل متحد به تأسی از فصل هفتم منشور ملل متحد تعیـین گردیـده اسـت، بـه اسـاس فرمـان رئـیس دولـت افغانـستان صورت می گیرد.

طـرز العمـل در مـورد منازعـات منجمد سازی
مادۀ چهاردهم:
وجوه و دارائی های اشخاص و یـا سـازمانهای کـه بـه موجـب حکـم مـادۀ (۱۳) ایـن قـانون منجمـد ساخته شـده اسـت، مـــالك آن مـــی‌توانـــد از تـــاریخ صـــدور فرمـــان الـــی (۳۰) روز غـــرض استیناف خواهی به ستره محکمه مراجعـــه نمایـــد. تـــصمیم سـتره محکمـه در مـورد نهـائی می‌باشد.

تدابیر مؤقت
مادۀ پانزدهم:
(۱) محکمۀ ذیصلاح حسب لـزوم دیـد خـود یـا بـالاثـر درخواسـت

غوښتنې په اثر کولای شي، د وجوهو او شتمنیو او مالي معاملو د کنګل کولو په برخه کې د دولت په لګښت د مؤقتو تدبیرونو د نیولو حکم صادر کړي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د تدبیرونو د رفع کولو حکم، د څارنوال یا د کنګل شوو وجوهو او شتمنیو د خاوند په غوښتنه (درخواست) د واکمنې محکمې په واسطه صادرېږي.

ثارنوال می‌تواند حکم اتخاذ تدابیر مؤقت را به مصرف دولت مبنی بر منجمد نمودن وجوه و دارائی ها و معاملات مالی صادر نماید.
(۲) حکم رفع تدابیر مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس درخواست ثارنوال یا مالك وجوه و دارائی های منجمد شده توسط محکمهٔ ذیصلاح صادر می گردد.

ضبط

شپاړسمه ماده:
واکمنه محکمه د خپل لزومدید له مخې یا د څارنوال د غوښتنې بالاثر هغه وجوه او شتمنۍ چې د دې قانون په دریمه ماده کې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې ورڅخه ګټه اخیستل شوېده یا یې د ګټې اخیستنې قصد متصور وي او هم له دغسې جرمونو څخه لاسته راغلي عواید او د وجوهو او شتمنیو د تشخیص آسانوونکي مدارک ضبطوي.

ضبط

مادهٔ شانزدهم:
محکمهٔ ذیصلاح حسب لزوم دید خود یا بالاثر درخواست ثارنوال، وجوه و دارائی های را که در ارتکاب جرائم مندرج مادهٔ سوم این قانون مورد استفاده قرار گرفته یا قصد استفاده از آن متصور باشد و نیز عواید ناشی از چنین جرائم و مدارك تسهیل کننده تشخیص وجوه و دارائی ها را ضبط می نماید.

درېیم فصل
د محکمو واک

د محکمو د واک حوزه
اووه لسمه ماده:
(۱) د دې قانون حکمونه د هغۀ په درېیمه ماده کې پر درج شوو جرمونو باندې په لاندې حالاتو کې د تطبیق وړ دي:
۱- جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې ارتکاب شوی وي.
۲- جرم په هغې بېړۍ کې چې د افغانستان ددولت دبیرق لېږدونکې وي یا په هغه الوتکه کې چې د جرم له وقوع څخه دمخه دهېواد د نافذو قوانینو مطابق ثبت او راجستر شوې وي، ارتکاب شوی وي.
۳- جرم د افغانستان د تبعه لخوا ارتکاب شوی وي.
۴- جرم د افغانستان له قلمرو څخه بهر د هغۀ بهرني شخص په واسطه ارتکاب شوی وي چې اوس اوس (فعلاً) په هېواد کې موجود وي او د افغانستان دولت، غوښتونکي دولت ته د هغه له بېرته ورکولو سره موافق نه وي.
۵- جرم د افغانستان د دولت د تبعه پر خلاف ارتکاب شوی وي.

فصل سوم
صلاحیت محاکم

حوزۀ صلاحیت محاکم
مادۀ هفدهم:
(۱) احکام این قانون بالای جرائم مندرج مادۀ سوم آن در حالات آتی قابل تطبیق می‌باشد:
۱- جرم در داخل قلمرو دولت افغانستان ارتکاب گردیده باشد.
۲- جرم در داخل کشتی که حامل بیرق دولت افغانستان بوده یا در طیارۀ که قبل از وقوع جرم طبق قوانین نافذۀ کشور ثبت و راجستر گردیده، ارتکاب یافته باشد.
۳- جرم توسط تبعۀ افغانستان ارتکاب گردیده باشد.
۴- جرم در خارج از قلمرو افغانستان توسط شخص خارجی ارتکاب گردیده که فعلاً در کشور موجود بوده و دولت افغانستان موافق به استرداد آن به دولت درخواست کننده نباشد.
۵- جرم علیه تبعۀ دولت افغانستان ارتکاب گردیده باشد.

۶- جرم د افغانستان د دولت په ودانۍ یا ودانۍ پر خلاف چې د هغه له جغرافیایي محدودې څخه بهر واقع ده ارتکاب شوی وي.
۷- هغه عمل چې ددې قانون د درېیمې مادې د (۱) فقرې په (۱ او۲) جزء کې له درج شوو جرایمو څخه د یوه د ارتکاب په منظور، د یوه عمل د اجراء یا نه اجراء لپاره د افغانستان د دولت د اړ ایستلو په نیت صورت موندلی وي.
۸- جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې له تابعیت پر ته داستوګن شخص لخوا ارتکاب شوی وي.
(۲) د افغانستان د دولت ستره محکمه، د هېواد له جغرافیایي محدودې څخه بهر د ارتکاب شوو جرمونو د غوروني په منظور، ځانګړې محکمه جوړ وي.

څلورم فصل
نړیواله همکاري

یو تر بله (متقابله) همکاري
اتلسمه ماده:
د معلوماتو، تحقیقاتو د راکړې ورکړې (تبادلې) د غوروني د بهیر، مؤقتو تدبیرونو، د تروریزم په

۶- جرم در ساختمان یا علیه ساختمان دولت افغانستان که در خارج از محدودهٔ جغرافیائی آن واقع است،ارتکاب گردیده باشد.
۷- عملی که به منظور ارتکاب یکی از جرائم مندرج اجزای (۱و۲) فقره (۱) مادهٔ سوم این قانون به قصد وادار نمودن دولت افغانستان به اجراء یا عدم اجرای یک عمل صورت گرفته باشد.
۸- جرم توسط شخص بدون تابعیت مقیم در قلمرو دولت افغانستان ارتکاب گردیده باشد.
(۲) ستره محکمه دولت افغانستان به منظور رسیدگی به جرایم ارتکاب یافته در خارج از محدودهٔ جغرافیائی کشور محکمهٔ خاص را ایجاد می‌نماید.

فصل چهارم
همکاری بین المللی

همکاری متقابل
مادهٔ هجدهم:
به منظور مبارزهٔ مؤثر باجرائم مندرج این قانون در زمینه های تبادل معلومات، تحقیقات،

تمویل پورې د اړوندو سندونو او وجوهو او شتمنیو د مصادرې، د تورنو د بېرته ورکولو او لازمو تخنیکي مرستو په برخو کې پدې قانون کې له درج شوو جرمونو سره د اغېزناکې مبارزې په منظور له نورو دولتونو سره متقابله همکاري صورت مینډلی شي.

د مکاتبې حق (ارتباط)

نولسمه ماده:

(۱) که چېرې بهرنی تبعه یا په افغانستان کې له تابعیت پرته استوګن شخص چې پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له املې تر څارنې یا توقیف لاندې نیول کېږي، د لاندې حقوقو لرونکی دي:

۱- د متبوع دولت له استازي یا هغه شخص سره چې د دۀ د حقوقو د ساتنې واک لري د فوري تماس نیول.

۲- د هغه هېواد له استازي سره د تابعیت نه لرونکي شخص کتنه چې عادتاً هلته استوګنه لري.

۳- هغو ته د دې فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې د درج شوو حقوقو ابلاغول.

(۲) که چېرې څارنوالي د نیونې جریان رسیدګی، تدابیر مؤقت، مصادرۀ اسناد و وجوه و دارائی های مربوط به تمویل تروریزم، استرداد متهمین و مساعدت های لازم تخنیکی با سائر دول، همکاری متقابل صورت گرفته می تواند.

حق مکاتبه (ارتباط)

مادۀ نزدهم:

(۱) در صورتی‌که تبعۀ خارجی یا شخص بدون تابعیت مقیم افغانستان که بنابر ارتکاب جرائم مندرج این قانون تحت نظارت یا توقیف قرار می‌گیرد، دارای حقوق ذیل می‌باشد:

۱- تماس گرفتن فوری با نمایندۀ دولت متبوع یا شخصی‌که صلاحیت حفظ حقوق وی را داشته باشد.

۲- ملاقات شخص بدون تابعیت با نمایندۀ کشوریکه عادتاً در آن سکونت دارد.

۳- ابلاغ حقوق مندرج اجزای (۱و۲) این فقره به آنها.

(۲) هرگاه څارنوالی درخواست

(ګرفتـــاری) او توقیـــف پـــه اړه غوښتنه د هغۀ دولت له لوري چې جرم د هغه د قضایي واک په حوزه کـې ارتکـاب شـوی دی، تـر لاسـه کـړي، څـارنوالي لازم تدابیرونـه نیسي چې تر څارنې (نظارت) یـا توقیـف لانـدې شـخص سـره د دې قـانون د حکمونـو مطـابق د سـره صـلیب د اسـتازي په واسطه کتنه (ملاقات) صورت وموميِ.

اړوندو(ذیربطو)هېوادونو ته خبرتیا شلمه ماده:

د څارنوالۍ اداره مکلفه ده بې له ځنډه د الزام ددلایلو او د دې قانون په نولسمه ماده کې د درج شوو اشخاصو له تحقیقاتو څخه دلاسته راغلو دلایلو له څرنګوالي څخه، د افغانستان ددولت له دیپلوماتیکو لارو یا د ملګرو ملتو د سازمان د سکرتر جنرال په ذریعه، هغه هېوادونه چې جرم د هغو د قضایي واک په حوزه کې ارتکاب شوی دی او د لزوم په صورت کې علاقه لرونکي هېوادونه خبر کړي.

مبنـی برگرفتـاری و توقیـف را از جانـب دولتـی کـه جـرم در حـوزۀ صـلاحیت قـضائی آن ارتکـاب گردیده دریافت نماید، څارنوالی تدابیر لازم را اتخاذ می نماید که بـا شخـص تحـت نظـارت یـا توقیـف مطـابق احکـام ایـن قـانون توسـط نماینـدۀ صـلیب سـرخ بـین المللـی ملاقـات صـورت گرفتـه بتواند.

اطلاعیه به کشور های ذیربط مادۀ بیستم:

ادارۀ څـارنوالی مکلـف اسـت بلافاصله از چگونگی دلائل الزام و نتـایج حاصـله از تحقیقـات اشخاص مندرج مادۀ نزدهم ایـن قـانون از طریـق مجـاری دیپلوماتیك دولت افغانستان و یـا ذریعۀ سکرتر جـنرال سازمان ملل متحـد، کـشور هـای را کـه جـرم در حـوزۀ صـلاحیت قـضائی آنها ارتکـاب گردیـده و در صـورت لـزوم کـشور هـای ذیعلاقـه را مطلع گرداند.

د قضایي همکاری لپاره غوښتنه

یوویشتمه ماده:

کـه چېـرې بهرنـي دولتونـه پـدې قـانون او د پیـسو د تطهیـر او لـه جرمونو څخه دلاسته راغلو عوایدو پر خلاف د مبارزې په قانون کې د درج شوو جرمونو په اړه د متقابلې همکـاری غوښـتنه وکـړي، دغـه غوښتنه د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د اجراء وړ ده:

۱- د اثباتیه مدارکو راټولول او یا لـه اړونـدو اشخاصـو څخـه د اظهاراتو اخیستل.

۲- تـر نظـارت یـا توقیـف لاندې اشخاصو په تسلیمولو کې مرسته او د غوښتونکې دولت په قضایي مقاماتو پورې په اړوندو تحقیقاتو کې د مـدارکو د وړاندې کولـو او مرستې په منظور د نورو اشخاصو احضارول.

۳- د قضایي سندونو استول.

۴- د تلاشۍ اجراء کول او دشیانو ضبطول.

۵- د شـیانو کتنـه (معاینـه) او د ځایونو کتل.

۶- د جرم د اثباتوونکو معلومـاتو او مدارکو وړاندې کول.

۷- د بـانکي صـورت حـساب، محاسـبوي سـندونو او نـورو هغـو

تقاضا برای همکاری قضائی

مادۀ بیست و یکم:

هـرگاه دول خـارجی در رابطه با جرایم مندرج این قانون و قـانون مبـارزه علیـه تطهیـر پـول و عوایـد ناشـی از جـرایم، درخواسـت همکـاری متقابـل نماینـد ، ایـن درخواسـت بـا نظرداشت موارد ذیل قابل اجراء می باشد:

۱- جمع آوری مـدارك اثباتیـه و یـا اخـذ اظهـارات از اشـخاص ذیربط.

۲- مـساعدت در تـسلیمی اشخـاص تحت نظارت یـا توقیف و احضار سایر اشخاص به منظور ارایـۀ مـدارك و مـساعدت در تحقیقـات مربـوط بـه مقامـات قـضـائی دولـت درخواسـت کننده.

۳- فرستادن اسناد قضائی.

۴- اجـرای تـلاشی و ضـبط اشیاء.

۵- معاینـۀ اشـیاء و مـشاهدۀ محلات.

۶- ارائـه معلومـات و مـدارك اثباتیۀ جرم.

۷- ارائه اصل و یـا کاپی مصدقۀ اسناد و سوابق مربوطـه، بـشمول

سندونو او سوابقو په ګډون د مصدقه اړوندو سندونو او سوابقو د اصل یا کاپي وړاندې کول چې د شرکت دعملیاتویایې دسوداګریزو فعالیتونو بنکارندوی وي.

صورت حساب بانکی، اسناد محاسبوی و سایر اسناد و سوابقیکه نشاندهندۀ عملیات شرکت و یا فعالیتهای تجارتی آن باشد.

د غوښتنې ردول

دوه ویشتمه ماده:

(۱) د متقابلې همکاری غوښتنه په لاندې حالاتو کې رد کېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې غوښتنه، د غوښتوونکي هېواد د تقنیني سندونو مطابق او د اړوندو مراجعولو لارې وړاندې شوې نه وي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د غوښتنې اجراء کول د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مغایر وي او د نظم او عامه امن د ګډوډولو موجب وګرځي.

۳- په هغۀ صورت کې چې غوښتل شوی تورن تر محاکمې لاندې وي یا د مخه د عین تور (اتهام) په هکله دهېوادپه قلمرو کې قضایي فیصله صادره شوې وي.

۴- په هغۀ صورت کې چې غوښتل شوي تدبیرونه د هېواد د تقنیني سندونو مطابق مجاز نه وي یا د هېواد له نافذو تقنیني سندونو سره

رد درخواست

مادۀ بیست و دوم:

(۱) درخواست همکاری متقابل در حالات آتی رد می‌گردد:

۱- در صورتی‌که درخواست مطابق به اسناد تقنینی کشور درخواست کننده و از طریق مراجع ذیربط ارائه نگردیده باشد.

۲- در صورتی‌که اجرای درخواست مغایر اسناد تقنینی نافذ کشور بوده، موجب اخلال نظم و امن عامه گردد.

۳- در صورتی‌که متهم تقاضا شده تحت محاکمه قرار داشته یا قبلاً در مورد عین اتهام در قلمرو کشور فیصلۀ قضائی صادر شده باشد.

۴- در صورتی‌که تدابیر تقاضا شده مطابق به اسناد تقنینی کشور مجاز نبوده یا طبق احکام اسناد تقنینی نافذۀ کشور در مورد جرم

سم، په غوښتنه کې د درج شوي جرم په هکله د تطبیق وړ نه وي.

۵- په هغۀ صورت کې چې د فیصلې دتطبیق غوښتنه، دهېواد دنافذوتقنیني سندونو مغایره وي.

۶- په هغۀ صورت کې چې د تدبیرونو د نیولو غوښتنه یا په نظر وړ شخص باندې د حکم تطبیق د توکمیزو، مذهبي، تابعیت، قومي جرړې (منشاء)، سیاسي نظریو، جنس یا د هغۀ د ټولنیز موقف د ملحوظاتو پر بناء صورت موندلی وي.

۷- په هغۀ صورت کې چې د تورن د عدلي تعقیب په اړه غوښتنه، سیاسي ماهیت او انګیزه ولري.

(۲) بانکي محرمیت د غوښتنې د ردولو موجب کېدای نشي.

(۳) څارنوالي کولای شي، د غوښتنې د رد په برخه کې د محکمې د فیصلې پر خلاف د حکم دابلاغ له نېټې څخه دېرش ورځې وروسته، داستیناف غوښتنه وکړي.

(۴) د افغانستان دولت د غوښتنې د رد دلایل د اړوندو مراجعو له لارې بهرنیو دولتونو او حکومتونو ته په لنډ وخت کې خبر ورکوي.

مندرج درخواست قابل تطبیق نباشد.

۵- در صورتی‌که تقاضای تطبیق فیصله مغایر اسناد تقنینی نافذ کشور باشد.

۶- در صورتی‌که تقاضای اتخاذ تدابیر یا تطبیق حکم بالای شخص مورد نظر بنابر ملحوظات نژادی، مذهبی، تابعیت، منشاء قومی، نظریات سیاسی، جنس یا موقف اجتماعی وی، صورت گرفته باشد.

۷- در صورتی‌که تقاضای مربوط به تعقیب عدلی متهم، ماهیت و انگیزۀ سیاسی داشته باشد.

(۲) محرومیت بانکی موجب رد درخواست شده نمی‌تواند.

(۳) څارنوالی می تواند علیه فیصلۀ محکمه مبنی بر رد درخواست الی سی روز بعد از ابلاغ حکم طالب استیناف گردد.

(۴) دولت افغانستان دلائل رد درخواست را از طریق مراجع مربوطه به دول و حکومات خارجی به اسرع وقت اطلاع می‌دهد.

د تحقیقاتي تدبیرونو د نیولو غوښتنه

در ویشتمه ماده:

(۱) تدبیرونه د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مطابق نیول کېږي، خو دا چې بهرنی واکمن مقام ېېله کړنلاره چې د افغانستان له تقنیني سندونو سره مطابق وي، پیشنهاد کړي.

(۲) د قضایي ضبط مامور یا هغه شخص چې د بهرني واکمن مقام لخوا ټاکل شوی وي، کولای شي د معلوماتو د تر لاسه کولو او د تحقیقاتي تدبیرونو له اجراء څخه د ډډ د حاصلولو په منظور، په تحقیقاتو کې برخه واخلي.

درخواست اتخاذ تدابیر تحقیقاتی

مادۀ بیست و سوم:

(۱) تدابیر تحقیقاتی مطابق اسناد تقنینی نافذه کشور اتخاذ میگردد مگراینکه مقام ذیصلاح خارجی طرز العمل دیگری را که با اسناد تقنینی افغانستان مطابق باشد پیشنهاد نماید.

(۲) مامور ضبط قضائی یا شخصی که توسط مقام ذیصلاح دولت خارجی تعیین گردیده، می‌تواند بمنظور کسب معلومات و حصول اطمینان از اجرای تدابیر تحقیقاتی در تحقیقات اشتراك نماید.

د مؤقتو تدبیرونو د نیولو لپاره غوښتنه

څلېریشتمه ماده:

(۱) محکمه مکلفه ده، د افغانستان ددولت د نافذو تقنیني سندونو مطابق د مؤقتو تدبیرونو د نیولو په برخه کې د بهرني دولت د واکمن مقام د غوښتنې په هکله حکم صادر کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې له هېواد څخه په بهر کې د صادرې شوې فیصلې د تطبیق په هکله

درخواست جهت اتخاذ تدابیر مؤقت

مادۀ بیست و چهارم:

(۱) محکمه مکلف است در مورد درخواست مقام ذیصلاح دولت خارجی مبنی بر اتخاذ تدابیر مؤقت مطابق به اسناد تقنینی نافذۀ دولت افغانستان، حکم صادر نماید.

(۲) در صورتی‌که درخواست مبنی بر تطبیق فیصلۀ صادر شده در خارج کشور به محکمه راجع

غوښتنه محکمې ته راجع شي او د هغې تطبیق د هېواد له نافذو تقنیني سندونو سره مغایرت ولري، محکمه واک لري، غوښتنه رد او له نافذو تقنیني سندونو سره په مطابقت کې غوښتل‌شوي ورته تدبیرونه ونیسي.

(۳) مؤقت اقدامات د دې قانون د پنځلسمې مادې په (۲) فقره کې ددرج شوي حکم مطابق، رفع کېدای شي.

گردد و تطبیق آن با اسناد تقنینی نافذ کشور مغایرت داشته باشد، محکمه صلاحیت دارد، درخواست را رد و تدابیر مشابه تقاضاء شده را در مطابقت به اسناد تقنینی نافذ اتخاذ نماید.

(۳) اقدامات مؤقت طبق حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ پانزدهم این قانون مرفوع شده می‌تواند.

پنځم فصل
متفرقه حکمونه

د ثبت کړنلاره

پنځه ویشتمه ماده:

سازمانونه او غیر انتفاعي مؤسسې چې د وجوهو او شتمنیو یا هبو او مرستو په راټولولو، تر لاسه کولو، ورکولو یا انتقالولو بوخت وي، مکلف دي خپلو فعالیتونو ته د هېواد د نافذ و قوانینو د حکمونو مطابق، سازمان ورکړي.

فصل پنجم
احکام متفرقه

طرزالعمل ثبت

مادۀ بیست و پنجم:

سازمانها و مؤسسات غیر انتفاعی که مصروف جمع آوری، دریافت، اعطاء یا انتقال وجوه و دارائی ها یا هبه ها و اعانه ها میباشند، مکلفند فعالیت های خویش را مطابق احکام قوانین نافذۀ کشور سازماندهی نمایند.

هبه او اعانه
شپږ ویشتمه ماده:
سازمانونه او غیر انتفاعي مؤسسې هر ډول هبه یا اعانه چې د دې قانون په (۲۵) ماده کې د درج شوي حکم مطابق تر لاسه کوي او مقداریې د د افغانستان بانک له تاکل شوي حد سره برابر یا ورڅخه زیات وي، مکلف دي تر لاسه کړې هبې او اعانې له ټولو جزئیاتو سره په اړوندو سندونو کې ثبت او د پنځو کلونو لپاره یې وساتي او د څارونکو مراجعو د غوښتنې په صورت کې یې هغوي ته وړاندې کړي.

ممنوعه سازمانونه
اووه ویشتمه ماده:
(۱) په هغه صورت کې چې غیر انتفاعي مؤسسي او سازمانونه د دې قانون په درېیمه ماده کې درج شوي جرمونه په پوهې سره و هڅوي، ترویج یې کړي او سازمان ورکړي یایې مرتکب شي، اړونده څارنوالۍ کولای شي د سازمان د مؤقتې منع قرار صادر کړي.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو غیر انتفاعي سازمانونو انحلال، د څارنوالۍ په غوښتنه د

هبه و اعانه
مادۀ بیست و ششم:
سازمان ها و مؤسسات غیر انتفاعی هر نوع هبه یا اعانۀ را که مطابق حکم مندرج مادۀ (۲۵) این قانون دریافت می نماید و مقدار آن برابر یا بالاتر از حد تعیین شدۀ د افغانستان بانک باشد، مکلفند، هبه ها و اعانه های دریافت شده را با تمام جزئیات آن در اسناد مربوط ثبت و برای مدت پنج سال نگهداری و در صورت تقاضای مراجع نظارت کنندۀ مربوط، به آنها ارائه نمایند.

سازمانهای ممنوعه
مادۀ بیست و هفتم:
(۱) در صورتی‌که مؤسسات و سازمانهای غیر انتفاعی، جرائم مندرج مادۀ سوم این قانون را آگاهانه تشویق، ترویج و سازماندهی نموده یا مرتکب آن گردند، څارنوالی مربوط می‌تواند قرار منع مؤقت سازمان را صادر نماید.
(۲) انحلال سازمانهای غیر انتفاعی مندرج فقرۀ (۱) این ماده بالاثر درخواست څارنوالی توسط

محکمې لخوا صورت مومي.

د سازمانونو مجازات
اته ویشتمه ماده:
په هغه صورت کې چې غیر انتفاعي سازمانونه او مؤسسې د دې قانون په پنځه ویشتمه او شپږ ویشتمه ماده کې له درج شوو حکمونو څخه سر غړونه (تخلف) وکړي د حالاتو په پام کې نیولو سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:
۱- نقدي جریمه چې له پنځو زرو افغانیو څخه لږ او له پنځوسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي.
۲- په مؤقت ډول د مؤسسې د فعالیت منع کول چې له شپږو میاشتو څخه زیات نه وي.
۳- د مؤسسې منحلول.

د الکترونیکي انتقالاتو ضمیمه معلومات
نهه ویشتمه ماده:
(۱) فرمایش ورکوونکی شخص مکلف دی خپل ټول ماوراء سرحد الکترونیکي انتقالات د بشپړ شهرت او د اړوند حساب د نومرې له درجولو سره یو ځای او د حساب د نومرې د نه موجودیت په صورت کې دې د خاص مأخذ یوه نومره له

محکمه صورت می‌گیرد.

مجازات سازمانها
مادۀ بیست و هشتم:
در صورتی‌که سازمانها و مؤسسات غیر انتفاعی از احکام مندرج مواد بیست و پنجم و بیست و ششم این قانون تخلف نمایند، با نظرداشت حالات، قرار ذیل مجازات می گردند:
۱- جریمۀ نقدی ایکه از مبلغ پنج هزار افغانی کمتر و از پنجاه هزار افغانی بیشتر نباشد.
۲- منع مؤقت فعالیت مؤسسه که از شش ماه بیشتر نباشد.
۳- انحلال مؤسسه.

معلومات ضمیمۀ انتقالات الکترونیکی
مادۀ بیست و نهم:
(۱) شخص فرمایش دهنده مکلف است تمام انتقالات الکترونیکی ماوراء سرحد خویش را با درج شهرت مکمله و نمبر حساب مربوط یکجا و در صورت عدم موجودیت نمبر حساب یک نمبر مأخذ خاص را با انتقال

انتقال سره ضمیمه کړي.
(۲) ټول کورني الکترونیکي انتقالات، د دې مادې د (۱) فقرې د حکمونو تابع دي، خو دا چې د انتقال په فرمایش ورکوونکي شخص پورې اړوند معلومات منتفعو مالي مؤسسو او واکمنو مقاماتو ته په بله طریقه وړاندې شي، پدې صورت کې د حساب یوه نومره یا د خاص مأخذ نومره چې په مرسته یې استوونکی تعقیب کړل شي، له انتقال سره ضمیمه کېږي.
(۳) د دې مادې د حکمونو د بنه تطبیق په منظور د د افغانستان بانک کولای شي ځانګړې کړنلاره وضع کړي.

ضمیمه نماید.
(۲) تمام انتقالات الکترونیکی داخلی تابع حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده میباشد. مگر اینکه معلومات مربوط به شخص فرمایش دهندهٔ انتقال به مؤسسات مالی منتفع و مقامات ذیصلاح بطریق دیگری ارائه گردد، درین صورت یک نمبر حساب یا نمبر مأخذ خاص که به کمک آن فرستنده تعقیب گردیده بتواند، با انتقال ضمیمه می‌گردد.
(۳) به منظور تطبیق بهتر احکام این ماده، د افغانستان بانک می‌تواند طرز العمل خاصی را وضع نماید.

انفاذ نېټه
دېرشمه ماده:
دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذه او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

تاریخ انفاذ
مادهٔ سی ام:
این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

قانون مبارزه علیه جرایم تروریستی

د تروریستی جرمونو پر علیه د مبارزې د قانون د توشیح په هلکه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس فرمان

گڼه: (۴۰)
نېټه: ۱۳۸۷/۴/۹

لومړۍ ماده:
د افغانستان د اساسي قانون د (۷۹) مادې د حکم له مخې د تروریستي جرمونو پر علیه د مبارزې قانون چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د شوري د ۱۳۸۷/۳/۲۰ نېټې (۱۳) گڼې مصوبې پر بنسټ په (۴) فصلونو او (۲۶) مادو کې تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
د عدلیې وزیر او په پارلماني چاروکې د دولت وزیر مؤظف دي، دغه فرمان، د ملي شوري د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د (۳۰) ورځو په ترڅ کې د

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشیح قانون مبارزه علیه جرایم تروریستی

شماره: (۴۰)
تاریخ: ۱۳۸۷/۴/۹

مادۀ اول:
به تأسی از حکم مادۀ (۷۹) قانون اساسی افغانستان، قانون مبارزه علیه جرایم تروریستی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۳) مؤرخ ۱۳۸۷/۳/۲۰ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۴) فصل و (۲۶) ماده تصویب گردیده است توشیح می دارم.

مادۀ دوم:
وزیر عدلیه و وزیر دولت در امور پارلمانی مؤظف اند این فرمان را در خلال (۳۰) روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی،

ملـي شـوري ولـسي جرګـې تـه وړاندې کړي.

بـه ولـسی جرګـهٔ شـورای ملـی تقدیم نمایند.

درېیمه ماده:
دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

مادهٔ سوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس

حامد کرزی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

د تروریستی جرمونو پر علیه د مبارزې قانون

لومړی فصل

عمومي حکمونه

مبني

لومړی ماده:

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اوومې مادې د دوه یمې فقرې دحکم په رڼا کې د تروریستي جرمونو پر علیه د مبارزې په منظور، وضع شوی دی.

د مبارزې مسئولی اداري

دوه یمه ماده:

د کورنیو چارو وزارت، د ملي امنیت عمومي ریاست او نورې اړوندې اداري، د خپلو دندو په ساحه کې په ګډه هاند او د معلوماتو په راکړې ورکړې سره ددې قانون او د تروریستی جرمونو پر علیه د اړوندو قوانینو د حکمونو مطابق، مبارزه کوي.

قانون مبارزه علیه جرایم تروریستی

فصل اول

احکام عمومی

مبنی

مادۀ اول:

این قانون در روشنی حکم فقرۀ دوم مادۀ هفتم قانون اساسی افغانستان به منظور مبارزه علیه جرایم تروریستی وضع گردیده است.

ادارات مسئول مبارزه

مادۀ دوم:

وزارت امور داخله، ریاست عمومی امنیت ملی و سایر ادارات ذیربط با تشریک مساعی وتبادل معلومات درساحۀ وظایف شان طبق احکام این قانون و قوانین مربوط علیه جرایم تروریستی مبارزه می نماید.

اصطلاحګاني

درېيمه ماده:

لاندې اصطلاحګاني پدې قانون کې دغه مفاهيم افاده کوي:

۱- تروريستي جرمونه: د افغانستان د دولت يا بهرني دولت يا د ملي او بين المللي مؤسسو او سازمانونو د سياست تر اغېزې لاندې را وستلو يا د افغانستان دولت يا بهرني دولت د بې ثباته کولو په منظور پدې قانون کې ددرج شوو جرمي اعمالو ارتکاب دی.

۲- تروريست او تروريستی سازمان: حقيقي يا حکمي شخص دی چې پدې قانون کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ مرتکب شوی وي يا د ملګرو ملتو د سازمان د امنيت شوري د پرېکړه ليک مطابق تروريست يا تروريستي سازمان و پېژندل شي، پدې شرط چې پرېکړه ليک د ملي شوري لخوا تصديق شوی وي.

۳- تشدد: په ضاربه، جارحه يا ناريه وسلې او يا جسمي توان ته په لاس اچولو سره هر مادي عمل (حمله) دی چې شخص د هغۀ

اصطلاحا ت

مادۀ سوم:

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- جرایم تروریستی: ارتکاب اعمال جرمی مندرج این قانون است، به منظور تحت تأثیر قرار دادن سیاست دولت افغانستان یا دولت خارجی و یا مؤسسات و سازمان های ملی یا بین المللی یا بی ثبات ساختن نظام دولت افغانستان و یا دولت خارجی.

۲- تروریست و سازمان تروریستی: شخص حقیقی یا حکمی است که یکی از جرایم مندرج این قانون را مرتکب گردیده باشد یا مطابق قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل متحد تروریست یا سازمان تروریستی شناخته شود، مشروط بر اینکه قطعنامه از طرف شورای ملی تصدیق گردیده باشد.

۳- تشدد: هر عمل مادی (حمله) با اسلحه اعم از ضاربه، جارحه یا ناریه و یا با توسل به نیروی جسمی است که شخص به ارتکاب

ارتکاب ته اقدام وکړي او له اخطار سره یو ځای هغه ته دوام ورکړي.

۴- ملاتړ: د مالي سرچینو، استوګنځي، زده کړې، پناه ځای،سلا او مرستې، د پېژند پاڼو تزویر، مخابراتي تجهیزاتو، وسلې، کیمیاوي موادو، هستوي او نورو چاودېدونکو موادو، انساني منابعو، ترانسپورتي شونتیاوو او نورو آسانتیاوو برابرول دي.

۵- د بین المللي خوندیتوب لرونکی شخص: هغه شخص دی چې د بین المللي حقوقي سندونو مطابق، د خوندیتوب د ځانګړي حق لرونکی، ګڼل شوی وي.

۶- بنسټیز تأسیسات : هغه دولتي یا غیردولتي تأسیسات دي چې د ګاز، نفتو او اوبو، تولید، زېرمه کول، وېشل، د اوبو رسولو او کانالېزاسیون شبکه، د برېښنا د انرژۍ تولید، مالي خدمتونه، پوهنې، بانکداری، روغتیایي، د اور وژنې او ژغورنې، ترانسپورتي له جملې ځمکني، هوایي، سیندیز او یا سمندري، د مواصلاتي په ځارنې کې شامل ټول ګټې (عام آن اقدام نموده و توأم بااخطار به آن ادامه دهد.

۴ - حمایت : فراهم نمودن منابع مالی، مسکن، آموزش، پناهگاه، مشاوره و معاونت، تزویر اسناد هویت، تجهیزات مخابراتی، اسلحه، مواد کیمیاوی، هستوی و سایر مواد منفلقه، منابع انسانی، امکانات ترانسپورتی یا سایر تسهیلات می باشد.

۵- شخص دارای مصؤنیت بین المللی: شخصی است که مطابق اسناد حقوقی بین المللی حایز حقوق مصؤنیت خاص پنداشته شده است.

۶- تأسیسات زیر بنائی : تأسیسات دولتی یا غیر دولتی است که خدمات عام المنفعه شامل تولید ، ذخیره و توزیع گاز، نفت و آب، شبکۀ آبرسانی و کانالیزاسیون، تولید انرژی برق، خدمات مالی، معارف، بانکداری، صحی، اطفائیه و نجات، ترانسپورتی اعم از زمینی، هوایی، دریایی و یا بحری، مراقبت خطوط

المنفعــه) خدمتونــه، دفــاعي، امنيتي، مخابراتي کرښو او يا نور ټــولنيز- اقتــصادي خدمتونــه وړاندې کوي.

۷- ســيندیز يــا ســمندري ثابــت تأسيسات: هغه ساحه يا جوړښت (ساختمان) دی چې په دايمي توګه په سيند يا سمندر کې د هغه له تل سره جوخت، د سرچينو د تفحص او اســتخراج او يــا نــورو اقتــصادي مقصدونو لپاره جوړېږي.

۸- چاودېدونکي مواد او وژونکي وســايل: هغــه اور بلــوونکي مــواد، زهرجن کيمياوي مواد، بيولوژيکي عوامل او نور مواد دي چې د وژلو يا سخت ټپي کولو يا په مرضونو د اخته کولو يا د مادي زيان د اړولو وړتيا ولري.

۹- هســته يــې مــواد: لاندې مــواد پکې شامل دي:

- پلوتونيوم.

- يورانيم چې د نه کاني ډبرې يا د کاني ډبرې د پاتې شونو په ډول وي او پــه طبيعــي ډول د ايزوتوپونــو پــر مخلوط مشتمل وي.

- بډای شوي يورانيوم هغه يــورانيم دي چې د ۲۳۳ يا ۲۳۵ ايزوتوپونو مــواصلا تــی، دفــاعی، امنيتــی، مخــابراتی و يــا ســاير خــدمات اجتمــاعی ـ اقتــصادی را عرضــه می نمايد.

۷- تأسيــسات ثابــت دريــائی يــا بحری : ساحه يا ساختمانی است کــه بــه صــورت دايمــی در دريــا يــا بحــر متــصل بــه بــستر آن جهت تفحص و استخراج منابع و ياســـاير مقاصـــد اقتـــصادی ايجاد می گردد.

۸- مواد منفجره و وسايل کشنده: مــواد آتــشزا، مــواد کيميــاوی زهــرآگين، عوامــل بيولــوژيکی و سايرموادی است که قابليت هلاك نمودن يا جراحت شديد يــا مصاب ساختن به امراض و يا وارد نمودن خسارات مادی را داشته باشد.

۹ - مــواد هســته يــی: شامل مــواد ذيل می باشد:

- پلوتونيوم.

- يــورانيم کــه نــه بــه شــکل سنگ معــدنی يــا بقايــای سنگ معــدنی بــوده و مــشتمل بــر مخلــوط از ايزوتوپ ها بشکل طبيعی باشد.

- يــورانيم غنــی شــده يــورانيم اســت کــه دارای ايزوتــوپ ۲۳۳

لرونکي یا دواړه په هغۀ مقدار سره وي چې له ۲۳۸ ایزوتوپونو سره په مقایسه کې د دغو ایزوتوپونو د زیاتوالي (فراوانی) نسبت په طبیعت کې د موجودو ۲۳۵ پر ۲۳۸ ایزوتوپونو له نسبت څخه ستر وي.

- ۲۳۳ یورانیوم.

۱۰- راډیو اکتیف مواد: هسته یي مواد او نور راډیو اکتیف مواد دي چې د هستې لرونکي وي او خپل پخپله تجزیه کېږي (هغه پروسه ده چې د آیونیزه د یوې او یا زیاتو ډول ډول تشعشعاتو له خپرېدو سره یوځای وي لکه د الفا، بیتا، ګاما وړانګې او د نیوترون ذرې) او دغه تشعشعات د خپلو تشعشعي او انشقاقي خصوصیاتو له مخې په مړینه، سخت جسمي ټپ، رواني زیان یا ملکیتونو یا چاپېریال ته په لیدنې وړ زیان اړولو تمامه شي.

۱۱- د الوتلو په حال کې الوتکه: هغه الوتکه ده چې ټولې دروازې یې د الوتلو په منظور تړلې وي او تر هغۀ وخته چې یوه دروازه یې د سپرلیو د وتلو په منظور، یا ۲۳۵ و یا هردو به مقدار باشد که نسبت فراوانی این ایزوتوپها در مقایسه با ایزوتوپ ۲۳۸ بزرگتر از نسبت فراوانی ایزوتوپ ۲۳۵ بر ایزوتوپ ۲۳۸ موجود در طبیعت باشد.

- یورانیم ۲۳۳.

۱۰- مواد رادیواکتیف: مواد هسته یی و دیگرمواد رادیو اکتیف می باشد که دارای هسته بوده و به صورت خود به خودی تجزیه می گردند (پروسه ای است که توأم با نشر یك و یا انواع بیشتر تشعشعات آیونیزه باشد مانند اشعۀ الفا، بیتا، گاما و ذرات نیوترون) و این تشعشعات بنا بر خصوصیات تشعشعی و انشقاقی خویش منجر به مرگ، جراحت شدید جسمی، صدمۀ روانی یا خسارات قابل ملاحظه به ملکیت ها یا محیط گردد.

۱۱- طیاره درحال پرواز: طیارۀ است که تمام دروازه های آن به منظور پرواز بسته شده و الی زمانیکه یکی از دروازه های آن به منظور خروج راکبین باز

خلاصېږي.

د اجباري ناستې په صورت کې تر هغه وخته پورې چې واکمن مقامات د الوتکې، سپرلیو او په الوتکه کې د دننه مالونو مسؤلیت په غاړه واخلي، الوتکه د الوتلو په حال کې ګڼل کېږي.

می گردد.

در صورت نشست اجباری الی زمانیکه مقامات با صلاحیت، مسؤلیت طیاره، راکبین و اموال داخل طیاره را بعهده گیرند، طیاره درحال پرواز دانسته می شود.

د تطبیق ساحه

څلورمه ماده:

که چېرې د افغانستان تبعه، د بهرني دولت تبعه یا له تابعیت پرته شخص، پدې قانون کې درج شوي جرمونه، په لاندې حالاتوکې مرتکب شي، ددې قانون حکمونه پرې، د تطبیق وړ دي:

۱- جرم د افغانستان په قلمرو کې ارتکاب شوی وي.

۲- جرم د افغانستان د تبعه یا په افغانستان کې د نورو مېشتو اشخاصو پر علیه یا د افغانستان د ګټو پر ضد په بهر کې ارتکاب شوی وي.

۳- جرم د هغې الوتکې په دننه یا د هغې پر ضد چې په افغانستان کې ثبت شوې وي، ارتکاب شوی وی.

ساحۀ تطبیق

مادۀ چهارم :

هرگاه تبعۀ افغانستان، تبعۀ دولت خارجی یا شخص بدون تابعیت، جرایم مندرج این قانون را در احوال ذیل مرتکب گردد، احکام این قانون بر وی قابل تطبیق می باشد:

۱-جرم در قلمرو افغانستان ارتکاب گردیده باشد.

۲- جرم علیه تبعۀ افغانستان یا سایر اشخاص مقیم افغانستان یاعلیه منافع افغانستان در خارج ارتکاب گردیده باشد.

۳- جرم در داخل طیاره یا علیه آن که در افغانستان ثبت بوده، ارتکاب گردیده باشد.

۴- جـرم د افغانـستان د بیـرغ وړونکي ببړې په دننه یا د هغې پر ضد ارتکاب شوی وي.

۵- جرم د هغې ودانۍ په دننه او یا د هغې پر علیه چې د افغانستان د دولت دیپلوماتیکه نمایندګي یا نورې رسمي نمایندګۍ پکې واقع وي یا د افغانستان په دولت پورې د اړوندو آسانتیاوو (تسهیلاتو) پر ضد، ارتکاب شوی وي.

۶- جرم د هغې الوتکې په دننه کې چې په افغانستان کې ثبت شوې نه وي ارتکاب شوی وي او الوتکه د افغانستان په قلمرو کې ناسته وکړي او له الوتکې سره په اړه ددې قانون په نهمه ماده کې د درج شوي جرم مرتکب، د هغې په دننه کې وي.

۷- جرم، ددې قانون په دیارلسمه ماده کې د درج شوي شخص په اړه، چې د افغانستان له دولت سره کاري اړیکي ولري، ارتکاب شوی وي.

۴- جرم در داخل کشتی حامل بیرق افغانستان یا علیه آن ارتکاب گردیده باشد.

۵- جرم در داخل ساختمان و یا علیه آن که نمایندگی دیپلوماتیك یا سایر نمایندگی های رسمی دولت افغانستان درآن واقع بوده یا علیه تسهیلات متعلق به دولت افغانستان، ارتکاب گردیده باشد.

۶- جرم در داخل طیاره ای که در افغانستان ثبت نبوده ارتکاب گردیده و طیاره در قلمرو افغانستان نشست نماید و مرتکب جرم مندرج مادۀ نهم این قانون در ارتباط به طیاره در داخل آن باشد.

۷- جرم در ارتباط به شخص مادۀ سیزدهم این قانون که با دولت افغانستان روابط کاری داشته، ارتکاب گردیده باشد.

د اطفالو د تروریستي جرمونو څېړل (رسیدګی)

پنځمه ماده:

که چېرې پدې قانون کې درج شوي جرمونه، د اطفالو لخوا ارتکاب شي، د هغو څېړل، د اطفالو د سرغړونو د رسېدګی د قانون مطابق، صورت مومي.

رسیدگی به جرایم تروریستی اطفال

مادۀ پنجم :

هرگاه جرایم مندرج این قانون توسط اطفال ارتکاب گردد ، رسیدگی به آن طبق قانون رسیدگی به تخلفات اطفال صورت می گیرد.

د مظنون یا تورن حقوق

شپږمه ماده:

د تروریستي جرمونو مظنون یا تورن، د تحقیق او محاکمې په وخت کې د نورو جرمونو د مظنونینو او تورنو په څېر د عین قانوني حقوقو لرونکی دی.

حقوق مظنون یامتهم

مادۀ ششم:

مظنون یا متهم جرایم تروریستی ، حین تحقیق ومحاکمه مانند مظنونین ومتهمین سایر جرایم دارای عین حقوق قانونی می باشد.

د بهرني تبعه مظنون یا تورن حقوق

اوومه ماده:

که چېرې پدې قانون کې د درج شوو جرمونو مظنون یا تورن بهرنی تبعه وي، له نیولو او توقیف وروسته، په نورو تقنیني سندونو کې پر درج شوو حقوقو برسېره د لاندې حقوقو لرونکی هم دی:

۱- د بهرنیو چارو د وزارت له لارې

حقوق مظنون یا متهم تبعۀ خارجی

مادۀ هفتم:

هرگاه مظنون یا متهم جرایم مندرج این قانون تبعۀ خارجی باشد ، بعد از گرفتاری و توقیف علاوه بر حقوق مندرج سایر اسناد تقنینی دارای حقوق ذیل نیز می‌باشد :

۱- اطلاع بدون تاخیر به

د متبوع دولت سیاسي نمایندګی ته بې له ځنډه خبر ورکول.
۲- د متبوع دولت له استازی سره لیدنه کتنه.
۳- ددې مادې په (۱او ۲) اجزاوو کې له درج شوو حقوقو څخه خبرتیا.

نمایندگی سیاسی دولت متبوع از طریق وزارت امورخارجه.
۲- بازدید بانمایندۀ دولت متبوع.
۳- آگاهی از حقوق مندرج اجزای (۱و۲) این ماده .

دوه یم فصل
تروریستي جرمونه او د هغو مجازات

فصل دوم
جرایم تروریستی و مجازات آن

د الوتکې، بېړۍ او یا د لاړښوونې د ثابت ځای (سکو) تصرف یا تر کنترول لاندې راوستل

اتمه ماده:
(۱) هغه شخص چې د قوې (تشدد) یا وېرې اچونې د نورو اعمالو په استعمال سره، د الوتنې په حال کې الوتکه یا بېړۍ یا د لاړښوونې ثابت ځای (سکو) یا د هغو یوه برخه تصرف یا تر کنترول لاندې را ولي، له احوالو سره سم د اوږدیا دوام حبس په جزا، محکومېږي.
(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص د سخت ټپ یا قتل مرتکب شي، له احوالو

تصرف یا تحت کنترول قرار دادن طیاره، کشتی و یامحل هدایت(سکو) ثابت

مادۀ هشتم:
(۱) شخصی که با استعمال قوه (تشدد) یاسایر اعمال ارعاب آمیز، طیارۀ در حال پرواز یا کشتی یا محل هدایت (سکو) ثابت و یا بخشی از آنها را، تصرف یا تحت کنترول قرار دهد، حسب احوال به جزای حبس طویل یا دوام محکوم می گردد.
(۲) هرگاه شخص مندرج فقرۀ (۱) این ماده مرتکب جراحت شدید یا قتل گردد، حسب احوال

سره سم د دوام حبس یا اعدام په جزا، محکومېږي.

(۳) که چېرې شخص صرف ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب د متوسط حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي ګواښ له املې شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، له احوالو سره سم، د هغه حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

به جزای حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه شخص، صرف تهدید به ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه بالاثر تهدید مندرج فقرهٔ (۳) این ماده شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

د هوایي خوندیتوب پر علیه جرمونه

نهمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوهٔ مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې الوتکه د الوتنې په حال کې وي، د هغې د یوې سپرلۍ پر علیه له تشدد څخه په ډک عمل لاس پورې کړي او نوموړی عمل د الوتکې خوندیتوب

جرایم علیه مصؤنیت هوائی

مادهٔ نهم:

(۱) شخصی که مرتکب یکی ازاعمال آتی شود ،حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- درصورتی که طیاره در حال پرواز بوده، علیه یکی از راکبین آن دست به عمل تشدد آمیز بزند وعمل مذکور مصؤنیت طیاره

له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د هغه حبس په جزا چې له پنځو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې فعاله الوتکه داسې ډول زیانمنه کړي چې د الوتنې خنډ یې شي یا د الوتنې په حال کې الوتکې د خوندیتوب لپاره د خطر احتمال را منځته کړي یا غیر فعاله الوتکه زیانمنه یا ویجاړه کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږده یا دوام حبس یا اعدام په جزا محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په الوتکه کې داسې مواد او وسایل کښېږدي او یا یې د اېښودلو وسیله شي داسې چې د الوتکې د ویجاړېدو موجب شي یا هغې ته داسې زیان ورسوي چې د الوتنې خنډ یې شي یا د الوتنې په حال کې الوتکې خوندیتوب ته د خطر احتمال را منځته کړي، مرتکب له احوالو سره سم د حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه لږ او له څوارلسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از پنج سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۲- درصورتی که طیارهٔ فعال را طوری خساره مند سازد که مانع پرواز آن گردد یا احتمال خطر را برای مصؤنیت طیارهٔ در حال پرواز ایجاد نماید، یا طیارهٔ غیر فعال را خساره مند و یا منهدم نماید مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل یا دوام و یا اعدام محکوم می گردد.

۳- درصورتی که در طیاره وسایل یا موادی را بگذارد و یا وسیلهٔ گذاشتن آن شود، طوری که موجب انهدام طیاره شده بتواند یا به آن صدمهٔ برساند که مانع پرواز آن گردد یا احتمال خطر را برای مصؤنیت طیاره در حال پرواز ایجاد نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از ده سال کمتر و از چهارده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۴- په هغۀ صورت کې چې ملکي هوايي تأسيسات ويجاړ يا هغو ته زيان ورسوي يا يې په فعاليت کې پداسې توګه لاسوهنه وکړي چې د الوتنې خوندیتوب له خطره سره مخامخ کړي، له احوالو سره سم د اوږده حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي يا په دوام حبس، محکومېږي.

۵- په هغۀ صورت کې چې پوهېږي هغه معلومات چې حقيقت نلري، وړاندې کړي، داسې چې د الوتنې خوندیتوب له خطر سره مخامخ وښيي، مرتکب د متوسط حبس په جزا چې له دريو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۲) په هغۀ صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکي يا هر بل حقيقي يا حکمي شخص د يوې عمل اجراء يا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲ او ۳) اجزاوو کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزاء چې له دريو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زيات نه وي،

۴- درصورتی که تأسیسات هوائی ملکی را منهدم و یا به آن صدمه برساند یا درفعالیت آ ن به نحوی دخالت نماید که مصؤنیت پرواز را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد یا حبس دوام، محکوم می گردد.

۵- درصورتی که معلوماتی را که می داند عاری از حقیقت است، ارائه نماید طوریکه مصؤنیت پروازرا مواجه به خطر وانمود سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که شخص تهدید ارتکاب اعمال مندرج اجزای (۱، ۲ و ۳) فقرۀ (۱) این ماده را به منظور مجبور ساختن کارکن دولتی یا هر شخص حقیقی یا حکمی دیگری برای اجراء یا امتناع از اجرای یک عمل نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم

محکومېږي.
(۳) کـه چېـرې ددې مـادې د (۱) فقـرې پـه (۱) جـز کـې د درج شـوو عملونو د ګوابښ لـه املـه شـخص تر جـسمي يـا روانـي فـشار لانـدې و نيـول شـي، مرتکـب لـه احوالـو سره سم د هغه حبس په جزا چې لـه لـسو کلونو څخه لږ او لـه پنځلسو کلونـو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

د هوايي ډګرونوپر عليه جرمونه
لسمه ماده:
(۱) هغـه شـخص چـې لـه لانـدې عملونو څخه د يوه مرتکب شي او پـه پايلـه کـې يـې د بـين المللـي ترانـسپورت د ګټـې اخـستنې وړ ملکـي هـوايي ډګر خونديتوب لـه خطر سره مخامخ کړي او يا له خطر سـره د مخـامخ کېـدو د احتـمال باعـث شـي، پـه لانـدې توګـه مجازاتېږي:
۱- په هغه صورت کې چې د تشدد عمل د هغه شخص پر عليه چې د ملکـي بـين المللـي هـوايي ډګر پـه خدمت کې وي او په هوايي ډګر کې د هغه د سخت ټپ يـا قتـل سبب اويـا يـې د سـخت ټـپ يـا قتـل د

می گردد.
(۳) هرگـاه بـالاثـر تهديـد اعـمال مندرج جز(۱) فقرۀ (۱) ايـن مـاده ، شـخص تحـت فـشار جـسمی يـا روانـی قـرار گيـرد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حبـسی کـه ازده سـال کمتـر واز پـانزده سـال بيـشتر نباشـد، محکوم می گردد.

جرايم عليه ميدان های هوائی
مادۀ دهم:
(۱) شخـصی کـه مرتکـب يکـی ازاعمـال آتـی گرديـده و در نتيجۀ آن مصؤنيت ميدان هوائی ملکی مـورد اسـتفادۀ ترانـسپورت بـين المللـی را بـه خطـر مواجـه سـازد و يـا احتمـال مواجـه شـدن بـه خطـر را باعـث شـود، حـسب ذيـل مجـازات می گردد:
۱- در صـورتی کـه عمـل تـشدد عليه شخصی که در خدمت ميـدان هوائی بين المللی ملکی بوده و در ميدان هوائی سبب جراحت شديد يـا قتـل وی و يـا باعـث بـه ميـان آوردن احتمال مجروحيت شديد يا

احتمال د منځته راتلو باعث شي، مرتکب له احوالو سره سم د دوام حبس یا اعدام په جزا محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې د بین المللي ګټې اخستنې وړ ملکي هوایي ډګر تأسیسات ویجاړ یا هغه ته سخت زیان و رسوي یا د هوایي ډګر خدمتونه اخلال کړي، مرتکب د اوږدې حبس د اکثر حد په جزا محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکي یا هر بل حقیقي یا حکمي شخص د یوې عمل اجراء یا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور ددې مادې د (۱) فقرې په (۱) جز کې د درج شوو عملونو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزا چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

(۲) کـه چېرې ددې مادې د (۱) فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې د درج شوو عملونو د ګواښ له امله شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزا

قتل وی گردد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس دوام یا اعدام محکوم می گردد.

۲- در صورتیکه تأسیسات میدان هوائی مورد استفادهٔ خدمات هوائی ملکی بین المللی را منهدم یا به آن صدمهٔ شدید برساند یا خدمات می‌دان هوائی را اخلال نماید، مرتکب به حداکثر جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۳- در صورتی که شخص تهدید ارتکاب اعمال مندرج جز(۱) فقرهٔ (۱) این ماده را به منظور مجبور ساختن کارکن دولتی یا هر شخص حقیقی یا حکمی دیگری به اجراء یا امتناع از اجرای یک عمل نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمترو از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه بالاثر تهدید اعمال مندرج اجزای(۱و۲) فقرهٔ (۱) این ماده شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که ازپنج

چې له پنځو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

سال کمتر واز ده سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

د بېړیو او ثابتو تأسیساتو د سپرلې (راکب) پر علیه جرمونه

یوولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوه مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د تشدد عمل، په بېړۍ کې د سپور شخص پر علیه یا په ثابتو تأسیساتو کې صورت ومومي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزا محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې عمل د بېړۍ، د بېړۍ د محمولې یا ثابتو تأسیساتو د ویجاړېدو یا زیات زیان سبب شي یا احتمالاً د سمندري ترانسپورت د ګټې اخستنې وړ ثابتو تأسیساتو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم د اوږدې حبس په جزاء، محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې په بېړۍ یا ثابتو تأسیساتو کې داسې

جرایم علیه راکب کشتی ها وتأسیسات ثابت

مادۀ یازدهم:

(۱) شخصی که مرتکب یکی از اعمال آتی شود ،حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که عمل تشدد علیه شخص سوار در کشتی یا در تأسیسات ثابت صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی که عمل سبب انهدام یا خسارۀ شدید کشتی، محمولۀ کشتی یا تأسیسات ثابت گردد یا احتمالاً مصؤنیت کشتی یا تأسیسات ثابت مورد استفاده ترانسپورت بحری را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل محکوم می گردد.

۳- در صورتی که در کشتی یا تأسیسات ثابت و سایل یا موادی

وسایل یا مواد کنښږدي یا یې د اښنودلو وسیله شي چې د ښږې یا ثابتو تأسیساتو د ویجاړښدو یا زیان سبب شي، مرتکب له احوالو سره سم د اوږدې حبس په جزاء چې له شپږوکلونو څخه لږ اوله لسوکلونو څخه زیات نه وي، محکومیږي.

۴- په هغه صورت کې چې ددې فقرې په (۱ او ۲) اجزاوو کې درج شوي عملونه د ښږې د سفر خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي یا سمندري تأسیسات ویجاړ یا ورته زیان ورسوي یا یې خدمتونه اخلال کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزا او د سخت ټپ یا قتل په صورت کې په اعدام محکومیږي.

۵- په هغه صورت کې چې پوهیږي هغه معلومات چې حقیقت نلري، وړاندې کړي داسې چې د ښږې یا ثابتو تأسیساتو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي، مرتکب له احوالو سره سم د متوسط حبس په جزا محکومیږي.

(۲) په هغه صورت کې چې شخص د دولتي کارکوونکو یا هر بل

را بگذارد و یا وسیلهٔ گذاشتن آن شود که سبب انهدام یا صدمه به کشتی یا تأسیسات ثابت شده بتواند، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۴- در صورتی که اعمال مندرج اجزای (۱و ۲) این فقره مصؤنیت سفر کشتی را به خطر مواجه سازد یا تأسیسات ترانسپورت بحری را منهدم یا به آن صدمه برساند و یا خدمات آنرا اخلال نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویل و درصورت جراحت شدید یا قتل به اعدام محکوم می گردد.

۵- در صورتی که معلوماتی را که می‌داند عاری از حقیقت است ارائه نماید طوریکه مصؤنیت کشتی و یا تأسیسات ثابت را به خطر مواجه سازد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس متوسط محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که شخص تهدید ارتکاب اعمال مندرج اجزای

حقیقي یا حکمي شخص د یوه عمل اجراء یا له اجراء څخه ډډې کولو ته د مجبورولو په منظور، ددې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲، ۳ و ۴) اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب ګواښ وکړي، مرتکب له احوالو سره سم د هغه حبس په جزاء چې له دریو کلونو څخه لږ او له اوو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي ګواښ له املـه، شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزاء چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

د اشخاصو پر علیه جرمونه

دوولسمه ماده:

(۱) که چېرې شخص، د افغانستان دولت یا بهرني دولت یا بین المللي سازمان یا بهرنۍ نا دولتي مؤسسې د مجبورولو په منظور، بل شخص د یوې عمل د اجراء یا له اجرا څخه د ډډې کولو په خاطر (۱، ۲، ۳و۴) فقرۀ (۱) این ماده را به منظور مجبور ساختن کارکن دولتی یا هر شخصی حقیقی یا حکمی دیگری به اجرای یا امتناع از اجرای یك عمل نماید، مرتکب حسب احوال به جزای حبسی که از سه سال کمتر و از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

(۳) هر گاه بالاثر تهدید مندرج فقرۀ (۲) این ماده، شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که ازشش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

جرایم علیه اشخاص

مادۀ دوازدهم:

(۱) هرگاه شخص، به منظور مجبور ساختن دولت افغانستان یادولت خارجی یا سازمان بین المللی یا موسسۀ غیر دولتی خارجی، شخص دیگری را به مقصد اجرای یا امتناع از اجراء

ونیسي یا یې توقیف کړي، د مرګ یا جسمي تعذیب ګوابښ ورته وکړي یا یې په اسارت کې و ساتي او آزادول یې واضحاً یا تلویحاً د هغۀ عمل په اجراء یا له اجراء څخه په ډډې کولو مشروط کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدۀ حبس د اکثر حد په جزاء، محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، ټپي یا معلول شي یا و وژل شي، مرتکب له احوالو سره سم، د دوام حبس د اکثر حد په جزا یا اعدام، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د ارتکاب له امله، شخص تر جسمي یا رواني فشار لاندې و نیول شي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدۀ حبس په جزاء چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

یک عمل گرفتار یا توقیف نموده و تهدید به مرگ یا تعذیب جسمی نماید یا در اسارت نگهدارد و آزاد ساختن وی را واضحاً یا تلویحاً مشروط به اجراء یا امتناع از اجرای آن عمل نماید، مرتکب حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص توقیف شدۀ مندرج فقرۀ(۱) این ماده، مجروح یا معلول گردیده و یا به قتل رسانیده شود، مرتکب حسب احوال به حد اکثر جزای حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه بالاثر ارتکاب عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده، شخص تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که ازشش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

د بین المللي خوندیتوب لرونکو اشخاصو پرعلیه جرمونه

دیارلسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه یو، د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص پر علیه مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص، د هر ډول جسمي یا رواني حملې لاندې و نیسي، اختطاف یې کړي یا یې و وژني، له احوالو سره سم د اوږدې حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي یا دوام حبس یا اعدام په جزا، محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چې د بین المللي خوندیتوب لرونکي شخص په رسمي استوګنځي، شخصي استوګنځي یا نقلیه وسیلې باندې حمله وکړي یا د هغه خپل خوندیتوب یا آزادۍ ته ګواښ پېښ کړي، له احوالو سره سم، د اوږدې حبس په جزا چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۳- په هغه صورت کې چې د بین

جرایم علیه اشخاص دارای مصؤنیت بین المللی

مادۀ سیزدهم:

(۱) شخصی که یکی از اعمال آتی را علیه شخص دارای مصؤنیت بین المللی مرتکب شود، حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که شخص دارای مصؤنیت بین المللی را مورد هر نوع حملۀ جسمی یا روانی قرار دهد، اختطاف نماید یا به قتل رساند، حسب احوال به جزای حبس طویلی که کمتر از ده سال نباشد یا حبس دوام یا اعدام، محکوم می گردد.

۲- در صورتی که بالای اقامتگاۀ رسمی، منزل شخصی یا وسیلۀ نقلیۀ شخص دارای مصؤنیت بین المللی حمله نموده یا خطری را به مصؤنیت شخص خودش یا آزادی وی متوجه سازد، حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و ازده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۳- در صورتی که تهدید به

المللـــي خونـــديتوب لرونکـــي شـخص، د يـوه عمـل اجـراء يـا لـه اجـــراء څخـــه ډډې کولـــو تـــه د مجبورولو په منظور ددې فقرې په (۱او ۲) اجـزاوو کـې د درج شـوو اعمـالو د ارتکـاب ګـوابښ وکړي، مرتکـب، لـه احوالـو سـره سـم د متوسط حبس په جزا چې له دريو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې د (۱) فقـرې پـه (۳) جـز کـې د درج شـوي ګـوابښ لـه املـه، د بـين المللـي خونـديتوب لرونکـی شـخص، تـر جسمي يـا رواني فـشار لانـدې و نيـول شي، مرتکب له احوالو سره سـم، د متوسـط حـبس يـا د اوږدۀ حبس په جزا چې له لسو کلونو څخه زيات نه وي، محکومېږي.

ارتکـاب اعـمال منـدرج اجـزای (۱و۲) ايـن فقـره را بـه منظـور مجبـور سـاختن شـخص دارای مصؤنيت بين المللی به اجراء يا امتنـاع از اجـرای يـك عمـل نمايـد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس متوسـط کـه ازسـه سـال کمتـر نباشـد، محکوم می گردد.

(۲) هرگـاه بـالاثر تهديـد منـدرج جـزء (۳) فقـرۀ (۱) ايـن مـاده، شـخص دارای مـصؤنيت بيـن‌المللی تحت فشار جسمی يـا روانـی قـرار گيـرد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس متوسط يا حبس طويلي کـه از ده سـال بيـشتر نبـاشد، محکـوم می گردد.

لـه چاودېـدونکو مـوادو او نـورو وژونکـو وسـايلو څخـه د ګټـې اخستنې جرمونه

څوارلسمه ماده:

(۱) هغـۀ شـخص چـې لـه لانـدې مـوادو او وسـايلو څخـه يـو د عامـه ګټې اخـستنې وړ ځـای يـا دولتـي ودانيـو او تأسيـساتو يـا د عامـه

جـــرايم اســـتفاده از مـــواد منفجـــره و ســـاير وســـايل کشنده

مادۀ چهاردهم:

(۱) شخـــصی کـــه يکـــی از مـواد و وسـايل آتـی را بـه محـل مـورد اسـتفادۀ عامـه يـا بناهـا و تأسيـسات دولتـی يـا سيـستم

ترانسپورټ سیستم یا نورو بنسټیزو تأسیساتو ته یا د هغو په استقامت ولېږدوي، کنټرېدي، فیر یې کړي یا هغه ته انفجار ورکړي، له احوالو سره سم، د اوږدې حبس د اکثر حد او یا دوام حبس یا د اعدام په جزا ځ محکومېږي:

۱- چاودېدونکي مواد، اوربلوونکي وسله یا هغه وسله چې د شخص د وژنې، سخت ټپي کولو یا دستر مالي زیان اړولوتوان ولري.

۲- هغه وسله یا وسیله چې د کیمیاوي، بیولوژیکي او یا راډیو اکتیف زهرجنو موادو د لګېدو (اصابت) یاخپرېدو له لارې، د شخص د وژنې او سخت ټپي کېدو یا سترمالي زیان رسولو توان ولري.

(۲) هغه شخص چې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د یوې د ارتکاب په منظور، بل شخص ته لارښوونه وکړي یا په یو ډول نه یو ډول، په نومورې فقره کې درج، د یوې یا زیاتو جرمونو په ارتکاب کې د یوې ډلې اشخاصو له لارې چې د ګډې موخې لپاره ترانسپورت عامه و یا سایر تأسیسات زیر بنائی یا به استقامت آنها انتقال دهد، بگذارد، فیر نماید یا آنرا انفجار دهد، حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل و یا حبس دوام یا اعدام محکوم می گردد:

۱- موادمنفجره، سلاح آتش افزا یا وسیلهٔ که توان کشتن یا شدیداً مجروح نمودن شخص و یا رسانیدن صدمهٔ بزرگ مالی را داشته باشد.

۲- سلاح یا وسیله ای که از طریق اصابت یا انتشار مواد زهر ناك کیمیاوی، بیولوژیکی و یا رادیو اکتیف، توان قتل و یا شدیداً مجروح نمودن شخص یا رسانیدن صدمهٔ بزرگ مالی را داشته باشد.

(۲) شخصی که به منظور ارتکاب یکی از جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده شخص دیگر را رهنمائی نماید یا به نحوی از انحا در ارتکاب یکی یا بیشتر از جرایم مندرج فقرهٔ مذکور از طریق گروهی از اشخاص سهم داشته باشد که برای هدف

کار کوي، برخه و لري، پدې شرط چې برخه اخستنه عمدي او د عمومي جرمي فعالیت د پرمخبیولو یا د ډلې د موخې د پرمخبیولو په هدف یا د نومورې جرم یا جرمونو د ارتکاب لپاره د ډلې له نیت (قصد) څخه په خبرتیا سره یې صورت مونډلی وي، مرتکب له احوالو سره سم د اصل جرم لپاره په اټکل شوې عین جزا محکومېږي.

مشترك کار می کنند، مشروط بر اینکه سهم گیری عمدی و به هدف پیشبرد فعالیت عمومی جرمی یا پیشبرد هدف گروه یا با اطلاع قبلی از قصد گروه برای ارتکاب جرم یا جرایم مذکور صورت گرفته باشد، مرتکب حسب احوال به عین جزای پیش‌بینی شده برای اصل جرم محکوم می‌گردد.

د هسته یې موادو جرمونه

پنځلسمه ماده:

هغه شخص چې له لاندې عملونو څخه د یوې مرتکب شي، په لاندې توګه مجازاتېږي:

۱- په هغې صورت کې چې اټومي مواد لاسته راوړي، په خپل واك کې یې واخلي یا یې استعمال، انتقال، تبادله، ویجاړ یا خپارې کړي چې له املې یې د سخت ټپ یا وژنې یا شتمنۍ ته د زیان رسولو سبب شي او یا د وژنې یا سخت ټپي کېدو د احتمال باعث شي او یا شتمنیو ته د زیان رسولو توان ولري، مرتکب له احوالو سره سم، د دوام حبس د

جرایم مواد هسته ئی

مادۀ پانزدهم:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال آتی گردد، حسب ذیل مجازات می گردد:

۱-درصورتی که مواد اتومی را بدست آورد، در اختیار خویش قرار دهد یا استعمال، انتقال، تبادله، منهدم یا انتشار نماید که بالاثرآن سبب جراحت شدید یا قتل یا صدمه رسانیدن به دارائی گردد و یا احتمال مجروحیت شدید یا قتل را باعث شود ویا توانائی صدمه رسانیدن به دارائی ها را داشته باشد، مرتکب حسب

اکثر حد او یا د اعدام په جزا محکومېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې اتومي مواد غلا، تالا (غارت) یا اختلاس کړي یا یې له نا قانونه لارې ترلاسه کړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدهٔ یا دوام حبس په اکثر حد جزا محکومېږي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې په ګواښ یا له قوې (تشدد) یا د وېرې اچونې له نورو لارو څخه په ګټې اخستنې سره، د اتومي موادو د لاسته راوړلو غوښتنه وکړي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدهٔ حبس داکثرحد په جزاء محکومېږي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د شخص د وژلو یا ټپي کولو یا د ستر مالي زیان د اړولو په نیت، د اتومي موادو د استعمال ګواښ، صورت و مومي، مرتکب له احوالو سره سم، د اوږدهٔ حبس په جزا چې له شپږو کلونو څخه لږ او له لسو کلونو څخه زیات نه وي، محکومېږي.

۵- د افغانستان دولت یا بل دولت یا بین الحکومتي سازمان یا غیر

احوال به حداکثر جزای حبس دوام و یا اعدام محکوم می گردد.

۲-درصورتی که مواد اتومی را سرقت، غارت یا اختلاس یا از سایر طرق غیر قانونی به دست آورد، مرتکب حسب احوال به حد اکثر جزای حبس طویل و یاحبس دوام محکوم می گردد.

۳-در صورتی که با تهدید یا استفاده ازقوه (تشدد) و سایر طرق ارعاب آمیز تقاضای بدست آوردن مواد اتومی را نماید، مرتکب حسب احوال به حداکثر جزای حبس طویل محکوم می گردد.

۴-درصورت تهدید به استعمال مواد اتومی به مقصد قتل یا جراحت شخص یا وارد نمودن صدمه بزرگ مالی صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس طویلی که از شش سال کمتر و از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

۵- در صورت تهدید به ارتکاب یکی از جرایم مندرج جزء (۲) این

حکومتي بين المللي سازمان يا بل حقيقي يا حکمي شخص د يوه عمل اجراء يا له اجراء څخه ډډي کولو ته د مجبورولو په منظور، ددې مادې په (۲) جزء کې له درج شوو جرمونو څخه د يوه د ارتکاب د ګواښ په صورت کې، مرتکب له احوالو سره سم د دوام حبس په جزا محکومېږي.

مـاده بـه منظـور مجبـور سـاختن دولت افغانستان یا دولت دیگر یا سـازمان بـین المللـی بـین الحکومتی یا سازمان بین المللی غیر حکومتی یا شخص حقیقی یا حکمی دیگری به اجراء یا امتناع از اجرای یك عمل صورت گیرد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس دوام محکوم می گردد.

د بنستيزوتأسيساتو ويجاړول

شپاړسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان په قلمرو کې ددې قانون د درېيمې مادې په (۶) جزء کې د درج شوو بنستيزو تأسيساتو ته د زيان رسولو يا ويجاړولو باعث شي او يا پدې نيت چې يو تروريستي عمل سرته ورسوي، د هغو فعاليت اخلال کړي، د اوږدې حبس د اکثر حد په جزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په مرګ تمام شي، مرتکب د اعدام په جزاء محکومېږي.

تخریب تأسیسات زیر بنائی

مادۀ شانزدهم:

(۱) شخصی که باعث وارد نمودن صدمه یا تخریب تأسیسات زیربنائی مندرج جزء(۶) مادۀ سوم این قانون در قلمرو افغانستان گردد ویا فعالیت آنرا مختل سازد به قصداینکه یك عمل تروریستی را انجام دهد به حد اکثر جزای حبس طویل محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به مرگ شود، مرتکب به جزای اعدام محکوم می گردد.

د جرم ارتکاب ته هڅه او په هغه کې ګډون

اووه لسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو ارتکاب ته هڅه وکړي یا د هغو په ترسره کولو کې له نورو سره شریك شي،له احوالو سره سم، د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې عین جزاء محکومپږي.

(۲) ددې قانون حکمونه، ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې له درج شوو جرمونو څخه د هر یوه د ارتکاب ګواښ ته د هڅې په هکله، د تطبیق وړ ندي.

سعی به ارتکاب جرم و شراکت آن

مادۀ هفدهم:

(۱) شخصی که به ارتکاب جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون سعی نماید و یا در بسر رسانیدن آن با دیگران شریك گردد، حسب احوال به عین جزای پیش بینی شده برای فاعل جرم محکوم می گردد.

(۲) احکام این قانون درمورد سعی به تهدید ارتکاب هر یك از جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون قابل تطبیق نمی باشد.

اتفاق

اتلسمه ماده:

هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر شپاړسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو په ارتکاب کې د ګډون په مقصد له بل شخص سره اتفاق وکړي یا اشخاص د هغۀ ارتکاب ته تحریك یا وهڅوي او یا د یادو شوو جرمونو د ارتکاب لپاره پلانونه

اتفاق

مادۀ هجدهم:

شخصی که به منظور اشتراك در ارتکاب جرایم مندرج مواد نهم الی شانزدهم این قانون با شخص دیگری اتفاق نموده یا اشخاص را به ارتکاب آن ، تحریك یا تشویق نماید و یا برای ارتکاب جرایم متذکره پلان گذاری و یا

(پلان جوړونه) وکړي او یا هغه تنظیم کړي، له احوالو سره سم د اوږدې حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي یا د دوام حبس په جزا محکومېږي.

آنرا تنظیم نماید، حسب احوال به جزای حبس طویلی که از ده سال کمتر نباشد یا حبس دوام محکوم می گردد.

د جرم ملاتړ یا هغه ته خدمت

نولسمه ماده:

(۱) هغه شخص چې د تروریستي سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې ددې قانون له نهمې څخه تر اتلسمې مادې پورې د درج شوو جرمونو په ارتکاب یا سرته رسولو کې بل شخص استخدام کړي، استخداموونکی د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې جزاء محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو په سرته رسولو کې په یو ډول نه یو ډول، د خدمت یا د وسلې د برابرولو چې د نومورو جرمونو په ارتکاب کې استعمالېږي، مرسته کړې وي، د جرم د فاعل لپاره په اټکل شوې عین جزاء محکومېږي.

حمایت جرم یاخدمت به آن

مادۀ نزدهم:

(۱) شخصی که عضویت سازمان تروریستی را کسب نماید به حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که غرض اشتراك در ارتکاب یابه سر رسانیدن جرایم مندرج مواد نهم الی هجدهم این قانون شخص دیگری را استخدام نماید، استخدام کننده به جزای پیشبینی شده برای فاعل جرم، محکوم می گردد.

(۳) شخصی که به نحوی ازانحا در به سر رسانیدن جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده با انگیزۀ حمایت به شمول خدمت و تهیۀ سلاح که درارتکاب جرایم متذکره استعمال می گردد ،کمك نموده باشد ،به عین جزای پیشبینی شده برای فاعل جرم، محکوم می گردد.

د خنډونو او ګډوډۍ جوړول
شلمه ماده:
هغه شخص چې د تروریستي جرمونو د کشف او تحقیق په بهیر یا یې د مرتکبینو په محاکمه کې خنډونه رامنځته یا هغه اخلال کړي یا د دروغ شهادت، رشوت ورکولو، ګواښ، د نفوذ د اعمال له لارې یا په یو ډول نه یو ډول د الزام دلایل یا د جرم اثباتیه مدارك له منځه یوسي، د اوږدۍ حبس په جزاء، محکومېږي.

ایجاد موانع واخلال
مادۀ بیستم:
شخصی که در جریان کشف و تحقیق جرایم تروریستی و یا محاکمۀ مرتکبین آن موانع ایجاد یا آنرا اخلال نماید یا از طریق شهادت دروغ ، دادن رشوه، تهدید ، اعمال نفوذ یا به نحوی از انحا دلایل الزام و مدارك اثباتیۀ جرم را از بین ببرد به جزای حبس طویل، محکوم می گردد .

درېیم فصل
متفرقه حکمونه

فصل سوم
احکام متفرقه

د جزایي اجراآتو د قانون د حکمونو رعایتول
یوویشتمه ماده:
د تروریستي جرمونو د مظنونینو او تورنو کشف، تحقیق او محاکمه، د جزائي اجراآتو د قانون او ددې قانون د حکمونو مطابق صورت مومي.

رعایت احکام قانون اجراآت جزائی
مادۀ بیست و یکم :
کشف، تحقیق و محاکمۀ مظنونین و متهمین جرایم تروریستی مطابق احکام قانون اجراآت جزائی و این قانون صورت می‌گیرد .

لنډمهاله تدبیرونه

دوه ویشتمه ماده:

(۱) لوی څارنوال د الزام د دلایلو او اثباتیه مدارکو پر بنسټ چې د دافغانستان بانک د مالي استخباراتو د اداري، د ملي امنیت د عمومي ریاست او پولیسو لخوا را غونډ شوي، د ملي امنیت له شوري سره له سلا وروسته، کولي شي د هغۀ شخص، مؤسسې یا سازمان په هکله چې له تروریستي سازمان څخه مادي ملاتړ کوي او یا د ملګرو ملتونو د معیارونو مطابق، د تروریستي اعمالو مادي ملاتړ کوونکي تشخیص شوي دي، مؤقتي تدبیرونه عملي کړي.

(۲) په هغۀ صورت کې چې د تروریستي قضیې په اړه د الزام دلایل راغونډ شي، څارنوالي را غونډ شوي سندونه او دلایل د قانون د حکمونو مطابق، په محرمانه توګه، واکمنې محکمې ته وړاندې او د لازمو تدبیرونو د نیولو غوښتنه کوي.

تدابیر مؤقتی

مادۀ بیست و دوم:

(۱) لوی څارنوال بر اساس دلایل الزام ومدارك اثباتیه که توسط ادارۀ استخبارات مالی دافغانستان بانك ، ریاست عمومی امنیت ملی و پولیس جمع آوری شده بعد از مشوره با شورای امنیت ملی می تواند درمورد شخص ، موسسۀ یا سازمانی که از اعمال تروریستی حمایت مادی مینماید ویا مطابق معیار های ملل متحد حمایت کنندۀ مادی اعمال تروریستی تشخیص گردیده است، تدابیر مؤقتی را عملی نماید.

(۲) درصورتی که دلایل الزام در رابطه به قضیۀ تروریستی جمع آوری گردد ، څارنوالی اسناد و دلایل جمع آوری شده را طور محرمانه طبق احکام قانون به محکمۀ ذیصلاح ارائه واتخاذ تدابیر لازم را درخواست می‌نماید.

د شتمنۍ معلومات
درویشتمه ماده:
(۱) څارنوال کولی شي، د تحقیق په بهیر کې له بانك یا نورو مالي مؤسسو څخه د تروریستي جرم د مظنون د شتمنۍ په باره کې معلومات وغواړي، پدې شرط چې دمخه یې د واکمنې محکمې اجازه اخستی وي.
(۲) بانکونه او مالي مؤسسې مکلف دي، د بانکي اسرارو او بانکي محرمیت چې د قوانینو پر بنسټ یا په یو ډول نه یو ډول هغوی ته سپارل شوي وي د ساتنې له په پام کې نیولو پرته، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي معلومات، په مستدله او واقعي توګه وړاندې کړي.

د لیکونو (مراسلو) پلټنه
څلېریشتمه ماده:
د ملي امنیت د عمومي ریاست مؤظفین، پولیس او څارنوال کولی شي د الزام د دلایلو او اثباتیه مدارکو د کشف او را غونډولو لپاره، مراسلې، ټېلفوني مکالمې او نور هغه شیان چې د پُست له

معلومات دارائی
مادۀ بیست و سوم:
(۱) څارنوال می تواند درجریان تحقیق ،دربارۀ دارائی مظنون جرم تروریستی از بانك ها یا سایر مؤسسات مالی معلومات مطالبه نماید ، مشروط بر اینکه اجازۀ قبلی محکمۀ ذیصلاح را حاصل نموده باشد.
(۲) بانك ها و مؤسسات مالی مکلف اند ، بدون نظر داشت مکلفیت مبنی برحفظ اسرار و محرمیت بانکی که بر اساس قوانین و یا به نحوی از انحا به آن ها تفویض گردیده باشد ، معلومات مندرج فقرۀ(۱) این ماده را طور مستدل و واقعی ارائه نمایند.

تفتیش مراسلات
مادۀ بیست و چهارم:
مؤظفین ریاست عمومی امنیت ملی،پولیس و څارنوال می توانند ، جهت کشف وجمع آوری دلائل الزام ومدارك اثباتیه مراسلات،مکالمات تیلفونی و سایر اشیائی را که از طریق پست

لاړې يـــا پـــه بـــل ډول ســـره، د تروريستي عمل په ارتکاب تورن شخص ته استول شوي، د واکمنې محکمې په دمخنۍ اجازې سره وپلټي. د مشهود جرم حالات لدې حکم څخه مستثني دي.

و یا طور دیگری به شخص مظنون بـــه ارتکـــاب عمـــل تروریـــستی فرســـتاده شـــده بـــه اجـــازۀ قبلـــی محکمـــۀ ذیـــصلاح تفتـــیش نمایـد .حـالات جرم مـشهود ازایـن حکم مستثنی است.

څلورم فصل
وروستني حکمونه

فصل چهارم
احکام نهائی

بين المللي همکاري
پنځه ویشتمه ماده:
د افغانستان واکمن مقامات کولي شي د تروريستي جرمونو پر عليه د مبارزې په کار کې، د مظنونينو، تورنـو، او محکومينـو د قـانون د حکمونو مطابق، له نورو هېوادونو سره همکاري وکړي.

همکاری بین المللی
ماده بیست و پنجم:
مقامـات ذیـصلاح افغانـستان مـی توانند طبق احکام قـانون استرداد مظنـونین ،متهمـین ومحکـومین در امـــر مبـــارزه علیـــه جـــرایم تروریـــستی بـا ســایر کـشور هـا همکاری نمایند.

د انفاذ نېټه
شپږویشمه ماده:
دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافـذ او پـه رسـمي جريـده کـې دې خپور شي.ددې قـانون په نافذېدو سره د هغۀ نور مغاير حکمونه لغو ګڼل کېږي.

تاریخ انفاذ
مادۀ بیست و ششم:
ایـــن قـانـــون از تـــاریخ تـــوشیح نـافذ و درجریدۀ رسمی نـشرگردد. باانفـاذ ایـن قـانون سـایر احکـام مغـــــایرآن ملغـــــی شـــــمرده می شود.

قانون مبارزه علیه
تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم

دافغانستان انتقالي اسلامي دولت

ګڼه : (۱۳۷۰۰)
نېټه : ۱۳۸۳/۷/۲۶

د عدلیې وزیر محترم قانونپوه عبدالرحیم "کریمی"!
د پیسو د تطهیر او له جرمونوڅخه د راپیدا شوو عواید و پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۱۲) فصلونو او (۷۵) مادو کې د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب او د ۱۳۸۳/۷/۲۶ نېټې د (۸۱) ګڼې فرمان پر بنسټ زموږ لخوا منظور شوی دی، تاسوته د رواستول شو چې په رسمي جریده کې یې په خپرولو اقدام وکړئ.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره: (۱۳۷۰۰)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

محترم قانونپوه عبدالرحیم "کریمی" وزیر عدلیه!
قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم را که بداخل (۱۲) فصل و (۷۵) ماده از طرف مجلس عالی وزراء تصویب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۸۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۶ منظور گردیده است، به شما ارسال شد تا به نشر آن در جریدۀ رسمی اقدام نمائید.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې د قانون د انفاذ په هکله د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئیس فرمان

ګڼه: (۸۱)
نېټه: ۱۳۸۳/۷/۲۶

لومړۍ ماده:
د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون چې په (۱۲) فصلونو او (۷۵) مادو کې د ۱۳۸۳/۷/۲۰ نېټې د (۳۱) ګڼې مصوبې پر بنسټ د وزیرانو د عالي مجلس لخوا تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یو ځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئیس

فرمان
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در بارۀ انفاذ قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم

شماره: (۸۱)
تاریخ: ۱۳۸۳/۷/۲۶

مادۀ اول:
قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم را که به اساس مصوبۀ شماره (۳۱) مؤرخ ۱۳۸۳/۷/۲۰ از طرف مجلس عالی وزراء بداخل (۱۲) فصل و (۷۵) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

مادۀ دوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

هدف
لومړی ماده:
دغه قانون د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تمویل په غرض د مالي مؤسسو یا هر اقتصادي فعالیت د استعمال د مخنیوي او بندولو په منظور وضع شوی دي.

اصطلاحګاني
دوه یمه ماده:
لاندې اصطلاحګاني پدې قانون کې لاندینۍ معنا وي افاده کوي:
۱- مصادره: د وجوهو او شتمنیو دایمي سلبول دي چې د واکمنې محکمې د وروستنې حکم په اساس یې صورت موندلی او د هغه په موجب د وجوهو او شتمنیو مالکیت د هغو د ملکیت له مثبته سندونو سره، دولت ته انتقالېږي.
۲- جنایت کار سازمان: له دوو یا

قانون مبارزه علیه تطهیر پول و عواید ناشی از جرایم
فصل اول
احکام عمومی

هدف
مادۀ اول:
این قانون به منظور جلوگیری و ممانعت از استعمال مؤسسات مالی یا هر فعالیت اقتصادی غرض تطهیر پول و تمویل تروریزم وضع گردیده است.

اصطلاحات
مادۀ دوم:
اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را افاده می‌نماید:
۱- مصادره: سلب مالکیت دایمی وجوه و دارائی های است که به اساس حکم نهائی محکمۀ ذیصلاح صورت گرفته و به موجب آن مالکیت وجوه و دارایی ها با اسناد مثبتۀ ملکیت آن به دولت انتقال می‌نماید.
۲- سازمان جنایت کار: گروه

لـه دوو څخـه د زیـاتو غـړو جـوړه شـوې ډلـه ده چې د مـستقیمو یـا غیر مستقیمو وجوهو او شتمنیو یا هـر ډول مـالي او مـادي ګټـو د تـر لاسـه کولـو لپـاره د یـوه یـا لـه یـوه څخـه د زیـاتو جرمونـو د ارتکـاب د هدف په لرلـو سره یـو ځای (متفقاً) اقدام وکړي.

۳- مـشتري: لـه یـوې معـاملې یـا حساب سره په رابطه کې پر لاندنیو اشخاصو اطلاقېږي:

- هغه شخص چې په نامـه یې یـوه معامله یا حساب ترتیـب، پرانسـتل او یا عقد شي.
- د یوه حساب یـا معـاملې لاسلیک کوونکی.
- هغـه شـخص چـې معاملـه ورتـه پرېښودل یا انتقال شي.
- هغـه شـخص چـې د معـاملې د اجراء د قانوني واک لرونکی وي.
- نور هغه اشخاص چې په معامله کې ذیدخل وپېژندل شي.

۴- مالي مؤسسې: هغـه حقیقـي یـا حـکمي اشخاص چـې مـشتري تـه یـا د هـغـه پـه اسـتـازیتوب لاندې یـو یـا لـه یـــوه څخـه زیـــات د تجـارت په نـوم فعالیـت یـا عملیـه متـشکل از دو و یـا بیـشتر از دو عـضو میباشـد کـه بـا داشـتن هـدف ارتکـاب یـك یـا بیـشتر از یـك جـرم جهـت حـصول مـستقیم یـا غیـر مـستقیم وجـوه و دارایـی هـــا یـــا هرگونـــه منـــافع مـــالی و مـــادی، متفقـــاً اقـــدام نمایند.

۳- مـشتری: در رابطـه بـا یـك معامله یا حساب بر اشخاص آتی اطلاق می‌شود:

- شخصی‌که بنام وی یك معامله یا حساب ترتیب، افتتاح و یا عقد گردد.
- امـضاء کننـدۀ یـك معاملـه یـا حساب.
- شخصی‌که به وی معامله واگذار و یا منتقل می‌گردد.
- شخـصی کـه صـلاحیت قـانونی اجرای معامله را دارا باشد.
- سـائر اشـخاص کـه در معاملـه ذیدخل شناخته شوند.

۴- مؤســسات مــالی: اشــخاص حقیقــی یــا حکمــی کــه یــك و یابیشتر از یك فعالیت و یا عملیۀ ذیـل را بـرای مـشتری و یـا بـه نمایندگی از وی به عنوان تجارت

سرته ورسوي:
الف: د خصوصي پانکوالی په ګډون له ټولو خلکو څخه د سپارنو او د بېرته ورکړې وړ نورو وجوهو منل.
ب: د مصرفي اعتبار، رهني اعتبار، له تنزیل سره د دین د ترلاسه کولو د حق د پېرودلو په ګډون یا له پېرودونکي څخه د تر لاسه کولو له حق سره یا د تر لاسه کولو له حق پرته د پورونو ورکول او د مالونو د تصرف د حق په شمول د تجارتي معاملو تمویلول.
ج: د مالونو او مصرفي تولیداتو د اجارې په استثناء مالي اجاره.
د: د پیسو انتقال او یا یې معادل، د هغو فعالیتونو په ګډون چې په دواړو رسمي او غیر رسمي سیستم کې صورت وموميي.
هـ: د ورکړې (تأدیې) د وسایلو، د کریډت اودېبت دکارتونو، چکونو، مسافرتي چکونو، د حجت او برات، په الکترونیکي ډول د پیسو د انتقالاتو صادرول او اداره کول.
و: مالي تضمینونه او ژمنې.
ز: په لاندې ساحو کې سوداګري:
- د پیسو د بازار سندونه (چک،

انجام دهند:
الف: پذیرش سپرده ها و سایر وجوه قابل بازپرداخت از عموم مردم به شمول بانکداری خصوصی.
ب: اعطای قروض به شمول اعتبار مصرفی، اعتبار رهنی، خرید حق حصول دین با تنزیل، با حق حصول یا بدون حق حصول از فروشنده و تمویل معاملات تجارتی به شمول حق تصرف امـوال.
ج: اجارۀ مالی به استثناء اجارۀ اموال و تولیدات مصرفی.
د: انتقال پول و یا معادل آن به شمول فعالیت هائیکه در هر دو سیستم رسمی و غیر رسمی صورت گیرد.
هـ: صدور و ادارۀ وسایل تأدیه، کارتهای کریدت و دیبت، چك‌ها، چك های مسافرتی، حجت و برات، انتقالات پول به شکل الکترونیکی.
و: تضمینات و تعهدات مالی.
ز: تجارت در ساحات آتی:
- اسناد بازار پول (چك، برات،

برات، حجت، مشتقات او امثالیې).
- بهرني اسعار.
- هغه سندونه چې ارزښت یې د ټکټانې د نرخ، د بهرنیو اسعارو د مبادلې د نرخ یا د قیمو د شاخص یا ټکټانې د نرخ د ارزښت، د بهرنیو اسعارو د مبادلې د نرخ یا د بهادارو سندونو او یا کالیو له نرخ سره په رابطه کې وټاکل شي.
- د انتقال وړ بهادار سندونه.
- د کالیو مستقبلي قرارداد.
ح: د بهادارو سندونو صادرول او په هغو پوري د اړوندو مالي خدمتونو برابرول.
ط: په مختلفو پانګې اچونو کې فرد او یا اشخاصوته د بهادارو سندونو اداره او انتخابول.
ي: د نورو اشخاصو په استازیتوب د نقدو پیسو او سیالو بهادارو سندونو ساتل او اداره کول.
ک: د نورو اشخاصو په استازیتوب پانګه اچونه، د وجوهو یا پیسو اداره یا مدیریت په بل ډول.
ل: د بیموي فعالیتونو او په هغو کې د وساطت (استازي او دلال) په

حجت، مشتقات و امثال آنها).
- اسعار خارجی.
- اسنادی که ارزش آن در رابطه به نرخ تکتانه، نرخ مبادلهٔ اسعار خارجی یا شاخص قیم یا ارزش نرخ تکتانه، نرخ مبادلهٔ اسعار خارجی، اسناد بهادار و یا کالاها تعیین می‌گردد.
- اسناد بهادار قابل انتقال.
- قرار داد مستقبلی کالا.
ح: صدور اسناد بهادار و تهیهٔ خدمات مالی مربوط به آن.
ط: اداره و انتخاب اسناد بهادار برای فرد و یا اشخاص در سرمایه گذاری های مختلف.
ی: حفاظت و ادارهٔ پول نقد و اسناد بهادار سیال به نمایندگی از سایر اشخاص.
ك: سرمایه گذاری، اداره یا مدیریت وجوه و یا پول به نحو دیگر، به نمایندگی از سایر اشخاص.
ل: عقد بیمهٔ حیات و سایر بیمه‌های مربوط به سرمایه

ګډون د ژوند د بیمې او په پانګې اچونې پورې د نورو اړوندو بیمو عقد کول.

م: د پیسو او اسعارو تبادله.

۵- کنګلول: عبارت دي له:

- د یوې معاملې د اجراء مؤقتي ځنډول.

- د واکمنې مرجع د حکم یا دستور په اساس د وجوهو او شتمنیو د تغییر، تبدیل، پلورنې، له لاسه ورکولو او انتقال مؤقتي منع یا مخنیوي کول.

۶- د تروریزم تمویل: د قانون د حکم مطابق د تروریزم د تمویل د جرم ارتکاب.

۷- وجوه او شتمنی: له هر ډول شرکتي یا غیر شرکتي، منقولو یا غیر منقولو، عیني یا غیر عیني شتمنیو، د الکترونیکي او ډیجیتل سندونو په ګډون له سندونو یا قانوني مدارکو څخه عبارت دي چې په شتمنیو کې د مالکیت یا ګټو لرل ثابت کړي.

۸- وسیله: له هر ډول وجوهو او شتمنیو څخه عبارت ده چې په یوه دول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په منظور استعمال او یا یې د

گذاری، بشمول فعالیت‌های بیموی و وساطت در آن (نماینده و دلال).

م: تبادلهٔ پول و اسعار.

۵- منجمد کردن: عبارت است از:

- به تعویق انداختن مؤقتی اجرای یك معامله.

- منع یا جلوگیری مؤقتی از تغییر، تبدیل، فروش، از دست دادن و انتقال وجوه و دارائی ها به اساس حکم یا دستور مرجع ذیصلاح.

۶- تمویل تروریزم: ارتکاب جرم تمویل تروریزم مطابق قانون.

۷- وجوه و دارایی ها: عبارت است از هر گونه دارایی شرکتی و غیر شرکتی، منقول و غیر منقول، عینی و غیر عینی و اسناد یا مدارك قانونی بشمول اسناد الکترونیکی و دیجیتل که مالکیت یا داشتن منافع در دارائی ها را ثابت نماید.

۸- وسیله: عبارت است از هرگونه وجوه و دارایی هائیکه بنحوی از انحاء به منظور ارتکاب جرم استعمال و یا قصد استعمال آن

استعمال قصد موجود وي.

۹- د پیسو تطهیر: د دې قانون په دریمه ماده کې له درج شوي جرم څخه عبارت دی.

۱۰- د پیسو د انتقال خدمتونه: له لاندې تجارتي فعالیتونو څخه عبارت دي:

- د نقدو پیسو یا یې دمعادل تبادله.

- د پیسو یایې د معادل ټولول، تصرف، د تبادلې استول یا له نورو اشخاصو څخه په استازیتوب د پیسو یا یې د معادل د انتقال ترتیبول.

- د وجوهو تحویلول او رسول.

- د مسافرتي چکونو، حجت او ورته سندونو صادرول، پلورل او یا بیا پېرودنه.

۱۱- سیاسي متبارز شخص: له هغه شخص څخه عبارت دی چې په افغانستان او یا په نورو هېوادونو کې مهمه دولتي دنده ورته سپارل شوې وي، (د دولتونو یا حکومتونو رئیسان، ستر سیاستمداران لوړ پوړي حکومتي، قضایې او نظامي کارکوونکي، د دولتي مؤسسو لوړ پوړي مجریان

موجود باشد.

۹- تطهیر پول: عبارت از جرم مندرج مادۀ سوم این قانون می‌باشد.

۱۰- خدمات انتقال پول: شامل فعالیت های تجارتی ذیل می‌باشد:

- تبادلۀ پول نقد و یا معادل آن.

- جمع آوری، تصرف، تبادلۀ ارسال پول یا معادل آن و یا ترتیب انتقال پول و یا معادل آن به نمایندگی از اشخاص دیگر.

- تحویل و رسانیدن وجوه.

- صدور فروش و یا باز خرید چك‌های مسافرتی، حجت و اسناد مشابه.

۱۱- شخص متبارز سیاسی: عبارت از شخصی است که وظیفۀ مهم دولتی در افغانستان و یا در سایر کشور ها به وی سپرده شده باشد (رؤسای دول یا حکومات، سیاست مداران ارشد، کارکنان عالی رتبۀ حکومتی، قضائی و نظامی، مجریان عالی رتبۀ مؤسسات دولتی، شخصیت

او د سياسي ګوندونو وتلي شخصيتونه، د نومورو اشخاصو د کورنيو ټول غړي او له هغوی سره د نېږدې اړيکيو لرونکي اشخاص چې له دغو اشخاصو سره تجاري او مالي روابط لري).

۱۲- اصلي جرمونه: د دې مادې په (۱۳) جزء کې له درج شوو وجوهو او شتمنيو څخه د لاسته راغلو عوايدو له اکستاب څخه عبارت دي.

۱۳- له جرمونو څخه راپيدا شوي عوايد: له هغو وجوهو او شتمنيو څخه عبارت دي چې په مستقيم يا غير مستقيم دول د جرم د ارتکاب له امله لاسته راغلي وي.

۱۴- رپوټ ورکونکې مرجع: د دې قانون په څلورمه ماده کې درج شوي حقيقي يا حکمي اشخاص دي.

۱۵- ضبط: د هغو وجوهو يا شتمنيو له مؤقتې ساتنې او يا مؤقتي کنترول څخه عبارت دی چې د محکمې د حکم په اساس د واکمن مقام په وسيله صورت مومي.

۱۶- شکمنه معامله: د دې قانون

های برجستۀ احزاب سياسی، کليه اعضای خانواده‌های اشخاص فوق و اشخاص دارای ارتباط نزديك با آنها که روابط تجاری و مالی با چنين اشخاص دارند).

۱۲- جرايم اصلی: عبارت از اکتساب عوايد حاصله از وجوه و دارائی‌های مندرج جزء (۱۳) اين ماده می‌باشد.

۱۳- عوايد ناشی از جرايم: عبارت از وجوه و دارايی های است که بصورت مستقيم يا غير مستقيم از اثر ارتکاب جرم حاصل گرديده باشد.

۱۴- مرجع راپور دهنده: اشخاص حقيقی يا حکمی مندرج مادۀ چهارم اين قانون می‌باشد.

۱۵- ضبط: عبارت از نگهداری مؤقتی و يا کنترول مؤقتی وجوه و دارايی‌های است که به اساس حکم محکمه توسط مقام ذيصلاح صورت می‌گيرد.

۱۶- معاملۀ مشکوك: عبارت از

په شپاړسمه ماده کې له درج شوې معاملې څخه عبارت ده.

معاملهٔ مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون می‌باشد.

د پیسو د تطهیر د جرم ارتکاب

درییمه ماده:

شخص په لاندې مواردو کې د پیسو د تطهیر د جرم مرتکب ګڼل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې وجوه او شتمنۍ پټې کړي، شکل ته یې تغییر ورکړي، تسعیر، انتقال او یا یې له هېواد څخه بهر یا واردې کړي، پدې شرط چې علم ولري چې نوموړې شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د هغه عمل یا غفلت په نتیجه کې لاسته راغلې دي چې دغه عمل یا غفلت د هېواد په دننه یا په بهر کې یا یې د ارتکاب په ځای کې، د نافذو قوانینو مطابق جرم ګڼل شوی وي.

۲- په هغه صورت کې چې وجوه او شتمنۍ، پدې باندې له پوهېدو سره سره چې په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلې دي، تر لاسه، خپلې (تصاحب) او تر ګټې اخیستنې لاندې ونیسي او یا د

جرم ارتکاب تطهیر پول

مادهٔ سوم:

شخص در موارد آتی مرتکب جرم تطهیر پول شناخته می‌شود:

۱- در صورتی‌که وجوه و دارایی‌ها را پنهان، تغییر شکل، تسعیر، انتقال و یا آنرا از کشور خارج و یا وارد نماید، مشروط براینکه علم داشته باشد که دارایی های متذکره بصورت مستقیم یا غیر مستقیم در نتیجهٔ عمل یا غفلتی حاصل گردیده باشد که این عمل یا غفلت در داخل یا خارج کشور یا محل ارتکاب آن مطابق قوانین نافذه جرم پنداشته شده باشد.

۲- در صورتی که وجوه و دارائی‌ها را با وصف آگاهی از اینکه طور مستقیم و یا غیر مستقیم از ارتکاب جرم به دست آمده است حصول، تصاحب و یا مورد استفاده قرار دهد

وجوهو او شتمنیو له جرمي منشاء څخه د نومورې د خبرتیا په هکله دلایل موجود وي.

۳- پدې باندې د هغه سره سره یایې د خبرتیا په هکله د قوي دلایلو په موجودیت کې چې وجوه او شتمنۍ په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د جرم له ارتکاب څخه لاسته راغلي، د وجوهو یا شتمنیو د تر لاسه کولو، ساتلو، استعمال او کنترول لپاره د آسانتیاوو د چمتو کولو په خاطر په مستقیمه توګه یا له شخص څخه په استازیتوب په یوه قرارداد یا معامله کې د شریکیدو یا داخلېدو په صورت کې.

۴- د دې مادې په (۱) جزء کې درج د وجوهو او شتمنیو پټول یایې شکل ته تغییر ورکول، د کتمان یا د شکل ماهیت، منبع، موقعیت، پلورنې له لاسه ورکولو، د انتقال او مالکیت په ګډون یا د وجوهو او شتمنیو په برخه کې هر ډول حقوقو ته تغییر ورکول دي. پوهېدنه او علم چې د دې مادې په (۱) جزء کې دجرم دمتشکله عنصر په توګه ګڼل کېږي په لاسته راغلو جرمي آثارو

و یا دلایلی مبنی بر آگاهی موصوف از منشاء جرمی وجوه و دارائی‌ها موجود باشد.

۳- در صورت شریك شدن یا داخل شدن در یك قرار داد یا معامله طور مستقیم و یا به نمایندگی از شخص به خاطر فراهم آوری تسهیلات جهت حصول، نگهداری، استعمال و کنترول وجوه و دارائی ها با وصف آگاهی و یا موجودیت دلائل قوی مبنی بر آگاهی وی براینکه وجوه و دارائی ها طور مستقیم و یا غیر مستقیم از ارتکاب جرم به دست آمده است.

۴- پنهان کردن یا تغییر شکل دادن وجوه و دارائی های مندرج جزء (۱) این ماده شامل کتمان یا تغییر شکل ماهیت، منبع، موقعیت، فروش از دست دادن، انتقال، مالکیت یا هرگونه حقوق در خصوص وجوه و دارائی های می‌باشد. آگاهی و علمی که در جزء (۱) این ماده به حیث عنصر متشکلۀ جرم پنداشته می-شود، به آثار و علائم جرمی به

او علایمو او د هغو د ماحول په حقایقو استناد کېږي.

دست آمده و حقایق ماحول آن استناد می‌گردد.

دوه یم فصل
د مؤسسو او حرفو له لارې د پیسو له تطهیر او د تروریزم له تمویلولو څخه مخنیوی

فصل دوم
جلوگیری از تطهیر پول و تمویل تروریزم از طریق مؤسسات و حرفه ها

د دې قانون تابع مؤسسې او حرفې

څلورمه ماده:

لاندې مؤسسې او حرفې چې وروسته تر دې د رپوټ ورکوونکو مراجعو په نوم یادېږي، پدې قانون کې د درج شوو تدبیرونو او مکلفیتونو تابع دي:

۱- د نمایندګیو او د غیر مقیمو مالي مؤسسو د نمایندګۍ د دفترونو په ګډون مالي مؤسسې.

۲- د افغانستان بانک، په هغه صورت کې چې د د افغانستان بانک د قانون مطابق بانکي تجارتي خدمتونه چمتو کړي.

۳- هغه اشخاص چې دطلا،قیمتي فلزاتو او کریمه احجارو په پیرودلو او پلورلو بوخت دي، په هغه صورت کې چې دنقدي معاملو

مؤسسات و حرفه های تابع این قانون

مادۀ چهارم:

مؤسسات و حرفه‌های ذیل که منبعد بنام مراجع راپور دهنده یاد می‌شوند ، تابع تدابیر و مکلفیتهای مندرج این قانون می‌باشند :

۱- مؤسسات مالی بشمول نمایندگی ها و دفاتر نماینده گی مؤسسات مالی غیر مقیم.

۲- د افغانستان بانک در صورتی‌که مطابق قانون د افغانستان بانک خدمات بانکی تجارتی را فراهم نماید.

۳- اشخاصی که به خرید و فروش، طلا، فلزات قیمتی و احجار کریمه اشتغال دارند ، در صورتی‌که حجم معاملۀ نقدی آنها

حجم يې له يو مليون افغانيو يايې دبهرنيو اسعار و له معادل سره برابر يا ور څخه زيات وي.

۴- حقوق پوه، د معاملو د لارښوونو خاوند، دحقوقو نور مسلکي اشخاص او يا محاسب چې په لاندې مواردو کې معاملې خپلو مشتريانو ته ترتيب يا اجراء کوي:

- د غير منقولو (عقاري) شتمنيو پېرودل او پلورل.
- د مشتريانو د پيسو، بهادارو سندونو او نورو شتمنيو اداره کول.
-د بانکي پس انداز حسابونو يا د بهادارو پانو د خدمتونو د چمتو کوونکو د حسابونو پرانيستل يا اداره کول.
-د شرکتونو د تأسيسولو، فعاليت يا اداري لپاره د لازمې پانګې برابرول.
- د حکمي اشخاصو او يا تجارتي مؤسسو تاسيسول،فعاليت او اداره کول او د هغو پېرودل او پلورل.

۳- صدور دستور به مرجع راپور دهنده بمنظور بررسی بیرونی امور مربوطه، به مصرف خود توسط بررس بیرونی که برای دافغانستان بانک قابل قبول باشد.

۴- صدور دستور به مرجع راپور دهنده بمنظور تطبیق یک یا تمام موارد آتی:

- عزل کارکن و یا کارکنان مراجع راپور دهنده.

- د رپوټ ورکوونکو په اداري چارو او یا تجارتي فعالیتونو کې د رپوټ ورکوونکو مراجعو د کارکوونکو له نه برخې اخیستنې څخه د ډډ تر لاسه کول، مګر دا چې د دافغانستان بانک بل تجویز ونیسي.
- د هغې مودې او زمان لپاره چې په دستور کې په ګوته (مشخص) شوي دي او د دافغانستان بانک د منلو وړ وګړئ، درپوټ ورکوونکې مرجع دمسئول په توګه دشخص ټاکنه.
- د هغو دایمي او مؤقتي دساتیرو لیکوالـه (کتبي تـوب) چې د دې قانون د حکمونو له مخې رپوټ ورکوونکې مرجع ته صادرېږي.
- درپوټ ورکوونکو مراجعو مرکزي دفتر ته د دایمي او مؤقتو دساتیرو صادرول، مګر دا چې کورنیو نمایندګیو او غیر مقیمو مراجعو ته د دساتیرو صادرول تجویز شوي وي، د دغو دساتیرو هر یو، د دافغانستان بانک د تصمیم له یوه نقل سره چې د دغه دستور د صادرېدو د دلایلو لرونکی وي، ضمیمه کېږي.

- حصول اطمینان از عدم سهمگیری کارکنان مراجع راپور دهنده در امور اداری و یا فعالیتهای تجارتی مراجع متذکره، مگر اینکه د افغانستان بانک تجویز دیگری اتخاذ نماید.
- تعیین شخص بحیث مسؤل مرجع راپور دهنده، برای مدت زمانیکه در دستور مشخص شده است و مورد قبول د افغانستان بانک واقع گردد.
- تحریری بودن دساتیر دایمی و مؤقتی که بتأسی از احکام این قانون به مرجع راپور دهنده صادر می‌شود.
- صدور دساتیر دایمی و مؤقت به دفتر مرکزی مراجع راپور دهنده، مگر اینکه صدور دساتیر به نمایندگی های داخلی و مراجع غیر مقیم تجویز گردیده باشد.

هر یک ازین دساتیر با یک کاپی تصمیم د افغانستان بانک که شامل دلایل صدور این دستور می‌باشد، ضمیمه می‌گردد.

- په هغه صورت کې چې د دافغانستان بانک دستور د رپوټ ورکوونکې مرجع د منلو وړ نه وي، پدې صورت کې د دلایلو په وړاندې کولو سره د دافغانستان بانک په قانون کې درج د مالي خدمتونو کمېسیون ته سپارل کېږي. کمېسیون مکلف دی رپوټ ورکوونکې مرجع ته د دستور د صادرېدو له نېټې څخه اعتبار د (۳۰) ورځو په موده کې هغه تر نوي کتنې لاندې ونیسي.

- در صورتی‌که دستور د افغانستان بانک مورد قبول مرجع راپور دهنده نباشد، در اینصورت با ارائه دلایل به کمیسیون خدمات مالی مندرج قانون د افغانستان بانک سپرده می‌شود. کمیسیون مکلف است در مدت (۳۰) روز اعتبار از تاریخ صدور دستور به مرجع راپور دهنده، آن را مورد تجدید نظر قرار دهد.

- دایمي او مؤقت دساتیر، رپوټ ورکوونکې مرجع ته د ابلاغ له نېټې څخه مرعی الاجراء دي، مګر دا چې په دستور کې یې د تطبیق لپاره بله نېټه ټاکل شوې وي. دساتیر تر هغه وخته پورې نافذ ګڼل کېږي چې موده (میعاد) یې د درج شوو شرایطو مطابق پای ته ورسېږي یا د دافغانستان بانک د نورو دایمي یا مؤقتو دساتیرو په واسطه بدل (تعویض) شي یا د مالي خدمتونو د کمېسیون له نوې کتنې وروسته ملغي شي او یا د دافغانستان بانک په وسیله د رپوټ ورکوونکې مرجع په عنوان د کتبي

- دساتیر دائمی و مؤقت از تاریخ ابلاغ آن به مرجع راپور دهنده مرعی الاجراء می باشد، مگر اینکه در دستور تاریخ دیگری برای تطبیق تعیین شده باشد. دساتیر تا زمانی نافذ پنداشته می‌شود که میعاد آن طبق شرایط مندرج ختم یا توسط دستور دائمی و مؤقتی دیگر دافغانستان بانک تعویض یا بعد از تجدید نظر کمیسیون خدمات مالی ملغی گردد و یا توسط د افغانستان بانک ذریعهٔ یادداشت کتبی عنوانی مرجع راپور دهنده فسخ شود.د

یادښت په واسطه فسخ شي. د دافغانستان بانک کولای شي دایمي یا مؤقت دساتیر هر کله چې د هغو زیات دوام لازم ونه ګڼي لغوه کړي.

نتیجه اخیستنه

یو څلوېښتمه ماده:

د مالي استخباراتو واحد وخت په وخت د هغو اطلاعاتو پایلې چې د مشکوکو معاملو د رپوټونو د کیفیت، د پیسود تطهیر د کشف، تصنیف بندی (تر هغو حدودو پورې چې محرم نه وي)، د پیسو په تطهیر او د تروریزم په تمویل پورې د اړوندو جرمونو څېړل او تعقیب پکې شامل دي، رپوټ ورکوونکو مراجعو ته وړاندې کوي.

افغانستان بانك می‌تواند دساتیر دایمی یا مؤقت را هر زمانیکه دوام بیشتر آنرا لازم نداند لغو نماید.

نتیجه گیری

مادۀ چهل و یکم:

واحد استخبارات مالی وقتاً فوقتاً نتیجۀ اطلاعاتی را که شامل کیفیت راپور های معاملات مشکوك، کشف تطهیر پول، تصنیف بندی (تا حدودی که محرم نباشد)، تحقیقات و تعقیب عدلی جرایم مربوط به تطهیر پول و تمویل تروریزم را به مراجع راپور دهنده ارائه می نماید.

اووم فصل
معافیت

د مشکوکو مواردو د رپوټ ورکولو له مسئولیت څخه معافیت چې په ښه نیت سره یې صورت موندلی وي

دوه څلوېښتمه ماده:

(۱) هغه شخص چې په ښه نیت، د دې قانون د حکمونو مطابق معلومات او رپوټونه وړاندې کړي، دا عمل د بانکوالۍ یا مسلکي محرمیت نقض نه ګڼل کېږي، د ده په خلاف جزایي یا مدني یا اداري دعواوې نه اقامه کېږي او د انضباطي (مسلکي) مجازاتو لاندې نه راځي.

(۲) که چېرې د دې قانون د دېرشمې مادې د حکم مطابق د وجوهو، شتمنیو او معاملو کنګلول د مادي زیان سبب شي، د رپوټ ورکوونکو مراجعو، د هغو د مدیرانو یا نورو کارکوونکو په خلاف جزایي، مدني یا اداري دعواوې نشي اقامه کېدای.

فصل هفتم
معافیت

معافیت از مسئولیت راپور دهی، موارد مشکوک که با حسن نیت صورت گرفته باشد.

مادۀ چهل و دوم:

(۱) شخصی‌که با حسن نیت مطابق احکام این قانون معلومات و راپور ها را ارائه نماید، این عمل نقض محرمیت بانکداری یا مسلکی پنداشته نمی‌شود. دعاوی جزائی، مدنی یا اداری علیه وی اقامه نگردیده و مورد مجازات انضباطی (مسلکی) قرار نمی‌گیرد.

(۲) هرگاه طبق حکم مادۀ سی‌ام این قانون منجمد ساختن وجوه، دارائی ها و معاملات موجب زیان مادی گردد، علیه مراجع راپور دهنده، مدیران یا سایر کارکنان آن دعوی جزائی، مدنی یا اداری اقامه شده نمی‌تواند.

د مـالي اسـتخباراتو د واحـد د مسئوليت معافيت

دري څلوېښتمه ماده:

د مالي استخباراتو د واحد عمومي آمـر، کـارکوونکي، اسـتازي او د هغـو نـور کـار پېژانـدي چې سپارل شـوې د نـدې د دې قـانون لـه حکمونو سره په مطابقت کې په ښه نيت سرته رسوي جزايي مدني يا اداري دعـواوې د دوی په خلاف نه اقامه کېږي، تر انضباطی مجازاتو لاندې نه راځي.

معافيـت مـسئوليت واحـد استخبارات مالی

مادۀ چهل و سوم:

آمـر عمـومی واحـد اسـتخبارات مـالی، کارکنـان، نماینـدگان و سـایر کارشناسـان آن کـه وظـایف محوله را با حسن نیت در مطابقت بـا احکـام ایـن قـانون انجـام میدهند، دعاوی جزائی، مدنی یا اداری علیه ایشان اقامه نه شده، مـورد مجـازات انـضباطی قـرار نمی‌گیرند.

اتم فصل
تحقيقاتي اسلوبونه

د تحقيق ډول

څلور څلوېښتمه ماده:

(۱) پـدې قـانون کـې د درج شـوو جرمونو د اثباتيـه مدارکو د لاس ته راوړلو په منظور، د قضايي ضبط مامورين کولای شي، د يوې ټاکلې مـودې لپـاره لاتـدې تـصميمونه ونيسي:

۱- پـر بـانکي او هغـو تـه ورتـه حسابونو باندې څارنه.

۲- پرکمپيوتري سيستمونو،شبکو

فصل هشتم
اسلوب های تحقیقاتی

طرز تحقیق

مادۀ چهل و چهارم:

(۱) بـه منظـور دریافـت مـدارك اثبـاتیـۀ جـرایم مـندرج ایـن قـانون، مـامورین ضـبط قـضایی مـی‌تـوانند تـصامیم ذیـل را بـرای یـك مـدت مـعین اتـخاذ نـمایند:

۱- نظارت بر حسابات بانکی و امثال آن.

۲- دسترسـی بـه سیـستم هـای

او سرویس ورکوونکو کمپیوترونو (سرور) باندې لاس بری.
۳- پر تېلفوني مکالمو، د فکس پر ماشینونو او نورو انتقالاتي او الکترونیکي مخابراتي آسانتیاوو باندې څارنه او کنترول.
۴- د فعالیتونو، روشونو او یا مکالمو صوتي یا تصویري ثبت.
(۲) د قضایي ضبط مامورین کولای شي د شرعي، عرفي قبالو او یا د بانکي، مالي او تجارتي ریکاردونو په هکله د معلوماتو د ضبط یا تر لاسه کولو قرار صادر کړي.
(۳) د قضایي ضبط مامورین په هغه صورت کې کولای شي د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوي اجراآت عملي کړي چې پدې باب قوي دلایل موجود وي چې دا ډول حسابونه، د تېلفون سیمونه، کمپیوتري سیستمونه او شبکې او یا سندونه د هغه شخص په واسطه چې د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي جرم کې په ګډون شکمن دی، تر ګټې اخیستنې لاندې راغلي او یا ممکنه ده تر ګټې اخیستنې لاندې راشي.

کمپیوتری، شبکه ها و کمپیوتر های سرویس دهنده (سرور).
۳- نظارت و کنترول بر مکالمات تیلفونی، ماشین های فکس و سایر تسهیلات انتقالاتی و مخابراتی الکترونیکی.
۴- ثبت صوتی و یا تصویری فعالیتها، روشها و یا مکالمات.
(۲) مامورین ضبط قضایی می‌توانند قرار ضبط یا حصول معلومات در مورد قباله جات شرعی، عرفی و یا ریکاردهای بانکی، مالی و تجارتی را صادر نمایند.
(۳) مامورین ضبط قضائی در صورتی می‌توانند اجراآت مندرج فقره های (۱و۲) این ماده را عملی نمایند که دلایل قوی مبنی بر این ظن موجود باشد که چنین حسابات، لین های تیلفون، سیستم های کمپیوتری و شبکه ها و یا اسناد توسط شخصی که مشکوک به اشتراك در جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده می‌باشد، مورد استفاده قرار گرفته و یا ممکن است مورد استفاده قرار گیرد.

پټ (خفیه) عملیات او تر کنترول لاندې انتقال

پنځه څلوېښتمه ماده:

(۱) د قضایي ضبط هغه مامورین چې د دې قانون په درېیمه، اته څلوېښتمه او پنځوسمه ماده کې د درج شوو جرمونو د اثباتیه مدارکو د لاس ته راوړلو په منظور، د جرم د متشکله عناصرو په توګه فعالیتونه تر سره کوي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

(۲) دقضائي ضبطمامورین مکلف دي د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو عملیاتو له سرته رسولو د مخه، د قضایي واکمنو مقاماتو اجازه تر لاسه کړي او رپوټ یې د اقدام د صحت په منظور، اړوندو مقاماتو ته وړاندې کړي.

(۳) د قضایي ضبط مامورین کولای شي د وجوهو او شتمنیو د کنګل کولو یا ضبط او د ګټو د ځنډوني په هکله د محکمې د حکم له تر لاسه کولو وروسته تصمیم ونیسي او عنداللزم د وجوهو او شتمنیو د تحفظ لپاره د خاصو تدبیرونو د نیولو په برخه کې امر صادر کړي.

عملیات خفیه و انتقال تحت کنترول

مادۀ چهل و پنجم:

(۱) مامورین ضبط قضائی ایکه بمنظور حصول مدارك اثباتیۀ جرایم مندرج مواد سوم، چهل و هشتم و پنجاهم این قانون فعالیت های را به حیث عناصر متشکلۀ جرم انجام می‌دهند، مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرند.

(۲) مامورین ضبط قضائی مکلف اند اجازۀ مقامات ذیصلاح قضایی را قبل از انجام عملیات مندرج فقرۀ (۱) این ماده بدست آورده و راپور آنرا بمنظور صحت اقدام بمقامات مربوط ارائه نمایند.

(۳) مامورین ضبط قضائی می‌توانند بعد از حصول حکم محکمه در مورد انجماد یا ضبط وجوه و دارائی ها و تأخیر منافع، تصمیم اتخاذ و عنداللزوم امر مبنی بر اتخاذ تدابیر خاص را جهت تحفظ وجوه و دارائی ها صادر نمایند.

نهم فصل
اجباري تدبيرونه او مجازات

د حقيقی اشخاصو مجازات
شپږ څلوېښتمه ماده:
۱- د پيسو د تطهير د جرم فاعل په هغه حبس چې موده يې له دوو کلونو څخه لږ او له پنځو کلونو څخه زياته نه وي او يا نقدي جريمه چې له پنځوسو زرو افغانيو څخه لږ او له دوه سوه او پنځوسو زرو افغانيو څخه زياته نه وي او يا په دواړو جزاوو باندې محکومېږي.
(۲) د پيسو د تطهير د جرم د ارتکاب ګډون کوونکی، مرسته کوونکی، دآسانتياوو برابروونکی، قصد کوونکی، سلا ورکوونکی او هغه اشخاص چې ورو سره په يووالي او اتفاق کې وي لکه د جرم د فاعل په شان مجازات کېږي.

د حکمي اشخاصو مجازات
اووه څلوېښتمه ماده:
۱- په هغه صورت کې چې د پيسو د تطهير جرم د حکمي شخصيت د کارکوونکي، وکيل او يا استازي په واسطه صورت وموميِ، حکمي

فصل نهم
تدابير اجباری و مجازات

مجازات اشخاص حقيقی
مادۀ چهل و ششم:
(۱) فاعل جرم تطهير پول به حبسی که مدت آن از دو سال کمتر و از پنج سال بيشتر نباشد و يا جريمۀ نقدی ايکه از پنجاه هزار افغانی کمتر و از دو صد و پنجاه هزار افغانی بيشتر نباشد و يا به هر دو جزاء محکوم می‌گردد.
(۲) اشتراک کننده، معاونت کننده، تسهيلات فراهم آورنده، قصد کننده، مشوره دهنده به ارتکاب جرم تطهير پول و اشخاصيکه در اتحاد يا توافق به آن قرار داشته باشند مانند فاعل جرم مجازات می‌گردند.

مجازات اشخاص حکمی
مادۀ چهل و هفتم:
(۱) در صورتی‌که جرم تطهير پول توسط کارمند، وکيل و يا نمايندۀ شخصيت حکمی صورت گيرد شخصيت حکمی به جريمۀ نقدی

شخصیت په نقدي جریمه چې له دوه سوه پنځوسو زرو افغانیو څخه لږ او له یو ملیون او دوه سوه پنځو سو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومېږي، دغه حکمي شخصیت ته په منسوبو حقیقي اشخاصو باندې، د دې قانون په شپږم څلوېنبتمه ماده کې د درج شوو مجازاتو د تطبیق خنډنه کېږي. دولتي حکمي شخصیتونه لدې امر څخه مستثنی دي.

(۲) حکمي شخصیت ددې مادې د (۱) فقرې پر مجازاتو بر سېره په لاندې مجازاتو هم محکومېدی شي:

۱- د هغې مودې لپاره چې له پنځو کلونو څخه زیاته نه وي، په مستقیم یا غیر مستقیم صورت سره د تجارتي فعالیتونو د تاکلو ډګرونو له پر مخ بیولو څخه ممنوعیت.

۲- د شرکت انحلال، پدې شرط چې فعالیت یې د پام وړ جرم په ارتکاب منجر شوی وي او یا د داسې یوه هدف لپاره له اړوندو ودانیو څخه د ګټې اخیستنې اجازه ورکړي.

که از دوصد و پنجاه هزار افغانی کمتر و از یک ملیون و دوصد و پنجاه هزار افغانی بیشتر نباشد، محکوم می‌گردد. این حکم مانع تطبیق مجازات مندرج مادۀ چهل و ششم این قانون بالای اشخاص حقیقی منسوب به شخصیت حکمی نمی‌گردد. شخصیت های حکمی دولتی از این امر مستثنی است.

(۲) شخصیت حکمی علاوه بر مجازات مندرج فقرۀ (۱) این ماده به جزاء های آتی نیز محکوم شده می‌تواند:

۱- ممنوعیت از پیشبرد عرصه های معین فعالیت های تجارتی بصورت مستقیم یا غیر مستقیم برای مدتی‌که بیش از پنج سال نباشد.

۲- انحلال شرکت، مشروط براینکه فعالیت آن منجر به ارتکاب جرم مورد نظر گردد یا اجازۀ استفاده از ساختمانهای مربوط را برای چنین هدفی اعطا نماید.

۳- د ټولیزو رسنیو له لارې د حکم خپرول.

۳- نشر حکم از طریق رسانه های همگانی.

د مجازاتو وړ جرمونه

اته څلوېښتمه ماده:

(۱) هغه حقیقي یا حکمي شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، د دې قانون د شپږ څلوېښتمې اووه څلوېښتمې مادې د حکمونو مطابق مجازات کېږي:

۱- په هغه رپوټ پورې اړوند معلومات چې د دې قانون د حکمونو مطابق باید ثبت شي، هغه شخص یا اشخاصو ته چې رپوټ د هغوي په هکله دی او یا هر بل شخص ته چې د تر لاسه کولو حق یې نلري، افشاء کړي.

۲- د ثبت او راجستر دفترونه، سندونه او سوابق چې د دې قانون د حکمونو مطابق د ساتنې وړ وي، معدوم یا محوه کړي.

۳- هغه اجراآت چې د دې قانون په (۵، ۹، ۱۱ او ۱۸) مادو کې په ګوته (مشخص) شویدي، تر کاذب هویت لاندې سرته ورسوي او یا یې د تر سره کولو قصد ولري.

جرایم قابل مجازات

مادۀ چهل و هشتم:

(۱) شخص حقیقی یا حکمی ایکه مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، مطابق احکام مواد چهل و ششم و چهل و هفتم این قانون مجازات می‌گردد:

۱- معلومات مربوط به راپوری را که طبق احکام این قانون باید ثبت شود، به شخص یا اشخاصی که راپور در مورد آنان بوده و یا به هر شخص دیگری که حق دریافت آنرا ندارد، افشاء نماید.

۲- دفاتر ثبت و راجستر اسناد و سوابق را که طبق احکام این قانون قابل نگهداری باشد، معدوم و یا محو نماید.

۳- اجراآتی را که در مواد (۵، ۹، ۱۱ و ۱۸) مندرج این قانون مشخص گردیده، تحت هویت کاذب انجام دهد و یا قصد انجام آنرا داشته باشد.

۴- د اړوندو تجارتي یا حرفوي فعالیتونو له املې د مالي استخباراتو د واحد د اقداماتو، پلټنې، د پیسو د تطهیر د تحقیقاتو په هکله د قانون د تطبیقوونکو مقاماتو په واسطه خبرتیا تر لاسه کړي او د اړوندو مسئولینو په واسطه د پلټنې یا تحقیقاتو له اشاعې د مخه یې عمداً هغه شخص یا اشخاصو ته چې تحقیق د هغو په برخه کې روان دی او یا هر بل شخص ته چې د دا ډول معلوماتو د تر لاسه کولو حق نلري، افشاء کړي.

۴- بالاثر فعالیتهای تجارتی و یا حرفوی مربوط در مورد اقدامات واحد استخبارات مالی، تفتیش، تحقیقات تطهیر پول توسط مقامات تطبیق کنندهٔ قانون آگاهی حاصل نموده و قبل از اشاعهٔ اقدام تفتیش یا تحقیقات توسط مسئولین مربوطه، آنرا عمداً به شخص یا اشخاصی که تحقیق در مورد آنها جریان دارد و یا هر شخص دیگری که حق دریافت چنین معلومات را ندارد، افشاء نماید.

۵- د دې قانون په څلور څلوېښتمه ماده کې درج شوې قبالې او سندونه لدې څخه په خبرتیا سره چې دغه ډول سندونه او معلومات تزویري دي، قضایي مقاماتو یا د قضایي ضبط واکمنو مامورینو ته واستوي او هغوی د موضوع له حقایقو څخه خبر نکړي.

۵- قباله جات و اسناد مندرج مادهٔ چهل و چهارم این قانون را با وصف آگاهی از اینکه چنین اسناد و معلومات تزویری بوده، به مقامات قضایی یا مامورین ذیصلاح ضبط قضایی ارسال نماید و ایشانرا از حقایق موضوع مطلع نسازد.

۶- هغه معلومات او سندونه چې د دې قانون د حکمونو مطابق باید په محرمه توګه وساتل شي، هغه شخص ته چې د دغه ډول معلوماتو او سندونو د تر لاسه کولو حق

۶- معلومات و اسنادی را که طبق احکام این قانون باید بصورت محرم نگهداری شود، به شخصی‌که حق دریافت چنین معلومات و یا اسناد را نداشته

ونلري په يو ډول نه يو ډول اطلاع او افشاء کړي.

۷- د دې قانون په شپاړسمه ماده کې د درج شوو حکمونو مطابق، د شکمنې معاملې رپوټ عمداً اړوندو مراجعو ته خبر ورنکړي.

(۲) هغه حقيقي يا حکمي شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي مجرم ګڼل کېږي:

۱- د دې قانون په شپاړسمه ماده کې د درج شوې مشکوکې معاملې رپوټ ورکړې نکړي.

۲- په استوونکي پورې اړوند د وجوهو او معلوماتو له نړيوالو انتقالاتو سره په رابطه کې د دې قانون په پنځمه ماده کې له درج شوي حکم څخه سر غړونه وکړي.

۳- د دې قانون له اتمې څخه تر څوارلسمې مادې پورې له درج شوي حکم څخه سر غړونه وکړي.

(۳) د دې مادې په دوه يمه فقره کې درج د جرمونو مرتکبين په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- حقيقي شخص په هغه حبس چې له شپږو مياشتو څخه لږ او له يوه کال څخه زيات نه وي او يا په نقدي جريمه چې له پنځه زرو

باشد، به شکلی از اشکال اطلاع و یا افشاء نماید.

۷- عمداً راپور معاملهٔ مشکوك را طبق احکام مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون بمراجع مربوط اطلاع ندهد.

(۲) شخص حقیقی یا حکمی ایکه مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، مجرم شناخته میشود:

۱- راپور معاملهٔ مشکوك مندرج مادهٔ شانزدهم این قانون را ارائه نه نماید.

۲- از حکم مندرج مادهٔ پنجم این قانون در رابطه با انتقالات بین المللی وجوه و معلومات مربوط به فرستنده، تخلف نماید.

۳- از حکم مندرج مواد هشتم الی چهاردهم این قانون تخلف نماید.

(۳) مرتکبین جرایم مندرج فقرهٔ دوم این ماده ذیلاً مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقیقی به حبسی که از (۶) ماه کمتر و از یك سال بیشتر نباشد یا جریمهٔ نقدی ایکه از مبلغ پنجهزار افغانی کمتر و از

افغانیو څخه لږ او له پنځه ویشت زره افغانیو څخه زیاته نه وي او یا په دواړو جزاوو محکومیږي.

۲- حکمي شخصیت په هغه جریمه چې له پنځه ویشت زره افغانیو څخه لږ او له یو سلو پنځه ویشت زره افغانیو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

(۴) هغه حقیقي یا حکمي اشخاص چې د دې مادې په (۱ او ۲) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د یوه مرتکب شوی وي، د حالاتو له په پام کې نیولو سره د تل لپاره یا لږ تر لږه د پنځو کلونو لپاره د هغوی د فعالیت جواز سلب کیږي.

بیست و پنج هزار افغانی بیشتر نباشد و یا هر دو جزاء محکوم می‌گردد.

۲- شخصیت حکمی به جریمه ایکه از مبلغ بیست و پنج هزار افغانی کمتر و از یکصد و بیست و پنج هزار افغانی بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

(۴) اشخاص حقیقی یا حکمی ایکه مرتکب یکی از جرایم مندرج فقره های (۱و۲) این ماده گردیده باشند، با نظرداشت حالات طور دایم یا برای مدت حداقل پنج سال جواز فعالیت آنها سلب می‌گردد.

مشدده او مخففه احوال

نهه څلوېښتمه ماده:

(۱) که چېرې د پیسو د تطهیر جرم د جنایتکار سازمان یا د هغه حکمي شخصیت په واسطه چې د جنایتکار سازمان تر تملک یا کنترول لاندې دی صورت ومومي، د دې قانون د حکمونو مطابق په لاندې توګه مجازات کیږي:

۱- حقیقي شخص په هغه حبس چې له پنځو کلونو لږ او له

احوال مشدده و مخففه

مادۀ چهل و نهم:

(۱) هرگاه جرم تطهیر پول توسط عضو سازمان جنایتکار و یا شخصیت حکمی ایکه تحت تملك ویا کنترول سازمان جنایتکار قرار دارد، صورت گیرد، طبق احکام این قانون طور ذیل مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقیقی به حبسی که از پنج سال کمتر و از چهارده

څوارلسو کلونو زیات نه وي او نقدي جریمه چې له پنځوسو زرو افغانیو څخه لږ او له دوو ملیونو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومېږي.

۲- حکمي شخص په هغه نقدي جریمه چې له دوو ملیونو افغانیو څخه لږ او له لسو ملیونو افغانیو څخه زیاته نه وي محکومېږي.

(۲) پدې قانون کې د درج شوو جرمونو د مرتکبینو په هکله د هېواد په جزایي قوانینو کې درج مخففه احوال د رعایت وړ دي.

سال بیشتر نباشد و جریمه نقدی ایکه از مبلغ پنجاه هزار افغانی کمتر و از دو ملیون افغانی بشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

۲- شخص حکمی به جریمه‌ای نقدی ایکه از مبلغ دو ملیون افغانی کمتر و از ده ملیون افغانی بشتر نباشد، محکوم می‌گردد.

(۲) احوال مخففهٔ مندرج قوانین جزائی کشور در مورد مرتکبین جرایم مندرج این قانون قابل رعایت می‌باشد.

انضباطي مجازات

پنځوسمه ماده:

پر حقیقي او حکمي اشخاصو باندې د دې قانون په حکمونو کې د درج شوو مجازاتو تطبیق، د اړوندو تقنیني سندونو د حکمونو مطابق د اداري یا انضباطي مجازاتو د تطبیق مانع نه ګرځي.

مجازات انضباطی

مادهٔ پنجاهم:

تطبیق مجازات مندرج احکام این قانون بالای اشخاص حقیقی و حکمی مانع تطبیق مجازات اداری یا انضباطی طبق احکام اسناد تقنینی مربوط نمی‌گردد.

لسم فصل
د نړیوالې متقابلې همکارۍ غوښتنه

د متقابلې همکارۍ غوښتنه

یو پنځوسمه ماده:

کـه چېـرې بهرنـي دولتونـه پـدې قـانون او د تروریـزم د تمویـل پـر خـلاف د مبـارزې پـه قـانون کـې لـه درج شوو جرمونو سره په رابطه کې د متقـابلې همکـارۍ غوښـتنه وکـړي، دغـه غوښـتنه د لاښـدې مـواردو پـه پـام کـې نیولـو سـره د اجراء وړ ده:

۱- د اثباتیـه مـدرکونو راټولـول او یا د ذیربطو اشخاصـو څرګندونو (اظهاراتو) اخیستل.

۲- تـر څارنې یـا تـر توقیـف لاښـدې اشخاصو په تسلیمۍ کې مرسته او د غوښـتونکي دولـت پـه قـضایي مقاماتو پورې په اړوندو تحقیقاتو کې د مـدرکونو د وړاندې کولـو او مرستې په منظور د نـورو اشخاصـو احضارول.

۳- د قضایي سندونو استول.

۴- د تلاشۍ اجراء کول او د شیانو ضبطول.

فصل دهم
درخواست همکاری متقابل بین المللی

درخواست همکاری متقابل

مادۀ پنجاه و یکم:

هرگـاه دول خـارجی در رابطـه بـا جـرایم منـدرج ایـن قـانون و قـانون مبـارزه علیـه تمویـل تروریـــزم درخواســـت همکـــاری متقابـــل نماینـــد، ایـــن درخواســـت بـــا نظرداشـــت مـــوارد ذیـــل قابـــل اجـــراء می‌باشد:

۱- جمع آوری مدارك اثباتیه و یا اخـــذ اظهـــارات از اشـــخاص ذیربط.

۲- مـــساعدت در تـــسلیمی اشـخاص تـحت نـظارت یـا توقیف و احضار سایر اشخاص به منظـــور ارایـــۀ مـــدارك و مساعدت در تحقیقات مربوط به مقامات قضایی دولت درخواست کننده.

۳- فرستادن اسناد قضائی.

۴- اجـــرای تـــلاشی و ضـــبط اشیاء.

۵- د شیانو کتنه او د ځایونو (محلاتو) لیدنه.
۶- د معلوماتو او د جرم د اثباتیه مدرکونو وړاندې کول.
۷- د بانکي صورت حساب، محاسبوي سندونو او نورو هغو سندونو او سوابقو چې د شرکت د عملیاتو او یا د هغو د تجارتي فعالیتونو ښودونکي وي په ګډون، د اړوندو سندونو او سوابقو د اصل یا مصدقه کاپۍ وړاندې کول.

۵- معاینهٔ اشیاء و مشاهدهٔ محلات.
۶- ارایهٔ معلومات و مدارک اثباتیهٔ جرم.
۷- ارائه اصل یا کاپی مصدقهٔ اسناد و سوابق مربوطه، بشمول صورت حساب بانکی، اسناد محاسبوی و سایر اسناد و سوابقیکه نشان دهندهٔ عملیات شرکت یا فعالیت های تجارتی آن باشد.

د غوښتنې ردول
دوه پنځوسمه ماده:
(۱) د متقابلې همکارۍ غوښتنه په لاندې حالاتو کې رد کېږي:
۱- په هغه صورت کې چې غوښتنه د غوښتونکي هېواد د تقنیني سندونو مطابق نه وي وړاندې شوې.
۲- په هغه صورت کې چې د غوښتنې اجراء کول دهېواد دنافذو تقنیني سندونو مغایر وي، د نظم او عامه امن د ګډوډۍ موجب شي.
۳- په هغه صورت کې چې غوښتل شوی مجرم تر محاکمې لاندې وي او یا د مخه د هیواد په قلمرو کې د

رد درخواست:
مادهٔ پنجاه و دوم:
(۱) درخواست همکاری متقابل در حالات آتی رد می‌گردد:
۱- در صورتی‌که درخواست مطابق به اسناد تقنینی کشور درخواست کننده ارایهٔ نگردیده باشد.
۲- در صورتی‌که اجرای درخواست، مغایر اسناد تقنینی نافذ کشور بوده، موجب اخلال نظم و امن عامه گردد.
۳- در صورتی‌که مجرم تقاضاء شده تحت محاکمه قرار داشته و یا قبلاً در مورد آن در قلمرو

هغه په هکله قضايي فيصله صادره شوې وي.

۴- په هغه صورت کې چې غوښتل شوي تدبيرونه، د هېواد د تقنيني سندونو مطابق مجاز نه وي او يا د هېواد د نافذو تقنيني سندونو د حکمونو مطابق، په غوښتنه کې پر درج شوي جرم باندې د تطبيق وړ نه وي.

۵- په هغه صورت کې چې د فيصلې د تطبيق غوښتنه، د هېواد د نافذو تقنيني سندونو مغاير وي.

۶- په هغه صورت کې چې د تدبيرونو دنيولو يا په پام وړ شخص باندې د حکم د تطبيق غوښتنه د هغه د نژادي، مذهبي، تابعيت، قومي منشاء، سياسي نظرياتو، جنس يا ټولنيز موقف د ملحوظاتو له مخې صورت موندلی وي.

۷- په هغه صورت کې چې د مجرم په عدلي تعقيب پورې اړونده غوښتنه، سياسي ماهيت او انګيزه لرلې وي.

(۲) بانکی محرميت د غوښتنې د ردولو مؤجب کيدای نشی.

(۳) څارنوالی کولای شي د غوښتنې د رد په اړه د محکمې د کشور فيصلهٔ قضائی صادر شده باشد.

۴- در صورتی‌که تدابير تقاضاء شده مطابق به اسناد تقنينی کشور مجاز نبوده يا طبق احکام اسناد تقنينی نافذهٔ کشور در مورد جرم مندرج درخواست، قابل تطبيق نباشد.

۵- در صورتی‌که تقاضای تطبيق فيصله مغاير اسناد تقنينی نافذ کشور باشد.

۶- در صورتی‌که تقاضای اتخاذ تدابير يا تطبيق حکم بالای شخص مورد نظر بنابر ملحوظات نژادی، مذهبی، تابعيت، منشاء قومی، نظريات سياسی، جنس و يا موقف اجتماعی وی، صورت گرفته باشد.

۷- در صورتی‌که تقاضای مربوط به تعقيب عدلی مجرم، ماهيت و انگيزهٔ سياسی داشته باشد.

(۲) محرميت بانکی موجب رد درخواست شده نمی‌تواند.

(۳) څارنوالی می‌تواند بر عليه فيصلهٔ محکمه مبنی بر رد

فیصلې پر خلاف د حکم له ابلاغ څخه تر دېرش ورځو وروسته د استیناف غوښتونکی شي.

(۴) د افغانستان دولت، د غوښتنې د رد دلایل د اړوندې مرجع له لارې په لنډ وخت کې بهرنیو دولتونو او حکومتونو ته خبر ورکوي.

درخواست الی سی روز بعد از ابلاغ حکم، طالب استیناف گردد.

(۴) دولت افغانستان دلایل رد درخواست را از طریق مراجع مربوطه به دول و حکومات خارجی به اسرع وقت اطلاع می‌دهد.

د تحقیقاتي تدبیرونو د نیولو غوښتنه

دري پنځوسمه ماده:

(۱) تحقیقاتي تدبیرونه د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مطابق نیول کېږي.

(۲) د قضائي ضبط مامور او یا هغه شخص چې د بهرني دولت د واکمن مقام لخوا ټاکل شوی دی، کولای شي د معلوماتو د تر لاسه کولو او د تحقیقاتي تدبیرونو له اجراء څخه د اطمینان د حاصلولو په منظور په تحقیقاتو کې ګډون وکړي.

درخواست اتخاذ تدابیر تحقیقاتی

مادۀ پنجاه و سوم:

(۱) تدابیر تحقیقاتی مطابق اسناد تقنینی نافذ کشور اتخاذ می‌گردد.

(۲) مامور ضبط قضایی و یا شخصی که توسط مقام ذیصلاح دولت خارجی تعیین گردیده، می‌تواند بمنظور کسب معلومات و حصول اطمینان از اجرای تدابیر تحقیقاتی در تحقیقات اشتراك نماید.

د مؤقتو تدبیرونو لپاره غوښتنه (درخواست)

څلور پنځوسمه ماده:

(۱) محکمه مکلفه ده، د مؤقتو تدبیرونو د نیولو په اړه د بهرني دولت د واکمن مقام د غوښتنې په هکله د افغانستان د دولت د نافذو تقنیني سندونو مطابق حکم صادر کړي.

(۲) په هغه صورت کې چې له هېواده په بهر کې د صادرې شوې فیصلې د تطبیق په اړه غوښتنه محکمې ته راجع شي او د هغې تطبیق د هېواد له نافذو تقنیني سندونو سره مغایرت ولري، محکمه واک لري غوښتنه رد او له نافذو تقنیني سندونو سره په مطابقت کې غوښتل شوي ورته تدبیرونه ونیسي.

درخواست جهت اتخاذ تدابیر مؤقت

مادۀ پنجاه و چهارم:

(۱) محکمه مکلف است در مورد درخواست مقام ذیصلاح دولت خارجی مبنی بر اتخاذ تدابیر مؤقت مطابق به اسناد تقنینی نافذۀ دولت افغانستان حکم صادر نماید.

(۲) در صورتی‌که درخواست مبنی بر تطبیق فیصلۀ صادر شده در خارج کشور به محکمه راجع گردد و تطبیق آن با اسناد تقنینی نافذ کشور مغایرت داشته باشد، محکمه صلاحیت دارد درخواست را رد و تدابیر مشابه تقاضاء شده را در مطابقت به اسناد تقنینی نافذ اتخاذ نماید.

د مصادرې لپاره غوښتنه

پنځه پنځوسمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې غوښتنه د وجوهو او شتمنیو د مصادرې د حکم د صادرولو په هکله وي، محکمه کولای شي د څارنوال د غوښتنې په اساس پدې برخه کې

درخواست برای مصادره

مادۀ پنجاه و پنجم:

(۱) در صورتی‌که درخواست در مورد صدور حکم مصادرۀ وجوه و دارائی ها باشد، محکمه می‌تواند به اساس مطالبۀ څارنوال در زمینه فیصله نماید. حکم مصادره

فیصله وکړي. د مصادرې په حکم کې هغه وجوه او شتمنۍ شاملېږي چې د دې قانون د حکمونو مطابق له جرم یا د جرم د ارتکاب له وسیلې څخه تر لاسه شوي عواید تشکیلوي او یا هغه وجوه او شتمنۍ چې د دې قانون او د تروریزم د تمویل په خلاف د مبارزې د قانون د حکمونو مطابق، د تروریزم د تمویل د جرم د ارتکاب لپاره تر کتې اخیستنې لاندې نیول شوي وي. د مصادرې حکم پر هغو وجوهو او شتمنیو باندې تطبیقېږي چې د افغانستان د دولت په قلمرو کې واقع وي. که چېرې د اصل وجوهو او شتمنیو حصول ممکن نه وي، محکمه د هغو د معادل مبلغ په حصول حکم صادروي.

(۲) په هغه صورت کې چې د بهرنۍ محکمې د مصادرې د حکم د تطبیق غوښتنه افغاني محکمې ته راجع شي، د افغاني محکمې حکم د هغو حقایقو پر پایلو مقید دی چې د بهرنۍ محکمې حکم د هغو په اساس رامنځته شوی دی. افغاني محکمه واک لري، د دې

شامل وجوه و دارائی های می‌گردد که مطابق احکام این قانون عواید ماحصل از جرم یا وسیلهٔ ارتکاب جرم را تشکیل داده و یا وجوه و دارایی های که مطابق احکام این قانون و قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم جهت ارتکاب جرم تمویل تروریزم مورد استفاده قرار گرفته باشد. حکم مصادره بالای وجوه و دارایی‌های تطبیق می‌شود که در قلمرو دولت افغانستان واقع باشد. هرگاه حصول اصل وجوه و دارایی ها ممکن نباشد، محکمه به حصول مبلغ معادل آن حکم صادر می‌نماید.

(۲) در صورتی‌که درخواست تطبیق حکم مصادرهٔ محکمهٔ خارجی به محکمهٔ افغانی راجع گردد، حکم محکمهٔ افغانی مقید به نتایج حقایقی می‌باشد که به اساس آن حکم محکمهٔ خارجی بناء یافته است. محکمهٔ افغانی صلاحیت دارد در صورت تحقق

قانون په دوه پنځوسمه ماده کې د درج شوو دلایلو د یوه د تحقق په صورت کې غوښتنه رد کړي.

یکی از دلایل مندرج مادۀ پنجاه و دوم این قانون درخواست را رد نماید.

د مصادره شوو وجوهو او شتمنیو پلورل یا پرېښودل

شپږ پنځوسمه ماده:

د بهرني دولت د واکمنو مقاماتو د غوښتنې په صورت کې، د افغانستان دولت د هغو وجوهو او شتمنیو چې په قلمرو کې یې مصادره شوي دي، د پلورلو یا پرېښودلو د واک لرونکی دی، کولای شي د موافقه لیک په اساس په مصادره شویو وجوهو او شتمنیو کې شریک شي.

فروش یا واگذاری وجوه و دارایی های مصادره شده

مادۀ پنجاه و ششم:

در صورت درخواست مقامات ذیصلاح دولت خارجی، دولت افغانستان صلاحیت فروش و واگذاری وجوه و دارایی های را که در قلمرو آن مصادره شده است، دارا بوده، می‌تواند باساس موافقتنامه در وجوه و دارائی های مصادره شده شریك گردد.

یوولسم فصل
بېرته ورکول (استرداد)

فصل یازدهم
استرداد

د بېرته ورکولو غوښتنه

اووه پنځوسمه ماده:

(۱) د دې قانون په درېیمه او شپږ څلوېښتمه ماده او د تروریزم د تمویل په خلاف د مبارزې په قانون کې له درج شوو جرمونو څخه د یوه د ارتکاب په صورت کې او یا د

درخواست استرداد

مادۀ پنجاه و هفتم:

(۱) درصورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج مواد سوم و چهل و ششم این قانون و قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم و یا به منظور

نومـــوړو جرمونـــو د مرتکبینـــو د مجـــازاتو د حکـــم د تطبیـــق پـــه منظـــور، د بهرنیـــو هېوادونـــو غوښـتنه د تورنـو د بېرتـه ورکولـو (استرداد) لپاره تر اجراء لاندې نیول کېږي.

(۲) د مجرم استرداد د غوښتونکي دولـت او د افغانـستان د دولـت تـر منځ د مجرمینو د بېرتـه ورکولـو پـه موافقـــه لیـــک کـــې د درج شـــوې کـــړنلارې یـــا د هغـــو نړیوالـــو کنوانـــسیونونو مطـــابق چـــې د افغانـــستان دولـت ورسـره الحـاق کړی، صورت مومي.

تطبیـــق حکـــم مجـــازات مـــرتکبین جـــرایم متـــذکره، تقاضـــای کـــشورهای خـــارجی مبنـــی بـــر اســـترداد متهمـــین مـــورد اجـــراء قـــرار می‌گیرد.

(۲) اسـترداد مجـرم مطـابق طـرز العمـل منـدرج موافقـت نامـۀ اسـترداد مجـرمین میـان دولـت درخواســت کننــده و دولــت افغانستان یا کنوانسیونهای بین المللـی کـه دولـت افغانـستان بـه آن الحـاق نمـوده، صـورت می‌گیرد.

احتیاطي تدبیرونه

اته پنځوسمه ماده:

کـه چېرې څارنوالۍ یې تـشخیص کړي، هغه شخص چې استرداد یې غوښـتل شـوی دی، پـه افغانـستان کـې پـاتې شـي، پـدې برخـه کـې احتیاطي تدبیرونه نیسي، محکمه واک لـــري چـــې د څـــارنوالۍ د غوښـتنې پـه اسـاس د اسـترداد موضـوع تـر قـضایي غـور لاندې ونیـسي یـا د توقیـف امـر صـادر کړي.

تدابیر احتیاطی

مادۀ پنجاه و هشتم:

هرگاه څارنوالی تـشخیص دهـد، شخـصی‌کـه اسـترداد وی مطالبـه گردیـده، در افغانـستان بـاقی بماند، در زمینـه تـدابیر احتیـاطی را اتخـاذ مـی‌نمایـد. محکمـه صـلاحیت دارد کـه باسـاس درخواسـت څـارنوالی موضـوع استرداد را تحت غور قضائی قرار داده یـا امـر توقیـف را صـادر نماید.

دوه ګونی مجرمیت

نهه پنځوسمه ماده:

د دې قانون او د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې د قانون د حکمونو مطابق، د مجرمینو استرداد هغه وخت صورت مینداى شي چې ارتکابی جرم د دواړو هېوادو په تقنیني سندونو کې د عدلي تعقیب وړ ګڼل شوی وي.

د اجباري ډډې کولو (امتناع) دلایل

شپېتمه ماده:

د مجرمینو استرداد په لاندې مواردو کې صورت نشي موندای:

۱- په هغه صورت کې چې د مجرم د استرداد او مجازاتو غوښتنه د توکمیز (نژادي)، مذهبي، تابعیت، قومي منشاء، سیاسي نظریاتو، جنس، ټولنیز موقف د علتونو له مخې صورت موندلی وي او یا یې شخصیت ته د زیان رسېدلو احتمال متصور وي.

۲- په هغه صورت کې چې د مجرم په هکله فیصله په هېواد کې شوې وي.

۳- په هغه صورت کې چې د یوه هېواد د تقنیني سندونو په موجب،

مجرمیت دوګانه

مادۀ پنجاه و نهم:

مطابق احکام این قانون و قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم، استرداد مجرمین زمانی صورت گرفته می‌تواند که جرم ارتکابی در اسناد تقنینی هر دو کشور قابل تعقیب عدلی دانسته شده باشد.

دلایل امتناع اجباری

مادۀ شصتم:

استرداد مجرمین در موارد آتی صورت گرفته نمی‌تواند:

۱- در صورتی‌که درخواست استرداد و مجازات مجرم بنابر علل نژادی، مذهبی، تابعیت، منشاء قومی، نظریات سیاسی، جنس و موقف اجتماعی صورت گرفته یا احتمال صدمه بر شخصیت او متصور باشد.

۲- در صورتی‌که فیصله نهائی در مورد مجرم در کشور صورت گرفته باشد.

۳- در صورتی‌که بموجب اسناد تقنینی یکی از کشور ها مجرم از

مجرم د مودې (میعاد) د انقضاء او عمومي عفوی په شمول د ځینو دلایلو له مخې معاف شوی وي.

۴- په هغه صورت کې چې مجرم په غوښتنونکي هېواد کې له شکنجې او ظالمانه او غیر انساني او یا شرموونکو (توهین آمېزو) مجازاتو سره مخامخ شي او یا د نړیوال مدني او سیاسي حقوقو د میثاق د څوارلسمې مادې د حکم مطابق، د جزایي اجراآتو په موده کې ضمانت تر لاسه نکړی شي.

۵- په هغه صورت کې چې د غوښتنې وړاندې کوونکي دولت قضایي فیصلې، په غیابې توګه صورت مونډلی وي او تورن د محاکمې په هکله او یا له ځانه د دفاع لپاره د چمتووالي فرصت نه وي لرلی.

تعقیب عدلی و یا مجازات بنابر دلایلی بشمول انقضاء میعاد و عفو عمومی معاف گردیده باشد.

۴- در صورتی‌که مجرم در کشور درخواست کننده به شکنجه و مجازات ظالمانه و غیر انسانی یا توهین آمیز مواجه گردد و یا ضمانتی را در میعاد اجراآت جزایی طبق حکم مادۀ چهاردهم میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی دریافت نموده نتواند.

۵- در صورتی‌که فیصلۀ قضایی دولت درخواست دهنده، غیابی صورت گرفته و متهم اطلاع قبلی در مورد محاکمه و یا فرصت آمادگی برای دفاع از خود را نداشته باشد.

د اختیاري ډډې کولو دلایل

یو شپېتمه ماده:

د مجرمینو د استرداد غوښتنه په لاندې مواردو کې رد ېږي:

۱- که چېرې د هېواد واکمنو مقاماتو دوی ته د قضیې له ارجاع کېدو وروسته، د مجرم په هکله

دلایل امتناع اختیاری

مادۀ شصت و یکم:

درخواست استرداد مجرمین در موارد آتی رد گردیده می‌تواند:

۱- هرگاه مقامات ذیصلاح کشور بعد از ارجاع قضیه به آنها اجراآت جزائی را در مورد متهم

جزایي اجراآت پیل او یایې پای ته رسولي وي.

۲- که چېري د هغه جرم د عدلي تعقیب په هکله چې د مجرم استرداد یې غوښتل شوی دی، په هېواد کې تر غور او څېړنې لاندې وي.

۳- که چېرې هغه جرم چې د مجرم استرداد یې غوښتل شوی دی، د دواړو هېوادو له قلمرو څخه بهر صورت مونږ دلی وي او د افغانستان په تقنیني سندونو کې په دغه ډول مواردو کې د قضاوت لپاره کوم حکم نه وي اټکل شوی.

۴- که چېرې غوښتونکي هېواد په پام کې نیولي وي، هغه شخص چې استرداد یې غوښتل شوی دی، د خپلې اختصاصي محکمې په واسطه په فوري توګه محاکمه کړي.

۵- که چېرې واکمن مقامات د جرم ماهیت او د غوښتونکي هېواد ګټو ته په کتنې سره ومومي چې د پام وړ شخص استرداد د سن، روغتیایي حالت او نورو شخصي حالاتو له نظره د بشر دوستۍ له ملاحظاتو سره په مطابقت کې

آغاز و یا آنرا اختتام نه بخشیده باشند.

۲- هرگاه تعقیب عدلی در مورد جرمی که استرداد متهم آن تقاضاء گردیده، در افغانستان تحت غور و بررسی قرار داشته باشد.

۳- هرگاه جرمی که استرداد متهم آن تقاضاء گردیده، در خارج از قلمرو هر دو کشور صورت گرفته و در اسناد تقنینی افغانستان برای قضاوت در مورد چنین جرایم حکمی پیش بینی نگردیده باشد.

۴- هرگاه دولت درخواست کننده در نظر داشته باشد، شخصی را که استرداد وی مطالبه گردیده، توسط محکمهٔ اختصاصی خویش طور فوری محاکمه نماید.

۵- هرگاه مقامات ذیصلاح با مطالعهٔ ماهیت جرم و منافع کشور درخواست دهنده دریابد که استرداد شخص مورد نظر از نقطه نظر سن، حالت صحی و سایر احوال شخصی با ملاحظات بشر دوستی در مطابقت

ندی.

۶- که چېرې هغه جرم چې تورن يې غوښتل شوی دی په کلي یا قسمي توګه د هېواد په دننه کې ارتکاب شوی وي او دارونـدو تقنینـي سندونو مطابق يې استرداد مجاز نه وي.

نمی‌باشد.

۶- هرگاه جرمی که متهم آن درخواست گردیده، طوری کلی یا قسمی در داخل کشور ارتکاب گردیده و مطابق اسناد تقنینی مربوط استرداد آن مجاز نباشد.

د استرداد او یا عدلي تعقیب مکلفیت

دوه شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې د افغانستان دولت د تورن استردادونه منې، قضیه د عدلي تعقیب لپاره اړوندو مراجعوته ارجاع کوي.

مکلفیت استرداد و یا تعقیب عدلی

مادۀ شصت و دوم:

در صورتی‌که دولت افغانستان استرداد متهم را نپذیرد، قضیه را جهت تعقیب عدلی به مراجع مربوط ارجاع می نماید.

د وجوهو او شتمنیو پرېښودل

درې شپېتمه ماده:

(۱) په هغه صورت کې چې تورن غوښتونکي دولت ته مسترد شي، ټول هغه موجود وجوه او شتمنۍ چې د افغانستان په قلمرو کې د جرم د ارتکاب په نتیجه کې تر لاسه شوي دي، د هېواد د نافذو تقنیني سندونو مطابق او د درېیم ګړو (ثالثو) اشخاصو د حقوقو په

واگذاری وجوه و دارایی ها

مادۀ شصت و سوم:

(۱) در صورتی‌که متهم به دولت درخواست دهنده مسترد گردد، تمام وجوه و دارایی های موجود که در نتیجه ارتکاب جرم در قلمرو افغانستان حاصل گردیده، مطابق اسناد تقنینی نافذ کشور و با رعایت حقوق اشخاص ثالث نیز به

رعـایتولو سـره هـم غوښـتونکي هېواد ته پرېښودل کېږي.

(۲) که چېرې غوښتونکي هېواد ته د مجرم د استرداد په اړه له توافق سره سره، د مجرم استرداد صورت ونه موندلی شي، له جرم څخه تر لاسه شوي وجوه او شتمنۍ، هغه هېواد ته تسلیمېږي.

(۳) که چېرې هغه وجوه او شتمنۍ چې د افغانستان په قلمرو کې د ضبط او یا مصادرې وړ وي، دولت کولای شي هغه په مؤقته توګه وساتي او یا يې غوښتونکي هېواد ته تسلیم کړي.

(۴) که چېرې يې د هېواد تقنیني سندونه او یادثالثو اشخاصو حقوق ایجاب کړي چې مستردشوي وجوه او شتمنۍ بیا (دو باره) افغانستان ته مسترد شي، بهرنی هېواد د افغانستان د غوښتنې په صورت کې د جزایي اجراآتو له بشپړېدو وروسته، یاد شوي وجوه او شتمنۍ په وړیا توګه د افغانستان دولت ته ېبرته ورګرځوي.

دولت درخواست کننده واگذار می‌گردد.

(۲) هرگاه با وجود توافق مبنی بر استرداد مجرم به کشور درخواست دهنده، استرداد مجرم صورت گرفته نتواند، وجوه و دارائی های حاصله از جرم به آن کشور تسلیم می‌گردد.

(۳) هرگاه وجوه و دارایی های که در قلمرو افغانستان قابل ضبط یا مصادره باشد، دولت می‌تواند طور مؤقت آنرا نگهداری و یا به کشور درخواست دهنده تسلیم نماید.

(۴) هرگاه اسناد تقنینی کشور یا حقوق اشخاص ثالث ایجاب نماید که وجوه و دارایی های مسترد شده دوباره به افغانستان مسترد گردد، کشور خارجی در صورت تقاضای افغانستان بعد از اکمال اجراآت جزائی، وجوه و دارایی های ذکر شده را بصورت رایگان به دولت افغانستان باز می‌گرداند.

دوولسم فصل
متفرقه حکمونه

د جرم ماهیت

څلور شپېتمه ماده:

د دې قانون او دتروریزم دتمویل په خلاف دمبارزې دقانون دحکمونو مطابق د دې قانون په درېیمه ماده کې درج شوی جرم، دسیاسي ماهیت په لرونکو جرمونو، په سیاسي اړوندو جرمونو، سیاسي انګېزې اومالي جرمونو نه اطلاقېږي.

د غوښتنلیک استول

پنځه شپېتمه ماده:

(۱) د بهرنیو واکمنو مقاماتو د غوښتنلیکونو استول چې له هغو څخه هدف، د پیسو د تطهیر د جرمونو، د تروریزم د تمویل د جرمونو اثباتول، د مؤقتي تدبیرونو نیول او یا د مجرمینو استرداد وي، له دیپلوماتیکو مجاریو څخه صورت مومي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي غوښتنلیکونه د جنایي پولیسو د نړیوالې مؤسسې

فصل دوازدهم
احکام متفرقه

ماهیت جرم

مادۀ شصت و چهارم:

مطابق احکام این قانون و قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم، جرم مندرج مادۀ سوم این قانون به جرایم دارای ماهیت سیاسی مرتبط به جرایم سیاسی، انگیزۀ سیاسی و جرایم مالی اطلاق نمی گردد.

ارسال درخواست

مادۀ شصت و پنجم:

(۱) ارسال درخواست های مقامات ذیصلاح خارجی که هدف از آن اثبات جرایم تطهیر پول، جرایم تمویل تروریزم، اتخاذ تدابیر مؤقتی و یا استرداد مجرمین باشد، از مجاری دیپلوماتیک صورت می گیرد.

(۲) درخواست های مندرج فقرۀ (۱) این ماده در حالات عاجل از طریق مؤسسۀ بین المللی پولیس

(ICPO/Interpol) یا مستقیماً د بهرنیو مقاماتو په واسطه د افغانستان د دولت قضایي مقاماتو ته د پست له لارې یا د نورو چټکو استونو له لارو څخه چې لیکلی رېکارد یا یې معادل ولري لېږل کېدای شي، مګر پدې حالت کې له دیپلوماتیکي لارې څخه د خبرتیا تر رسېدو پورې، غوښتنلیک ته رسمي ځواب نشي ورکولای کېدای.

غوښتنلیک او ضمیمې یې د افغانستان د دولت په یوه د منلو وړ ژبو باندې د هغه له ژباړې سره یو ځای ورکولای کېږي.

جنایی (ICPO/Interpol) یا مستقیماً توسط مقامات خارجی به مقامات قضایی دولت افغانستان از طریق پست یا سایر طرق ارسال سریع که ریکارد تحریری یا معادل آنرا داشته باشد، فرستاده شده می‌تواند. مگر در این حالت الی و صول اطلاع از طریق دیپلوماتیك به درخواست، پاسخ رسمی ارائه شده نمی‌تواند.

درخواست و ضمایم توأم با ترجمهٔ آن به یکی از لسان های قابل قبول دولت افغانستان ارائه می‌گردد.

د غوښتنلیک محتوي

شپږ شپېتمه ماده:

(۱) غوښتنلیک د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱- د غوښتونکي مقام نوم او عنوان.

۲- د هغه مقام نوم او عنوان چې ور څخه غوښتنه کېږي.

۳- په غوښتنلیک کې شامل هدف، موضوعګاني او ملاحظات.

۴- دغوښتنلیک تاییدوونکي

محتوای درخواست:

مادهٔ شصت و ششم:

(۱) درخواست حاوی مطالب آتی می باشد:

۱- اسم و عنوان مقام درخواست کننده.

۲- اسم و عنوان مقامیکه از آن درخواست صورت میگیرد.

۳- هدف، موضوعات و ملاحظات شامل درخواست.

۴- حقایق تائید کننده

حقایق.
۵- د پام وړ شخص د مدني حالت، تابعیت، پتې (آدرس) او شغل ټاکل.
۶- د هغو قانوني حکمونو ذکر کول چې پر اساس یې جرم اثبات شوی او د تطبیق وړ وي.
۷- د اشخاصو، وسایلو، تر لاسه شوو عوایدو او د نظر وړ وجوهو او شتمنیو د تشخیص او د پل د میندلو لپاره نور لازم معلومات.
(۲) غوښتنلیک په ځینو ټاکلو قضیو کې د لاندې مشخصاتو لرونکی هم وي:
۱- د مؤقتي تدبیرونو نیول او پدې برخه کې د هغو د څرنګوالي شرح کول.
۲- د نافذو قوانینو مطابق د قضایي ضبط مامورینو او محکمو ته د مصادرې د حکم د صادرېدو د حقایقو او دلایلو توضیح کول.
۳- د احتیاطي تدبیرونو یا د مصادرې د غوښتنو په هکله لاندې مطالب په پام کې نیول کېږي:
- د حکم او دهغو موجباتو په هکله یو تصدیق شوی نقل چې پر بنسټ یې حکم صورت موندلی دی.

درخواست.
۵- تعیین حالت مدنی، تابعیت، آدرس و شغل شخص مورد نظر.
۶- تذکر احکام قانونی که به اساس آن جرم اثبات گردیده و قابل تطبیق باشد.
۷- سایر معلومات لازم برای تشخیص و ردیابی اشخاص، وسایل، عواید حاصله، وجوه و دارایی های مورد نظر.
(۲) درخواست در بعضی قضایای معین، حاوی مشخصات ذیل نیز می‌باشد:
۱- اتخاذ تدابیر مؤقتی و شرح چگونگی آن در زمینه.
۲- توضیح حقایق و دلایل صدور حکم مصادره به مأمورین ضبط قضایی و محاکم طبق قوانین نافذه.
۳- مطالب آتی در مورد درخواست های تدابیر احتیاطی یا مصادره مدنظر گرفته می‌شود:
- یك نقل تصدیق شدهٔ حکم و ذکر موجباتی که به اساس آن حکم صورت گرفته است.

- هغه سند چې د حکم د قطعیت تصدیقوونکی وي او په عادي توګه د استیناف غوښتنې وړ نه وي.
- د حکم د تطبیق د حدودو او د هغو ټولو (مجموعي) پیسو شرح چې استرداد یې له وجوهو او شتمنیو څخه غوښتل کېږي.
۴- د ثالثو اشخاصو د حقوقو او په وسایلو، تر لاسه شوو عوایدو، وجوهو او شتمنیو او د نظر وړ په نورو شیانو کې د هغو د طلباتو په هکله د معلوماتو حاصلول.
(۳) د تورن د محکومیت او د هغه داستردادپه صورت کې غوښتنلیک د لاندې مطالبو لرونکی هم وي:
۱- د فیصلې او نورو هغو سندونو تصدیق شوی اصل او نقل چې اړوند محکومیت او مجازات تصریح کوي.
۲- د مجازاتو او هغو حدودو مرعي الاجراء والی چې مجازات پکې د تطبیق وړ وي.

- سندیکه تصدیق کنندهٔ قطعیت حکم بوده و بطور عادی قابل استیناف طلبی نباشد.
- توضیح حدود تطبیق حکم و شرح مبلغ مجموعی پولیکه استرداد آن از وجوه و دارایی ها مطالبه می گردد.
۴- حصول معلومات در مورد حقوق اشخاص ثالث و طلبات آنها در وسایل، عواید حاصله، وجوه و دارایی ها و سایر اشیای مورد نظر.
(۳) در صورت محکومیت متهم و استرداد آن درخواست دارای مطالب ذیل نیز می‌باشد:
۱- اصل و نقل تصدیق شدهٔ فیصله و سایر اسنادیکه محکومیت و مجازات مربوطه را تصریح می‌نماید.
۲- مرعی الاجراء بودن مجازات و حدودیکه مجازات در آن قابل تطبیق می باشد.

د غوښتنلیک د څېړنې ډول
اووه شپېتمه ماده:
(۱) د افغانستان د دولت د بهرنیو چارو وزارت د استرداد د

طرز رسیدگی به درخواست
مادهٔ شصت و هفتم:
(۱) وزارت امور خارجهٔ دولت افغانستان بعد از تائید درخواست

غوښتنليک له تاييد وروسته هغه لويې څارنوالۍ ته د څېړنې لپاره راجع کوي. لويه څارنوالي موضوع د تحقيق لپاره د جرم د ارتکاب ځای، د تورن د استوګنې يا هغه ځای ته چې وجوه او شتمنۍ هلته موجودې وی، لېږي.

(۲) څارنوالۍ موضوع هغو مؤظفينو ته چې د څېړنې (تحقيق) واک لري يا واکمنې محکمې ته د احتياطي تدبيرونو د نيولو، مصادرې او يا د تورن د استرداد په منظور، راجع کوي.

(۳) د قضايي ضبط مامور چې د بهرني واکمن مقام په واسطه معرفي شوی دی، کولای شي د تحقيق او محاکمې په بهير کې ګډون وکړي.

استرداد، آنرا جهت رسیدگی به لوی څارنوالی راجع می سازد.

لوی څارنوالی موضوع را جهت تحقیق به محل ارتکاب جرم، سکونت متهم یا محلیکه وجوه و دارایی ها در آن موجود باشد، ارسال می کند.

(۲) څارنوالی موضوع را به مؤظفین حایز صلاحیت تحقیق یا محکمهٔ ذیصلاح به منظور اتخاذ تدابیر احتیاطی، مصادره و یا استرداد متهم، راجع می‌سازد.

(۳) مأمور ضبط قضایی که توسط مقام ذیصلاح خارجی معرفی شده است، می تواند در جریان تحقیق و محاکمه اشتراک نماید.

اضافي معلومات

اته شپېتمه ماده:

د بهرنيو چارو وزارت د قضايي ضبط د مامورينو او هغې افغاني محکمې په غوښتنه چې قضيه ورته محول شوې ده، کولای شي له ديپلوماتيکو لازو يا مستقيماً له بهرني واکمن مقام څخه غوښتنه

معلومات اضافی

مادهٔ شصت و هشتم:

وزارت امور خارجه به اثر درخواست مامورین ضبط قضایی و محکمهٔ افغانی ایکه قضیه به آن محول گردیده، می‌تواند از طرق دیپلوماتیک یا مستقیماً از مقام ذیصلاح خارجی تقاضاء نماید تا

وکړي تر څو ټول اضافي معلومات د غوښتنليک د تطبیق او یا آسانتیا لپاره برابر کړي.

تمام معلومات اضافی را برای تطبیق درخواست و یا تسهیل آن فراهم نمایند.

د محرمیت لزوم

نهه شپېتمه ماده:

که چېرې د غوښتنليک محتوي د محرمیت ایجاب وکړي، دغه اصل رعایت کېږي، د نه امکان په صورت کې دې موضوع له لنډ وخت کې غوښتونکو مقاماتو ته خبر ورکړي.

لزوم محرمیت

مادۀ شصت و نهم:

هرگاه محتوای درخواست ایجاب محرمیت را نماید، این اصل رعایت می گردد. در صورت عدم امکان، موضوع به مقامات درخواست کننده به اسرع وقت اطلاع داده می شود.

تعویق

اویایمه ماده:

که چېرې د بهرنیو مقاماتو غوښتنليک د څېړنو یا اجراآتو تګلوری ګډ و ډکړي، څارنوالی کولای شي د قضایي ضبط مامورینو یا محکمې ته د موضوع ارجاع کول وځنډوي (تعلیق کړي) او له څرنګوالي څخه یې بې له وقفې له دیپلوماتیکو لارو غوښتنليک ورکوونکې مرجع ته خبر ورکړي.

تعویق

مادۀ هفتادم:

هرگاه درخواست مقامات خارجی سیر تحقیقات یا اجراآت را اخلال نماید، څارنوالی می‌تواند ارجاع موضوع را به مامورین ضبط قضائی و یا محکمه به تعویق اندازد و از چگونگی آن بلا وقفه از طرق دیپلوماتیک به مقامات درخواست دهنده اطلاع دهد.

د مشروط استرداد کړنلاره

یو اویایمه ماده:

د هېواد واکمن مقامات کولای شي تـورن د دې قـانون او د تروریـزم د تمویل په خلاف د مبارزې د قانون د حکمونو مطابق، د مؤقتې نیونې د غوښـتنلیک لـه تـر لاسـه کولـو وروسته استرداد کړي، پدې شرط چې هغه شخص چې استرداد یې غوښتل شوی دی، صراحتاً پر هغه موافقه وکړي.

طرز العمل استرداد مشروط

مادهٔ هفتاد و یکم:

مـقـامات ذیـصـلاح کـشور مـی‌تواننـد، مـتهم را طبـق احکـام ایـن قـانون و قـانون مبـارزه علیـه تمویـل تروریـزم، بعـد از دریافـت درخواسـت بازداشـت مؤقـت استرداد نماید، مشروط بر اینکه شخـصی کـه اسـترادش تقاضـاء گردیـده، صـراحتاً بـه آن موافقـه نماید.

لـه مـدارکو څخـه داسـتفادې محدودیت

دوه اویایمه ماده:

د هېـواد د واکمنـو مقامـاتو پـه واسطه، له هغه څه نه پرته چې په غوښتنلیک کې مشخص شوي دي، د تحقیقـاتو او یـا اجراآتـو لپـاره د بهرنیو مقاماتو په غوښتنلیک کې لـه شـاملو اثباتیـه مـدارکو څخـه استفاده ممنـوع ده، مګر دا چې د بهرني حکومت په مخکني رضایت یې صورت موندلی وي.

هغه تحقیقات یا اجراآت چې د دې مـادې د حکـم مخـالف صـورت ومومي، باطل ګڼل کېږي.

محـدودیت استـفـاده از مـدارک

مادهٔ هفتاد و دوم:

استفاده از مـدارک اثباتیـه شـامل درخواست مقامات خارجی بـرای تحقیقات و یا اجراآت غیر از آنچه در درخواست مـشخص گردیـده، توسـط مقامـات ذیصلاح کـشور ممنـوع میباشـد، مگـر اینکـه بـا رضـایت قبلـی حکومـت خـارجی صـورت گرفتـه باشد.

تحقیقـات یـا اجراآتیکـه مخـالف حکم این ماده صورت گیرد، باطل شمرده می‌شود.

د لګښتونو تخصیص

دري اویایمه ماده:

د دې قانون یا د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې د قانون د غوښتنلیکونو له تطبیق څخه رامنځ ته شوي لګښتونه، د غوښتونکي هېواد په غاړه دي، مګر دا چې په دې هکله په بل ډول سره موافقې صورت موندلی وي.

تخصیص مصارف

مادۀ هفتاد و سوم:

مصارف ناشی از تطبیق درخواستهای مندرج این قانون یا قانون مبارزه علیه تمویل تروریزم بعهدۀ کشور درخواست کننده بوده، مگر اینکه در مورد طور دیگری موافقه صورت گرفته باشد.

د د افغانستان بانک په وسیله د مقرراتو وضع کول

څلور اویایمه ماده:

د د افغانستان بانک کولای شي د دې قانون د ښه تطبیق په منظور، مقررات وضع کړي.

وضع مقررات بوسیله د افغانستان بانك

مادۀ هفتاد و چهارم:

د افغانستان بانك می‌تواند به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، مقررات را وضع نماید.

انفاذ

پنځه اویایمه ماده:

دغه قانون د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

انفاذ

مادۀ هفتاد و پنجم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد.

قانون رسیدگی به تخلفات اطفال

د افغانستان اسلامي جمهوريت

ګڼه: (۷۶۵)
نېټه: ۱۳۸۳/۱۲/۱۹

د عدليې وزير محترم سرور دانش!
د اطفالو د سرغړونې د رسيدګۍ قانون چې په (۸) فصلونو او (۶۶) مادو کې د وزيرانو د عالي مجلس له خوا تصويب شوی او زموږ له لوري د ۱۳۸۳/۱۲/۱۹ نېټې د (۴۶) ګڼې فرمان په اساس منظور شوی دی، تاسې ته در واستول شو چې په رسمي جريده کې يې په خپرولو اقدام وکړئ.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوريت
جمهور رئيس

جمهوری اسلامی افغانستان

شماره: (۷۶۵)
تاریخ: ۱۳۸۳/۱۲/۱۹

محترم سرور دانش وزیر عدلیه!
قانون رسیدگی به تخلفات اطفال بداخل (۸) فصل و (۶۶) ماده که از طرف مجلس عالی وزراء تصویب و از جانب ما به اساس فرمان شماره (۴۶) مؤرخ ۱۳۸۳/۱۲/۱۹ منظور گردیده است، بشما ارسال شد تا به نشر آن در جریدهٔ رسمی اقدام نمائید.

حامد کرزی
رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان

د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ د قانون د انفاذ په باب د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس فرمان

ګڼه: (۴۶)
نېټه: ۱۳۸۳/۱۲/۱۹

لومړۍ ماده:
د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون چې په (۸) فصلونو او (۶۶) مادو کې د ۱۳۸۳/۱۱/۲۶ نېټې د (۱۰)ګڼې مصوبې په اساس، د وزیرانو د عالي مجلس له خوا تصویب شوی دی، توشیح کوم.

دوه یمه ماده:
دا فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او له قانون سره یوځای دې په رسمي جریده کې خپور شي.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامی جمهوریت جمهور رئیس

فرمان
رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان در بارۀ انفاذ قانون رسیدگی به تخلفات اطفال

شماره: (۴۶)
تاریخ: ۱۳۸۳/۱۲/۱۹

مادۀ اول:
قانون رسیدگی به تخلفات اطفال را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۰) مؤرخ ۱۳۸۳/۱۱/۲۶ از طرف مجلس عالی وزراء بداخل (۸) فصل و (۶۶) ماده تصویب گردیده است، توشیح می‌دارم.

مادۀ دوم:
این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون در جریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد کرزی
رئیس جمهور جمهوری اسلامی افغانستان

د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون

لومړی فصل

عمومي حکمونه

مبنی

لومړۍ ماده:

دغه قانون د اساسي قانون په څلور پنځوسمه ماده کې د درج شوو ارزښتونو د په نظر کې نیولو او د بشر د حقوقو د ملاتړ د نړیوالو کنوانسیونونو، په خاص ډول د اطفالو د ګټو له په پام کې نیولو سره، له قانون څخه د سرغړونکو اطفالو د جرمونو، له خطر سره د مخامخ اطفالو او څارنې او ساتنې ته اړو اطفالو د رسیدګۍ د ډول او د تحقیق او محاکمې په بهیر کې د هغو د حقوقو د تأمینولو په منظور وضع شوی دی.

هدفونه

دوه یمه ماده:

ددې قانون هدفونه عبارت دي له:

۱- له قانون څخه د سرغړوونکو اطفالو اصلاح کول او بیا روزل.

۲- د ټولنې په جوړولو کې د

قانون رسیدگی به تخلفات اطفال

فصل اول

احکام عمومی

مبنی

مادۀ اول:

این قانون با نظر داشت ارزش های مندرج مادۀ پنجاه و چهارم قانون اساسی و رعایت کنوانسیون های بین‌المللی حمایه حقوق بشر و به خصوص منافع اطفال به منظور طرز رسیدگی به جرایم اطفال متخلف از قانون، اطفال در معرض خطر و اطفال نیازمند مراقبت و حفاظت و تأمین حقوق آنها در جریان تحقیق و محاکمه وضع گردیده است.

اهداف

مادۀ دوم:

اهداف این قانون عبارت است از:

۱- اصلاح و تربیت مجدد اطفال متخلف از قانون.

۲- محترم شمردن نقش اساسی

اطفالو د بنسټیز نقش محترم ګڼل او دهغو دجسمي، اخلاقي، معنوي او ټولنیزې هوساینې څخه ملاتړ.

۳- د اطفالو د والدینو، سرپرست او قانونی وکیل د مسئولیت مشخص کول.

۴- دتحقیق په بهیر او له محاکمې څخه وروسته د طفل د حقوقو د کنوانسیون په پام کې نیول.

۵- د تحقیق او محاکمې په وخت کې د اطفالو د ویناوو او نظریو اوربدل په خپله ددوی یا ئې د قانوني ممثل لخوا.

۶- د اطفالو د سرغړونو د مخنیوي په منظور نظارت ته د غیر دولتي ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو هڅول.

۷- د هغو اطفالو چې له خطر سره مخامخ وي او څارنې او ساتنې ته اړ دي، ساتل.

اطفال در اعمار جامعه و حمایت جسمی، اخلاقی، معنوی و رفاه اجتماعی آنها.

۳- مشخص نمودن مسئولیت والدین، سرپرست یا وکیل قانونی اطفال.

۴- رعایت کنوانسیون حقوق طفل در جریان تحقیق و بعد از محاکمه.

۵- استماع بیانات و نظریات اطفال حین تحقیق و محاکمه، توسط خود یا ممثل قانونی آنها.

۶- تشویق به نظارت مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی غیر دولتی به منظور جلوگیری از تخلفات اطفال.

۷- حفاظت از اطفالیکه در معرض خطر قرار داشته و نیازمند مراقبت و محافظت باشند.

د چلند ډول

درېیمه ماده:

هغه طفل چې تر تور لاندې راشي، له قانون څخه د سرغړونې مرتکب شي یا له خپل ځان څخه غیر عادي اعمال و ښیی او یا داچې ساتنې او

طرز برخورد

مادۀ سوم:

طفلیکه مورد اتهام قرارگیرد، مرتکب تخلف از قانون شود یا اعمال غیر عادی را از خود نشان دهد و یا اینکه نیازمند مراقبت و

څارنې ته اړوي، ددې قانون د حکمونو مطابق له هغه سره چلند ترسره کېږي.

حفاظت باشد، مطابق احکام این قانون با وی برخورد صورت می‌گیرد.

اصطلاح ګانې

څلورمه ماده:

په دې قانون کې لاندې اصطلاح ګانې لاندینې معناوی لري:

۱- طفل: هغه شخص چې د اتلس کلنۍ عمر ئې نه وي بشپړ کړي.

۲- غیر ممیز طفل: هغه شخص دی چې د اتلس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړی.

۳- ممیز طفل: هغه شخص دی چې د اووه کلنۍ سن ئې بشپړ او د دولس کلنۍ ئې نه وي بشپړ کړی.

۴- ځوانکی طفل: هغه شخص دی چې د دولس کلنۍ سن ئې بشپړ او د اتلس کلنۍ سن ئې نه وي بشپړ کړي.

۵- حجز:داطفالو داصلاح اوروزنې په مرکز کې دمحکوم طفل د آزادۍ له تحدیدولوڅخه عبارت دی.

۶- په کور کې حجز: په کور، خصوصي یا عمومي ځای او د

اصطلاحات

مادهٔ چهارم:

اصطلاحات آتی در این قانون معانی ذیل را دارد:

۱- طفل: شخصی است که سن هجده سالگی را تکمیل نکرده باشد.

۲- طفل غیر ممیز: شخصی است که سن هفت سالگی را تکمیل نکرده باشد.

۳- طفل ممیز: شخصی است که سن هفت سالگی را تکمیل و دوازده سالگی را تکمیل نکرده باشد.

(۴) مؤسـسه اختـصاصی خـدمات اجتمـاعی مـی‌توانـد نظریـات و پیشنهادات لازم مبنی برتعدیلات جزئـی در حکـم محکمـه کـه در اصـلاح پـذیری و بازگـشت

او ټولنې ته په بیا ورتګ کې اغیزمن واقع شي، محکمې ته وړاندې کړي.

د آسانتیا وو برابرول
نهه څلوېښتمه ماده:
(۱) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسه مکلفه ده چې له کورنۍ او چاپېریال سره ئې د طفل د لیدنو کتنو لپاره لازمې آسانتیاوې برابرې کړي.
(۲) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسه مکلفه ده چې د طفل په هکله د محکمې د سپارښت شوو دستورونو له تطبیقېدو څخه ځارنه وکړي او په هره میاشت یا د غوښتنې په وخت کې د اطفالو اختصاصي محکمې ته رپوټ وړاندې کړي.

مجدد طفل به جامعه مؤثر واقع گردد، به محکمه ارائه نماید.

فراهم آوری تسهیلات
مادۀ چهل و نهم:
(۱) مؤسسه اختصاصی خدمات اجتماعی مکلف است تسهیلات لازم را جهت ملاقات طفل با خانواده و محیط اش فراهم نماید.
(۲) مؤسسه اختصاصی خدمات اجتماعی مکلف است از تطبیق دساتیر توصیه شدۀ محکمه در مورد طفل مراقبت نموده و در هر ماه یا عندالمطالبه گزارشی را به محکمۀ اختصاصی اطفال ارائه نماید.

د حکم تعدیل
پنځوسمه ماده:
د اطفالو اختصاصي محکمه واک لري چې د طفل د ګټو د ساتنې په منظور د هغه د روزنې او ټولنې ته د بیا ورتګ په هکله عندالاقتضا، خپل حکم تعدیل

تعدیل حکم
مادۀ پنجاهم:
محکمۀ اختصاصی اطفال صلاحیت دارد به منظور حفظ منافع طفل مبنی بر تربیه و بازگشت مجدد آن به جامعه حکم خویش را عندالاقتضأ تعدیل

کړي.

نماید.

د طفل د ساتنې لګښتونه

یو پنځوسمه ماده:

د ټولنیزو خدمتونو په اختصاصي مؤسسو یا روزنیزو او روغتیائې مؤسسو کې د طفل د استوګنې لګښتونه، د هغه د قانوني ممثل په غاړه وي. که چېرې قانوني ممثل د هغه د ورکړې توان و نه لري، دغه لګښتونه د دولت د بودجې څخه تمویلېږي.

مصارف نگهداری طفل

مادۀ پنجاه و یکم:

مصارف طفل حین اقامت در مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی یا مؤسسات تربیوی یا صحی بدوش ممثل قانونی وی می‌باشد. درصورتی‌که ممثل قانونی توانائی پرداخت آنرا نداشته باشد، این مصارف از بودجه دولت تمویل می‌گردد.

شپږم فصل

ځارنې او ساتنې اړه اطفالو ته مرسته او هغوی ته د رسیدګۍ ډول

فصل ششم

کمك به اطفال نیازمند مراقبت و حفاظت و طرز رسیدگی به آن

ځارنې او ساتنې ته اړ طفل

دوه پنځوسمه ماده:

(۱) ځارنې او ساتنې ته اړ طفل هغه شخص دی چې:

۱- د هغه جسمي، روحي، عاطفي او ساتنیز(حفاظتی) سلامتیا له خطر سره مخامخ وي.

۲- د هغه ښوونیزې ګټې او شرایط له خطر سره مخامخ شوې وي.

۳- د لوړ عمر لرونکي یا هغه

طفل نیازمندبه مراقبت و حفاظت

مادۀ پنجاه و دوم:

(۱) طفل نیازمند به مراقبت و حفاظت‌عبارت ازشخصی‌است که:

۱- سلامت جسمی، روحی، عاطفی و حفاظتی وی درمعرض خطر قرار داشته باشد.

۲- منافع و شرایط تعلیمی وی مورد مخاطره قرار گرفته باشد.

۳- مورد تجاوز کلان سال و

شخص چې پری تسلط لري ترتبري لاندې راغلی وي.
۴- والـــدینو، هغـــه پرېيـــښی وي.
(۲) د اطفالو اختصاصي محکمه د طفل، قانوني ممثل، څارنوال يا نورو واکمنو مراجعو د غوښتنې په صورت کې کولای شي، ددې مادې د (۱) فقرې په درج شوو حالاتو کې لازم تصميمونه ونيسي.

یاشخصی‌که بالای وی تسلط دارد، قرار گرفته باشد.
۴- والدین، وی رارها نموده باشد.
(۲) محکمهٔ اختصاصی اطفال در صورت درخواست طفل، ممثل قانونی، څارنوال یا سایر مراجع با صلاحیت می‌تواند در موارد مندرج فقره (۱) این ماده تصامیم لازم را اتخاذ نماید.

د اظهاراتو اورېدل
دري پنځوسمه ماده
(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه د طفل ويناوې (اظهارات) اوري، خو دا چې قضائي جلسه د سن، روغتيا او عقلي پياوړتيا له امله د طفل روحي يا جسمي وضعيت ته د زيان رسولو موجب وګرځي.
(۲) د اطفالو اختصاصي محکمه د طفل د قانوني ممثل اظهارات اوري او هغه تر غور لاندې نيسي.
(۳) قانوني ممثل کولای شي له اړوندې محکمې څخه غوښتنه وکړي چې د متخصصينو او اهل خبره وو له نظريو څخه د هغه طفل

استماع اظهارات
مادهٔ پنجاه و سوم:
(۱) محکمهٔ اختصاصی اطفال اظهارات طفل را استماع می نماید، مگر اینکه جلسهٔ قضائی موجب ضرر به وضعیت روحی یا جسمی طفل از لحاظ سن، صحت و یا توانائی عقلانی وی گردد.
(۲) محکمهٔ اختصاصی اطفال اظهارات ممثل قانونی طفل را استماع و آنرا مورد غور قرار می‌دهد.
(۳) ممثل قانونی می‌تواند از محکمهٔ مربوط تقاضا نماید تا از نظریات متخصصین و اهل خبره راجع به طفلی‌که مورد

په اړه چې تر جنسي، فزيکي يا روحي تېري لاندې راغلی وي، ګټه واخلي.

(۴) د اطفالو اختصاصي محکمه کولای شي چې متخصصين او اهل خبره د طفل د وضعيت په هکله د معلوماتو د وړاندې کولو لپاره محکمې ته احضار کړي.

تجاوز جنسی، فزیکی یا روحی قرار گرفته است، استفاده نماید.

(۴) محکمه اختصاصی اطفال می‌تواند متخصصین و اهل خبره را جهت ارایهٔ معلومات در مورد وضعیت طفل به محکمه احضار نماید.

د محکمو له صادرشوو دستورونو څخه څارنه

څلور پنځوسمه ماده:

د ټولنيزو خدمتونو اختصاصي مؤسسې مکلفې دي چې د اطفالو د اختصاصي محکمو له صادر شويو دستورونو څخه څارنه او د طفل د اصلاح کېدو رپوټ په مياشتني ډول اړوندو محکمو ته ورکړي.

مراقبت از دساتیر صادره محاکم

مادهٔ پنجاه و چهارم:

مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی مکلف اند، دساتیر صادرهٔ محاکم اختصاصی اطفال را مراقبت نموده و گزارش اصلاح پذیری طفل را ماهانه به محاکم مربوط ارائه نمایند.

د مرسته ايزو روزنيزو تدبيرونو نيول

پنځه پنځوسمه ماده:

(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه واک لري، ددې قانون د دوه پنځوسمې مادې د (۱) فقرې په حکم کې د درج شوي طفل په هکله

اتخاذ تدابیر کمکی و تربیوی

مادهٔ پنجاه و پنجم:

(۱) محکمهٔ اختصاصی اطفال صلاحیت دارد در مورد طفل مندرج فقره (۱) مادهٔ پنجاه و دوم این قانون یکی

لـه لاتـدې مرسـته ایـزو روزنیـزو تدبیرونو څخه یو ئې و نیسي:
۱- طفـل دې پـه خپـل اوسـني چاپېریـال (محیط) کې پاتې شي. پدې حالت کې محکمه مکلفه ده چې د هغه لپاره قانوني سرپرست وټاکي تر څو د محکمې د حکم له مخـې طفـل خلاصـو روزنیـزو مؤسسو ته واستوي.
۲- طفـل دې پـه خپـل اوسـني چاپېریال کې پدې شرط پاتې شي چې په دوامداره توګه روغتیـائي او مـسلکي ښـوونیزو یـا روزنیـزو مؤسسو ته مراجعه وکړي.
۳- طفـل د خپـل اوسـني چاپـېریال څخـه جـلا او د قـانوني سرپرسـت ترڅـارنې لاتـدې دې راشـي، ترڅـو د محکمې دحکم په صورت کې طفـل روغتیـایي او مـسلکي ښـوونیزو یـا روزنیزو مؤسسو ته واستوي.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شـوې روغتیـایي، ښـوونیزې او روزنیزې مؤسسې او د طفل قانوني سرپرست مکلف دي چې د طفـل له چلند او سلوک څخه څارنه وکړي او دهغـه د اصـلاح کېـدو پـه هکلـه د لازښـوونې مطـابق لیکلـی رپـوټ، از تـدابیر کمکـی تربیـوی ذیـل را نیز اتخاذ نماید:
۱- طفـل در محـیط فعلـی اش بـاقی بمانـد. در ایـن حالـت محکمـه مـکلف است سرپـرست قـانونی بـرای وی تعیـین نمـاید تـا در صـورت حکـم محکمـه، طفـل را بـه مؤسـسات تعلیمی باز بفرستد.
۲- طفـل در محـیط فعلـی اش بـه شـرطی بـاقی بمانـد کـه بـه طـور دوامـدار بـه مؤسـسات صـحی، تعلیمـی یـا تربیـوی مـسلکی مراجعه نماید.
۳- طفل از محیط فعلی اش جدا و تحت مراقبت سرپرست قـانونی قـرار گیـرد، تـا درصـورت حکـم محکمـه طفـل را بـه مؤسـسات صـحی، تعلیمـی یـا تربیـوی مسلکی بفرستد.
(۲) مؤسـسات صـحی تعلیمـی و تربیـوی مـسلکی و سرپرسـت قانونی طفل مندرج فقره (۱) این ماده مکلف اند از رفتـار و سلوک طفـل مراقبـت نمـوده و درمـورد اصـلاح پـذیری وی گـزارش کتبـی رامطابق هدایت، به محکمـه ارائـه

محکمې ته وړاندې کړي.
(۳) ددې مـادې د (۱) فقـرې پـه (۱او۲) اجزاوو کـې درج پـه حـالاتو کـې، قـانوني سرپرست مکلف دی چې دده د سرپرستۍ د عـزل کېدو یـا د اوسني محیط څخه د طفل د جلاوالـي پـه هکلـه د اطفـالو د اختـصاصي محکمې د ثـاني حکم تروخته پورې طفل وساتي.
(۴) ددې مـادې د (۱) فقـرې د (۳) جـزء پـه درج شـوي حالـت کـې، قـانوني سرپرست مکلـف دی چې دده د سرپرستۍ دعـزل کېـدو یـا کورنۍ ته د طفل د بېرتـه ستنېدو په هکله د محکمې د ثـاني حکم تر وختـه پورې، طفل وساتي.
(۵) طفل ددې مادې د (۱) فقرې په درج شـوو حـالاتـو کـې، هـر وخـت کولای شي د اطفـالو لـه اختـصاصي محکمې څخه غوښتنه وکړي چې له خپلو والدینواو قانوني سرپرست سره لیدنه کتنه وکړي.

نماید.
(۳) در حالات مندرج اجزای (۱و۲) فقـره (۱) ایـن مـاده، سرپرسـت قـانونی مکلـف است طفـل را تـا زمـان حـکم ثـانی محکمـۀ اختـصاصی اطـفال مبنـی بـر عـزل سرپرستی وی یـا جـدائی طفـل از محـیط فعلـی اش نگهـداری نماید.
(۴) در حالت مندرج جزء (۳) فقره (۱) ایـن مـاده سرپرسـت قـانونی مکلـف اسـت طفـل را الـی حکـم ثـانی محکمـه مبنـی بـر عـزل سرپرسـتی یـا بـاز گـشت طفـل بـه فامیـل اش، نگهـداری نماید.
(۵) طفـل بـا نظرداشـت حـالات مندرج فقره (۱) این ماده هر زمان مـی‌توانـد از محکمـۀ اختـصاصی اطفال تقاضا نماید تا با والدین و سرپرست قـانونی خـویش ملاقـات نماید.

پرنیول شووتدبیرونو باندې نوې کتنه

شپږپنځوسمه ماده:

(۱) د اطفالو اختصاصي محکمه واک لري چې ددې قانون د یوپنځوسمې مادې په (۱) فقره کې درج پر نیول شوو تدبیرونو باندې دطفل د چلند ،سلوک او اصلاح کېدو د په پام کې نیولو سره، عنداللزوم نوې کتنه وکړي.

(۲) د اطفالو اختصاصي محکمه واک لري ددې قانون د پنځه پنځوسمې مادې په (۱) فقره کې درج پر نیول شوو تدبیرونو باندې د والدینو، قانوني سرپرست یا د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو د غوښتنې له مخې په هرو شپږو میاشتو کې نوې کتنه وکړي.

تجدید نظر بر تدابیر اتخاذ شده

مادۀ پنجاه و ششم:

(۱) محکمۀ اختصاصی اطفال صلاحیت دارد تدابیر اتخاذ شده مندرج فقره (۱) مادۀ پنجاه و پنجم این قانون را با در نظرداشت روش، سلوک و حالات اصلاح پذیری طفل عنداللزوم مورد تجدید نظر قرار دهد.

(۲) محکمۀ اختصاصی اطفال صلاحیت دارد تدابیر اتخاذ شده مندرج فقره (۱) مادۀ پنجاه و پنجم این قانون را حسب تقاضای والدین، سرپرست قانونی، یا مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی در هر شش ماه تجدید نظر نماید.

اووم فصل
د اطفالو سرپرستي

فصل هفتم
سرپرستی اطفال

قانوني سرپرست

اووه پنځوسمه ماده:

(۱) هغه طفل چې د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی، والدین یې قانوني سرپرست ګڼل

سرپرست قانونی

مادۀ پنجاه وهفتم:

(۱) طفلیکه سن هجده سالگی را تکمیل نکرده باشد، والدین، سرپرست قانونی وی شمرده

کېږي.
(۲) په هغه صورت کې چې طفل قانوني ممثل و نه لري، محکمه هغه ته سرپرست ټاکي.
(۳) د قانوني سرپرست د ټاکلو لپاره د قضايي واک حوزه، هغه قلمرو ګڼل کېږي چې طفل په هغه کې استوګنه ولري يا هغه ځای چې طفل په هغه کې حاضر وي او پر علیه يې قانوني اقدامات پیل شوي وي.

می‌شوند.
(۲) در صورتی‌که طفل ممثل قانونی نداشته باشد، محکمه برای وی سرپرست تعیین می‌نماید.
(۳) حوزهٔ صلاحیت قضائی برای تعیین سرپرست قانونی، قلمروی شمرده می‌شود که طفل در آن اقامت داشته و یا محلیکه طفل در آنجا حاضر و علیه آن اقدامات قانونی آغاز گردیده باشد.

د سرپرستۍ غوښتنلیک
اته پنځوسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې د طفل هوساینې ته علاقه ولري، کولای شي چې د سرپرستۍ غوښتنلیک چې دلاندې معلوماتو لرونکی وي، اړوندې محکمې ته وړاندې کړي:
۱- پېژندګلوي او بشپړ آدرس.
۲- د طفل نوم، سن، د اوسېدونې ځای او آدرس.
۳- له طفل سره د اړیکو او علایقو څرنګوالی.
۴- د طفل د اصولو، فروعو او نږدې خپلوانو پېژندګلوي او آدرس.

در خواست سرپرستی
مادهٔ پنجاه و هشتم:
(۱) شخصی‌که علاقمند به رفاه طفل بوده، می‌تواند درخواست سرپرستی را که حاوی معلومات ذیل باشد، به محکمه مربوط ارائه نماید:
۱- شهرت و آدرس مکمل.
۲- اسم، سن، محل سکونت و آدرس طفل.
۳- چگونگی رابطه و علایق با طفل.
۴- شهرت و آدرس اصول، فروع، واقارب نزدیک طفل.

۵- د طفل د ښې سرپرستۍ په هکله د وړتیا دلایل.
۶- د سرپرستۍ ډول او حدود.
(۲) د اطفالو اختصاصي محکمه ددې مادې په (۱) فقره کې درج د سرپرستۍ غوښتنلیک د څېړنو د تر سره کولو او لازمو معلوماتو د وړاندې کولو لپاره ټولنیزو اختصاصي مؤسسو ته لېږي او اړوندې مؤسسې مکلفې دي چې د څېړنو رپوټ محکمې ته وړاندې کړي.
(۳) د اطفالو اختصاصي محکمه د طفل، والدینو، غوښتنلیک ورکوونکي شخص او د ټولنیزو خدمتونو د اختصاصي مؤسسو د استازي په حضور د قانوني سرپرست د ټاکلو په هکله تصمیم نیسي.

۵- دلایل شایستگی مبنی بر سرپرستی بهتر طفل.
۶- نوع و حدود سرپرستی.
(۲) محکمهٔ اختصاصی اطفال درخواست سرپرستی مندرج فقره (۱) این ماده را غرض انجام تحقیقات لازم و ارایهٔ معلومات به مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی ارسال و مؤسسات مربوط مکلف اند گزارش تحقیقات را به محکمه ارائه نمایند.
(۳) محکمهٔ اختصاصی اطفال باحضورداشت طفل، والدین، شخص درخواست دهنده و نمایندهٔ مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی در مورد تعیین سرپرست قانونی تصمیم لازم اتخاذ می‌نماید.

د سرپرست واک

نهه پنځوسمه ماده:
(۱) هغه شخص چې د قانوني سرپرست په توګه ټاکل شوی دی، د بیا حکم تر صادرېدو پورې واک لري چې له طفل څخه ساتنه وکړي.
(۲) قانوني سرپرست د ټولو هغو

صلاحیت سرپرست

مادهٔ پنجاه و نهم:
(۱) شخصی‌که به حیث سرپرست قانونی تعیین گردیده است، الی صدور حکم مجدد صلاحیت دارد از طفل نگهداری نماید.
(۲) سرپرست قانونی دارای کلیه

واکونو او مسئولیتونو لرونکی دی چې والدین یې لري.
د طفل لپاره د نفقې برابرول او درېیم شخص ته د اوښتي زیان جبرانول لدې حکم څخه مستثني دي.

صلاحیت ها و مسئولیت های والدین طفل می‌باشد.
تهیه نفقه برای طفل و جبران خساره ضرر وارده به شخص سوم از این حکم مستثنی است.

د سرپرست مسئولیت
شپېتمه ماده:
د طفل قانوني سرپرست په مدني قانون کې د درج شوو مکلفیتونو برسېره د لاندې مسئولیتونو لرونکی هم دی:
۱- د طفل د شخصي منقولو او غیر منقولو شتمنیو څخه ساتنه او پدې هکله د لازمو ساتنیزو (حفاظتی) تدبیرونو نیول.
۲- د طفل د منقول او غیرمنقولو مالونو نه پلورل، خو دا چې محکمه د هغه په پلورلو باندې تصمیم و نیسي.
۳ د هغو پیسو یا اجناسو تر لاسه کول چې د طفل د نفقې لپاره د والدینو، ولي یا د هغه د قانوني وکیل په نامه رالېږل شوي دي، پدې شرط چې قانوني سرپرست تر لاسه شوې پیسې یا اجناس یواځې

مسئولیت سرپرست
مادۀ شصتم:
سرپرست قانونی طفل بر علاوه مکلفیت های مندرج در قانون مدنی دارای مسئولیت های آتی نیز می‌باشد:
۱- مواظبت از دارائی منقول و غیر منقول شخصی طفل و اتخاذ تدابیر لازم حفاظتی در زمینه.
۲- عدم فروش اموال منقول و غیر منقول طفل مگر اینکه محکمه به فروش آن تجویز اتخاذ نماید.
۳- دریافت پول یا اجناسیکه برای نفقۀ طفل عنوانی والدین، ولی یا وکیل قانونی وی ارسال گردیده، مشروط براینکه سرپرست قانونی، پول یا اجناس دریافت شده را صرف

د طفل د اوسنیو ارتیاوو د لیرې کولو لکه نفقې، ښوونې یا د هغه د ساتنې لپاره و لګوي او اضافي پیسې د هغه د راتلونکې لپاره زېرمه کړي.

۴- د طفل له پیسو او شتمنیو څخه شخصي ګټه نه اخیستل، خو داچې محکمې د هغه د خدمتونو د ترسره کولو په مقابل کې یو مبلغ ټاکلی وي.

۵- د هغو اشخاصو پر علیه د قانوني اقداماتو نیول چې د قانوني ژمنو په ترسره کولو یا د طفل د ټولنیزې هوسایني په ترسره کولو ژمن وي.

۶- د طفل د تحصیلي، ټولنیزو او نورو فعالیتونو د آسانتیاوو د برابرولو په هکله د قانوني اقداماتو نیول.

۷- محکمې ته د آدرس د بدلون په هکله تر څوارلس ورځو پورې د خبر ورکول.

۸- د اطفالو اختصاصي محکمې ته د طفل د چلند، سلوک او اصلاح کېدو د حالاتو د ټولو جزئیاتو په هکله په هرو دریو میاشتو کې د رپوټ ورکول.

برای رفع ضروریات فعلی طفل مبنی برنفقه، تعلیم یا مواظبت از وی مصرف وپول اضافی را برای آیندۀ آن ذخیره نماید.

۴- عدم استفادۀ شخصی از پول و دارائی طفل مگر اینکه محکمه در مقابل انجام خدمات وی مبلغی را تعیین نموده باشد.

۵- اتخاذ اقدامات قانونی علیه اشخاصی‌که متعهد به ایفای تعهدات قانونی یا بهبود رفاه اجتماعی طفل باشد.

۶- اتخاذ اقدامات قانونی در رابطه به فراهم نمودن تسهیلات تحصیلی، اجتماعی وسایر فعالیت های طفل.

۷- اطلاع تغییر آدرس الی مدت چهارده روز به محکمه.

۸- ارایۀ گزارش رفتار، سلوک و حالات اصلاح پذیری طفل با تمام جزئیات آن در هر سه ماه به محکمۀ اختصاصی اطفال.

رپـوټ بایـد د طفـل د روانـي او روغتیایي انکشافاتو لرونکی وي.

گـزارش بایـد حـاوی انکـشافات روانی و صحی طفل باشد.

د سرپرستۍ د موضوع څېړل

یو شپېتمه ماده:

(۱) محکمه د دولس کلنۍ څخه د لږ سن لرونکو اطفالو د قانوني سرپرستۍ موضوع په میاشت کې یو ځل او له دولس کلنۍ سن څخه پورته په هرو دریو میاشتو کې څېړي.

(۲) محکمه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي طفل د سرپرستۍ د موضوع د څېړنې په وخت کې لاندې ټکي په پام کې نیسي:

۱- د سرپرست لخوا طفل ته د ټولنیزې هوسایني د لازمو آسانتیاوو برابرول.

۲- د سرپرستۍ د دوام ارزیا.

۳- د طفل د ټولنیزې هوسایني د برابرولو ددوام لپاره د قانوني سرپرست اشتیاق او توان.

۴- د سرپرست لخوا د طفل پرټولنیزې هوسایني باندې د سرپرستۍ د دوام اغېزه.

۵- د سرپرستۍ په هکله د محکمې د نظر وړ نور عوامل.

بررسی موضوع سرپرستی

مادۀ شصت و یکم:

(۱) محکمه موضوع سرپرستی قانونی اطفال کمتر از سن دوازده سالگی را ماه یکبار و بلندتر از سن دوازده سالگی را در هر سه ماه بررسی می‌نماید.

(۲) محکمه حین بررسی موضوع سرپرستی اطفال مندرج فقره (۱) این ماده نکات ذیل را رعایت می‌نماید:

۱- فراهم آوری تسهیلات لازم برای رفاه اجتماعی طفل توسط سرپرست.

۲- ضرورت ادامۀ سرپرستی.

۳- اشتیاق و توانائی سرپرست قانونی مبنی بر ادامۀ فراهم آوری رفاه اجتماعی طفل.

۴- تأثیر ادامۀ سرپرستی بالای رفاه اجتماعی طفل توسط سرپرست.

۵- سایر عوامل مورد نظر محکمه در قسمت سرپرستی.

(۳) د ټولنیزو خدمتونو اختصاصي مؤسسې مکلفې دي چې د محکمې د لارښوونې مطابق ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو مطالبو په هکله لازمې کتنې ترسره کړي او پدې اړه خپل رپوټ اړوندې محکمې ته وړاندې کړي.

(۴) د اطفالو اختصاصي محکمه کولای شي ددې مادې په (۲ او ۳) فقرو کې د درج شوو څېړنو له بشپړېدو وروسته د سرپرستۍ د دوام یا لغوه کولو په هکله تصمیم و نیسي.

(۳) مؤسسات اختصاصی خدمات اجتماعی مکلف اند مطابق هدایت محکمه مطالعات لازم را در مورد مطالب مندرج فقره (۲) این ماده انجام داده وگزارش خویشرا در زمینه به محکمهٔ مربوط ارائه نمایند.

(۴) محکمهٔ اختصاصی اطفال می‌تواند بعد از تکمیل بررسی های مندرج فقره های (۲) و (۳) این ماده در مورد ادامه یا لغو سرپرستی تصمیم اتخاذ نماید.

د سرپرستۍ د حکم لغو

دوه شپېتمه ماده:

که چېرې والدین یا یو له هغو څخه د سرپرستۍ د ځای ناستي په هکله د محکمې لارښوونې په بشپړه توګه رعایت کړي وي، پدې صورت کې محکمه کولای شي، سرپرستي لغوه او والد یا والدینو ته یې د طفل د بیا ورتګ په هکله د سرپرستۍ د وخت د ختمېدو څخه شپږمیاشتې دمخه حکم صادر کړي.

لغو حکم سرپرستی

مادهٔ شصت و دوم:

هرگاه والدین یا یکی از آنها هدایات محکمه را مبنی بر جاگزینی سرپرستی کاملاً رعایت نموده باشد درین صورت محکمه می‌تواند سرپرستی را لغو و حکم بازگشت مجدد طفل را به والد یا والدین اش شش ماه قبل از میعاد سرپرستی صادر نماید.

اتم فصل
وروستني حکمونه

د حکم تنفيذ

دري شپېتمه ماده:

د اطفالو په اړه د محکمو وروستني او قطعي حکمونه واجب التنفيذ دي، هر هغه څوک چې په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه له هغه څخه اطاعت و نه کړي يا د هغه په تطبيقولو کې، خنډ را منځ ته کړي او يا د هغه په قانوني اجراآتو کې مداخله وکړي، د قانون د حکمونو مطابق مجازات کېږي.

د نورو نافذوقوانينو د حکمونو رعايتول

څلور شپېتمه ماده:

په هغه صورت کې چې د اطفالو د قضيو د رسيدګۍ په هکله پدې قانون کې کوم حکم نوي اتکل شوی، موضوع د نافذه قوانينو د حکمونو مطابق تر رسيدګۍ لاندې نيول کېږي.

فصل هشتم
احکام نهائی

تنفيذ حکم

مادۀ شصت و سوم:

احکام نهائی و قطعی محاکم در رابطه به اطفال واجب التنفيذ بوده، هر شخصی‌که بطور مستقيم يا غير مستقيم از آن اطاعت ننمايد يا در تطبيق آن موانع ايجاد و يا در اجراآت قانونی آن مداخله کند، مطابق احکام قانون مجازات می‌گردد.

رعايت احکام ساير قوانين نافذه

مادۀ شصت و چهارم:

درصورتی‌که حکمی در مورد رسيدگی به قضايای اطفال در اين قانون پيشبينی نگرديده باشد، موضوع مطابق احکام قوانين نافذه مورد رسيدگی قرار می‌گيرد.

مؤقت مدافع وکیل

پنځه شپېتمه ماده:

تر هغه ځایه چې په اوسني وخت کې په هېواد کې مدافع وکیلان په کافي شمېر کې وجود نلري مظنون یا تورن طفل کولای شي تحصیل لرونکو اشخاصو ته چې په حقوقي قضایاوو کې عالم وي، مراجعه وکړي. پدې منظور د هرې محکمې رئیس د شرایطو لرونکو اشخاصو لست چې په مرکز کې د عدلیې وزارت او په ولایتونو کې د دولت د قضایاو و د ادارو لخوا، د استیناف محاکمو ته ور پېژندل کېږي، برابروي.

وکیل مدافع مؤقت

مادۀ شصت و پنجم:

از آن جائیکه در حال حاضر در کشور وکلای مدافع به تعداد کافی وجود ندارند، طفل مظنون یا متهم می‌تواند به اشخاص تحصیل یافته که به قضایای حقوقی عالم باشند، مراجعه نماید. به این منظور رئیس هر محکمه لست اشخاص واجد شرایط را که در مرکز از طرف وزارت عدلیه و در ولایات ازطرف ادارات قضایای دولت به محاکم استیناف معرفی می‌شوند، ترتیب می‌نماید.

د انفاذ نېټه

شپږشپېتمه ماده:

دغه قانون د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي او د هغه په نافذېدو سره مغایر حکمونه لغوه کېږي.

تاریخ انفاذ

مادۀ شصت و ششم:

این قانون از تاریخ توشیح نافذ و در جریدۀ رسمی نشر گردد و با انفاذ آن احکام مغایر ملغی می‌گردد.

قانون جزای عسکری

دعسکرۍ جزا دقانون دتوشیح په هکله د افغانستان داسلامي جمهوریت د رئیس فرمان
ګڼه :(۹)
نېټه : ۱۳۸۷/۱/۲۸

لومړۍ ماده :
دافغانستان داساسي قانون دځلورشپېتمې مادې د (۱۶) فقرې او سلمې مادې له مخې ،په (۳) فصلونو او (۴۸) مادوکې دعسکري جزا دقانون د تصویب په اړه د ا . ا . ج دملي شوري دولسي جرګې او مشرانو جرګې د ګډ هیئت (۸۳) ګڼه پربکړه لیك ، توشیح کوم .

دوه یمه ماده :
دغه فرمان دتوشیح له نېټې څخه نافذ او له پربکړې سره یوځاي دې په رسمي جریده کې خپورشي .

حامد "کرزی "
دافغانستان داسلامي جمهوریت رئیس

فرمان
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد توشیح قانون جزای عسکری
شماره : (۹)
تاریخ ۱۳۸۷/۱/۲۸

مادۀ اول :
به تأسی ا زحکم فقره (۱۶) ماده شصت و چهارم و ماده صدم قانون اساسي افغانستان ، فیصله شماره (۸۳) هیئت مختلط ولسی جرګه و مشرانو جرګه شورای ملی ج . ا . ا را مبنی برتصویب قانون جزای عسکری در (۳) فصل و (۴۸) ماده توشیح می دارم .

مادۀ دوم :
این فرمان ازتاریخ توشیح نافذ و همراه با فیصله درجریدۀ رسمی نشر گردد.

حامد "کرزی "
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوريت
ملي شوري
دعسکري جزادقانون په هکله
دملي شوري مصوبه

ګڼه :(۸۳)
نېټه : / /۱۳۸۷

داساسي قانون دسلمې مادې دحکم مطابق ،دملي شوري ګډه هيئت (دهرې جرګې له دريو دريوغړوڅخه جوړ) دعسکري جزا قانون په (۳) فصلونو او(۴۸) مادو کې د ۱۳۸۶ کال دکب دمياشتې په نهمه نېټه تصويب کړ.

دګډ هيئت رئيس
عبدالهادي "صافي"
دګډ هيئت منشي
منور "نظامي "

جمهوری اسلامی افغانستان
شورای ملی
مصوبهٔ شورای ملی درمورد قانون جزای عسکری

شماره : (۸۳)
مؤرخ : / /۱۳۸۷

مطابق حکم مادهٔ صدم قانون اساسی ،هیئت مختلط شورای ملی (مرکب از سه سه عضو از هرجرگه) قانون جزای عسکری را به تاریخ ۹ ماه حوت سال ۱۳۸۶ در(۳) فصل و (۴۸) ماده تصویب نمود.

رئیس هیئت مختلط
عبدالهادی "صافی"
منشی هیئت مختلط
منور "نظامی "

دعسکري جزا قانون
لومړی فصل
عمومي حکمونه

مبني
لومړی ماده:

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اووه ویشتمې مادې دحکم پربنسټ په مسلحو قواوو (ملي اردو) کې دقانونیت، نظم،دسپلین او انضباط دتحکیم لپاره دعسکري منسوبانو د دنده ایزو جرمونو دټاکلو او دهغو د مرتکبینو دمجازاتولو په منظور، وضع شوی دی.

دعسکري جرمونو مفهوم
دوه یمه ماده :

عسکري جرمونه په دې قانون کې دقابلیت او دمسلحو قواوو دمحاربوي احضاراتو او دعسکري خدمت په ترسره کولو کې دټاکلي نظم،دسپلین اوانضباط پرضد جرمونه شامل دي.

قانون جزای عسکری
فصل اول
احکام عمومی

مبنی
مادۀ اول :

این قانون به تأسی از حکم مادۀ بیست و هفتم قانون اساسی افغانستان به منظور تعیین جرایم وظیفوی منسوبین عسکری و مجازات مرتکبین آن جهت تحکیم قانونیت، نظم، دسپلین و انضباط درقوای مسلح (اردوی ملی)، وضع گردیده است.

مفهوم جرایم عسکری
مادۀ دوم:

جرایم عسکری در این قانون شامل جرایم علیه قابلیت و احضارات محاربوی قوای مسلح نظم، دسپلین و انظباط در انجام خدمت عسکری می‌باشد.

اصطلاحګاني

دربيمه ماده:

لاندې اصطلاحګاني په دې قانون کې دلاندې مفاهيمو لرونکې دي:

۱- عسکري منسوب: افسران، دقطعې او مکتبي واړه ضابطان، دنظامي تعليمي مؤسسو طلاب، سرتيري او نورهغه اشخاص چې په محاربه کې د مسلحو قواوو مرسته کوي.

۲- د جګړې حالت: دافغانستان دمسلحو قواوو او د دښمن دقواوو ترمنځ دخصومت حالت دی.

۳- دمحاربې حالت: له دښمنوګروپونو سره دمسلحو قواوو دقطعې او عسکري جزوتام با لفعل تصادم دی ياهغه حالت دی چې عسکري قطعې او جزوتامونه د دښمن د دفع او طرد يامأتې په غرض توظيف شوي وي. دغه حالت له پيل څخه ترپايه پورې محاربوي دنده احتوا کوي.

۴- د سفرحالت: عسکري سوقيات او حرکتونه دي چې دهېواد کورنی آسايش يانامنيت دهغو ايجاب کوي او له دښمن سره تصادم واقع شوی نه وي.

اصطلاحات

مادۀ سوم:

اصطلاحات آتی در این قانون دارای مفاهیم ذیل می باشد:

۱-منسوب عسکری: افسران، خورد ضابطان قطعه و مکتبی، طلاب مؤسسات تعلیمی نظامی، سربازان و سایر اشخاصی که قوای مسلح را در محاربه همراهی می‌کنند.

۲- حالت جنگ: حالت خصومت میان قوای مسلح افغانستان و قوای دشمن می باشد.

۳- حالت محاربه : تصادم بالفعل قطعه و جزو تام عسکری قوای مسلح با گروپ‌های دشمن بوده یا حالتی است که قطعات و جزو تام‌های عسکری غرض دفع و طرد یا شکست دشمن توظیف شده‌اند. این حالت از شروع الی ختم وظیفۀ محاربوی را احتوا می‌نماید.

۴- حالت سفر: سوقیات و حرکات عسکری بوده که آسایش داخلی یا امنیت کشور ایجاب آنرا می‌نماید و تصادم با دشمن واقع نگردیده باشد.

۵- دحضرحالت: دجګړې، محاربې او سفر له حالتونو څخه پرته حالت دی.

۶- درانه عواقب: دمحاربوي دندې دترسره کولو ناشوني کېدل، لويه مالي خساره (له يوملیون افغانيو څخه زياته)، دوسايطو دتخريب او انهدام په اثر دقطعې يا جزوتام دمحاربوي احضاراتو او قابليت دسطحې کښته راتګ، ځاني تلفات، حريق، دعسکري زېرمتونونو (دیپوګانو) او نورو تأسيساتو تخريبېدل دي.

۷-زيان بخښونکي عواقب: مالي ډېرزيات زيان له سل زره څخه تريو ملیون افغانيو پورې ، داشخاصو جسمي جراحت او دوسايطو عارضه داره کول دي.

۸- دپام وړ ضرر:له لس زرو څخه ترسل زرو افغانيو پورې دمحاربوي تاکلې دندې د ترسره کولو اخلالول، په قطعې يا جزوتام کې دعسکري نظم او انضباط جدي تضعيفول، دعسکري تخنيک او نورو تجهيزاتو له منځه وړل او عارضه داره کول.

۹- مصادره: دمنقولو او

۵- حالت حضر: به غير از حالات جنگ، محاربه و سفر می باشد.

۶- عواقب سنگين: بهم خوردن اجرای وظيفۀ محاربوی، خسارۀ بزرگ مالی بيشتر از يك مليون افغانی، پايين آمدن سطح احضارات و قابليت محاربوی قطعه يا جزوتام بالاثر تخريب و انهدام وسايط، تلفات جانی، حريق، تخريب ديپوها و ساير تأسيسات عسکری می باشد.

۷-عواقب زيان بخش: خسارات هنگفت مالی مبلغ يك صد هزار افغانی الی يك مليون افغانی، جراحت جسمی اشخاص و عارضه دار ساختن وسايط می باشد.

۸- ضرر قابل ملاحظه: مبلغ ده هزار الی يك صد هزار افغانی، اخلال اجرای وظيفۀ مشخص محاربوی، تضعيف جدی نظم و انضباط عسکری در قطعه يا جزوتام، از بين بردن يا عارضه دار ساختن تخنيك و ساير تجهيزات عسکری می باشد.

۹- مصادره: سلب مالکيت دايمی

غیرمنقولـو وجوهـو او شـتمنیو دمالکیـت سـلبېدل دي چـې د واکمنې محکمې د وروستنې حکم په اساس صورت مومي او دهغه په موجب وجوه او شتمنی د هغو له مثبته سندونو سره دولت ته لېږدول کېږي.

وجـوه و دارایـی هـای منقـول و غیرمنقول بوده که به اساس حکم نهـایی محکمـۀ ذیـصلاح صـورت گرفتـه و بـه موجـب آن وجـوه و دارایـی هـا بـا اسـناد مثبتـۀ آن بـه دولـت انـتقال می‌نماید.

د قانون دتطبیق ساحه داشخاصو له حیثه

څلورمه ماده:

ددې قـانون حکمونـه پـه لانـدې اشخاصو باندې د تطبیق وړ دي:

۱-هغه شخص‌چې‌عسکري تحلیف (سوګند) ئې پرځای کړی وي.

۲-هغه شخص چې قانوني سن ئې بشپړکړی او په داوطلبانه توګه اویا دقانون دحکم او عسکری مکلفیت پـه اسـاس دمـسلحو قـواوو پـه صفوفوکې شامل شوی وي.

۳- هغـه شـخص چـې د مـسلحو قـواوو برحـال منـسوب وي او دخدمت موده ئې دقانون دحکمونو مطابق بشپړه شوې نه وي.

۴- هغـه شـخص چـې د احتیـاط قوتونوتـه منـسوب وي او دبرحـالی په وخت کې د جرمي عمل مرتکب

سـاحۀ تطبیـق قـانون از حیـث اشخـاص

مادۀ چهارم:

احکـام ایـن قـانون بـالای اشـخاص ذیل قابل تطبیق می باشد:

۱- شخـصی کـه تحلیـف عـسکری را به جا نموده باشد.

۲- شخـصی کـه سـن قـانونی را تکمیل و به طور داوطلبانه و یا بـه اسـاس حکـم قـانون و یـا مکلفیـت عـسکری شـامل صـفوف قـوای مسلح گردیده باشد.

۳- شخـصی کـه منـسوب برحـال قوای مسلح بوده و میعـاد خدمت وی طبـق قـانون تکمیـل نگردیـده باشد.

۴- شخصی که منسوب قوت‌های احتیـاط بـوده و در زمـان بـر حـالی مرتکـب عمـل جرمـی

ګرځېدلی او د تحقیقاتو د ترسره کولو او محاکمې په خاطر دعسکري محکمې په واسطه احضار ېږي.

۵- هغه شخص چې د تزویري سندونو څخه په ګټه اخستنه ئې خپل انفکاک دمسلحو قواوو له صفوفو څخه ترلاسه کړی وي.

۶- هغه شخص چې دمسلحو قواوو له صفوفو څخه تښتېدلی او نیول شوی وي.

۷- جنګي اسیران او هغه افراد چې دمسلحوقواوو ترنظارت لاندې قرارولري او یا خپله دحبس موده دمسلحوقواوو په محبس کې تېروي.

۸- هغه اشخاص چې دهغوی دجرمي قضیو دځېرلو واک دهېواد دنافذو قوانینو او نړیوالو پیمانونو او موافقت لیکونو مطابق عسکري محکمې ته تفویض شوي وي.

گردیده و به خاطر انجام تحقیقات و محاکمه توسط محکمۀ عسکری احضار می گردد.

۵- شخصی که با استفاده از اسناد تزویری انفکاك خود را از صفوف قوای مسلح حاصل نموده باشد.

۶-شخصی که از صفوف قوای مسلح فرار نموده و گرفتار گردیده باشد.

۷- اسرای جنگی و افرادی که تحت نظارت قوای مسلح قرار داشته و یا مدت حبس خویش را در محبس قوای مسلح سپری می‌نمایند.

۸- اشخاصی که صلاحیت رسیدگی قضایای جرمی آنها طبق قوانین نافذۀ کشور و پیمان ها و موافقتنامه های بین‌المللی، به محکمۀ عسکری تفویض شده باشد.

دعسکري رتبې تنزیل اوکسرمعاش

پنځمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب دهغه جرم مرتکب شي چې

تنزیل رتبۀ عسکری و کسرمعاش

مادۀ پنجم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری مرتکب جرمی شود که مجازات آن

مجازات ئې دشپږ و میاشتو څخه تریوه کاله پورې حبس وي، عسکري محکمه کولای شي دحبس دمجازاتو په عوض دهغه دیوې رتبې په تنزیل حکم وکړي.

(۲) که چېرې عسکري منسوب هغه جرم مرتکب شي چې جزائې ترشپږومیاشتو پورې حبس وي. عسکري محکمه کولای شي د حبس دجزاء په عوض دمعاش د یوپردرېمې برخې په کسرتر شپږومیاشتو حکم وکړي. دمحکوم علیه کسر شوی معاش، د دولت دعوایدو په حساب، بانک ته تحویلېږي.

طرد

شپږمه ماده:

که چېرې افسر، دقطعې یا مکتبي وړوکی ضابط دهغه جرم مرتکب شي چې مجازات ئې اوږد حبس له لسو کالونوڅخه زیات، دوام حبس یا اعدام وي، داصلي مجازاتو برسېره، دلاندې حقوقو او امتیازونو څخه هم محرومېږي:

۱- په مسلحو قواوو (ملي اردو) کې خدمت.

حبس از شش ماه الی یک سال باشد، محکمهٔ عسکری می‌تواند به عوض مجازات حبس به یک رتبه تنزیل وی حکم نماید.

(۲) هرگاه منسوب عسکری مرتکب جرمی شود که جزای آن حبس الی شش ماه باشد. محکمهٔ عسکری می‌تواند به عوض جزای حبس به کسر یک بر سه حصه معاش الی شش ماه حکم نماید. معاش کسر شدهٔ محکوم علیه به حساب عواید دولت تحویل بانک می‌شود.

طرد

مادهٔ ششم :

هرگاه افسر، خورد ضابط قطعه یا مکتبی مرتکب جرمی گردد که مجازات آن حبس طویل بیش از ده سال، حبس دوام یا اعدام باشد، علاوه برمجازات اصلی، از حقوق و امتیازات آتی نیز محروم می‌گردد:

۱- خدمت درقوای مسلح (اردوی ملی).

۲- د عسکري علایمو استعمالول، دنښانونواومدالونو تعلیق ، د دولتي لقبونو او نورو امتیازونو څخه ګټه اخستنه.
۳- په نورو دولتي ادارو کې داستخدام حق.
۴- په پارلمان ، ولایتي، ولسوالیو او ښاروالیو په شوري ګانو کې غړیتوب.
۵-دتقاعد حقوق.

۲- استعمال علایم عسکری، تعلیق نشانها و مدالها ، استفاده از القاب و سایر امتیازات دولتی.
۳- حق استخدام در سایر ادارات دولتی.
۴- عضویت در پارلمان، شوراهای ولایتی، ولسوالی وشاروالی‌ها.
۵- حقوق تقاعد.

له دندې څخه ګوښه کېدل (برطرفي)
اوومه ماده:
(۱)که چېرې افسر، دقطعې یا مکتبي وړوکی ضابط دهغه جرم مرتکب شي چې مجازات ئې له یو کال څخه زیات متوسط حبس وي، دحبس دمجازاتودتطبیق برسېره، محکمه کولای شي د احوالو سره سم هغه له دندې څخه ګوښه کړي او داګوښه والی له ملي اردو څخه دبرطرفي درلودونکی دی چې د هغې پر اساس په حبس باندې محکوم شخص تقاعد ته سوق کېږي.
(۲) افسران ،دقطعې یا مکتبي وړوکي ضابطان او دملي اردو

برطرفی از وظیفه
مادۀ هفتم:
(۱) هرگاه افسر، خورد ضابط قطعه یا مکتبی مرتکب جرمی شود که مجازات آن حبس متوسط بیشتر از یك سال باشد ، علاوه برتطبیق مجازات حبس، محکمه می‌تواند حسب احوال وی را از وظیفه سبکدوش نماید و این سبکدوشی دربرگیرندۀ برطرفی از اردوی ملی بوده که براساس آن شخص محکوم به حبس به تقاعد سوق می‌گردد.
(۲) افسران، خورد ضابطان قطعه یا مکتبی و سربازان اردوی

سربازان چې د جرم د ارتکاب پر اساس د صلاحیت درلودونکې محکمې په وروستنې حکم د یوکال تنفیذی حبس په جزا محکوم شوي وي ،خپل محکوم بها حبس دمقررې له مخې په خپله اړونده قطعه کې تیروي.

ملی که براساس ارتکاب جرایم به حکم نهایی محکمه ذیصلاح به جزای الی یك سال حبس تنفیذی محکوم به مجازات شوند ، حبس محکوم بها خویش را طبق مقرره درقطعۀ مربوطه سپری می نمایند.

دمصادرې حکم

اتمه ماده:

(۱) محکمه کولای شي په هغو مواردو کې چې قانون مصادره دجزاپه توګه نه وي اټکل کړي، دهغو شیانو په مصادرې چې د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلي یا دهغه په ارتکاب کې استعمال شوي یا دجرم په ارتکاب کې داستعمال په قصدبرابرشوي وي،حکم وکړي.

(۲)محکمه مکلفه ده چې د جزا دقانون د(۱۳۲) مادې په رعایتولو سره هغه شیان چې وړاندي کول ، خرڅول ،ساتل او استعمال یې په خپل ذات کې جرم وي ،مصادره کړي.

حکم مصادره

مادۀ هشتم:

(۱)محکمه می تواند درمواردی که قانون مصادره را به حیث جزا پیشبینی نکرده باشد ، به مصادرۀ اشیایی که از ارتکاب جرم به دست آمده یا در ارتکاب آن استعمال گردیده و یا به قصد استعمال در ارتکاب جرم تهیه شده باشد ،حکم نماید.

(۲) محکمه مکلف است با رعایت مادۀ (۱۳۲) قانون جزا اشیایی را که عرضه، فروش، نگهداشت و استعمال آن به ذات خود جرم تلقی می گردد ، مصادره نماید.

په عسکري جرمونو کې ګډون او دهغو پټول (کتمان)

نهمه ماده:

دعسکري جرم د ارتکاب سازمان ورکوونکی ، محرک یا شریک او یاهغه شخص چې دجرم د ارتکاب آلات او وسیلې برابرې کړي او یا یې دمجرم په پټولو (اختفا) کې له مخکې نه توافق کړی وي لاس پورې کړي،اصلي مرتکب ته په اټکل شوې عین جزاء محکومېږي.

اشتراک در جرایم عسکری و کتمان آن

مادۀ نهم:

سازمانده، محرک و شریک در ارتکاب جرم عسکری یا شخصی که آلات و وسایل ارتکاب جرم را فراهم می نماید و یا به اختفای مجرم قبلاً توافق نموده باشد ، به عین جزای پیش بینی شده برای مرتکب اصلی محکوم می گردد.

دزیان(خسارې) جبرانول

لسمه ماده:

که چېرې عسکري منسوب په دې قانون کې د درج شویو جرمونو د ارتکاب په اثر زیان واردکړي ، د وارد شوي زیان په جبرانولو هم محکومېږي.

جبران خساره

مادۀ دهم:

هرگاه منسوب عسکری بالاثر ارتکاب جرایم مندرج این قانون خساره ای وارد نماید به جبران خسارۀ وارده نیز محکوم می گردد.

دحبس دمجازاتو تعلیقول

یوولسمه ماده:

که چېرې عسکري منسوب هغه جرم مرتکب شي چې جزائې په دې قانون کې تردوو کلونو پورې حبس ښودل شوي وي، عسکري محکمه دمحکوم اخلاقو، سوابقو او سن او

تعلیق مجازات حبس

مادۀ یازدهم:

هرگاه منسوب عسکری مرتکب جرمی گردد که جزای آن در این قانون حبس الی دو سال پیش بینی شده باشد ، محکمۀ عسکری نظر به اخلاق، سوابق و سن محکوم

یا نورو احوالو ته په پام سره چې د جرم د ارتکاب سبب شوي، متیقنه شي چې هغه بیا دجرم نه مرتکب کېږي، کولای شي دحکم دتنفیذ په تعلیق تصریح وکړي.
دحکم دتنفیذ دتعلیق نورې اړوندې چارې او دهغه لغوه کېدل دجزاء دقانون دحکمونو مطابق صورت مومي.

دوه یم فصل
جرمونه او مجازات

له دنده ایز خدمت څخه دعسکري منسوب تعلل

دوولسمه ماده:
(۱) که چېرې عسکري منسوب ددنده ایز خدمت دترسره کولو څخه خپلې روغتیاته دعمدي ضرر د واردولو، تمارض، دتزویري سندونودوړاندې کولو، دمؤظف شخص د تطمیع کولو او یابلې حیلې او غولونې په وسیله، تعلل وکړي، داحوالو سره سم له دووڅخه ترڅلوروکلونو پرې حبس، محکومېږي.
(۲) که چېرې ددې مادې په (۱)

و یا احوال دیگری که سبب ارتکاب جرم گردیده، متیقن شود که وی دوباره مرتکب جرم نمی‌گردد، می‌تواند به تعلیق تنفیذ حکم، تصریح نماید.
سایر امور مربوط به تعلیق تنفیذ حکم و الغای آن مطابق احکام قانون جزا صورت می‌گیرد.

فصل دوم
جرایم ومجازات

تعلل منسوب عسکری از خدمت وظیفوی

مادۀ دوازدهم:
(۱) هرگاه منسوب عسکری از انجام خدمت وظیفوی به وسیلۀ وارد نمودن ضرر عمدی به صحت خود، تمارض، ارایۀ اسناد مزور، تطمیع شخص مؤظف یا حیله و فریب دیگری تعلل نماید، حسب احوال به حبس از دو الی چهار سال، محکوم می‌گردد.
(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱)

فقره کې درج شوی جرم ، دسفرياجګړې يامحاربې په حالت کې ارتکاب شي ، مرتکب د احوالو سره سم له څلورو څخه ترلسو کلونو پورې دحبس په جزاء،محکومېږي.

ایـن مـاده درحالـت سـفر یـا جنـگ یـا محاربـه ارتکـاب یابـد ، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس از چهـار الـی ده سـال محکـوم می‌گردد.

دعسکري منسوب پخپل سرغیابت

دیارلسمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب له رخصتی ،د روغتیائي مؤسسو خد متی یا دتعییناتو یاتبدیلیو په اثنا کې دمؤجه عذر پرته خپلې قطعې یا دخدمت محل ته حاضر نشي او یا له خپلي وظیفې څخه په خپل سر غایب او دهغه غیابت له یوې څخه ترشپږو میاشتو پورې دوام وکړي، د احوالو سره سم دشپږومیاشتو څخه تریوه کاله پورې په حبس یا په نقدي جزاء چې له درې زره څخه لږ او له لسو زرو افغانیو څخه زیاته نه وي، محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱) فقـره کـې درج شـوی جـرم ، لـه شپږومیاشـتو څخـه زیـات وي، مرتکـب د احوالـو سره سم لـه یـوه

غیابت خودسرانۀ منسوب عسکری

مادۀ سیزدهم:

(۱) هرگـاه منـسوب عـسکری از رخـصتی، خـدمتی مؤسـسات صـحی یـا در اثنـای تعیینـات و تبدیلات بدون عذر موجه به قطعه یـا محـل خـدمت خـود حاضـر نـشود و یـا از وظیفـه خـود سـرانه غایـب و غیابـت وی از یـك الـی شـش مـاه دوام نمایـد ، حـسب احـوال بـه حـبس از شش مـاه الـی یـك سـال یـا جـزای نقدی کـه از سـه هـزار کمتـر واز ده هـزار افغـانی بیـشتر نباشد ، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگـاه جـرم منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده بـیش از شـش مـاه باشـد مرتکـب، حـسب احوالـل بـه حـبس از یـك

څخه تردې کلونو پورې په حبس یادلسو څخه ترشلوزرو افغانیو پورې په نغدي جزاء، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او۲) فقرو کې درج شوي جرمونه دسفرپه حالت کې ارتکاب شي او په خپل سرغیابت له دریو شپو او ورځو څخه زیات وي، مرتکب د احوالو سره سم له یوه څخه ترڅلورو کلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

دسفریاجګړې یامحاربې په حالت کې دقطعې دپخپل سر ترکول څوارلسمه ماده:

که چېرې عسکري منسوب دسفریا جګړې یا محاربې په حالت کې په خپل سرقطعه یا دخدمت محل ترک کړي، دهغه دمودې له په پام کې نیولو پرته، د احوالو سره سم دیوه څخه ترپنځه کلونوپورې په حبس محکومېږي.

الی سه سال یا جزای نقدی از ده الی بیست هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه جرایم مندرج فقره‌های (۱و۲) این ماده در حالت سفر ارتکاب یابد و غیابت خودسرانه بیشتر از سه شبانه روز باشد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس ازیك الی چهار سال محکوم می‌گردد.

ترك خودسرانۀ قطعه در حالت سفر یا جنگ یا محاربه

مادۀ چهاردهم:

هرگاه منسوب عسکری خودسرانه قطعه یا محل خدمت را در حالت سفر یا جنگ یا محاربه ترك نماید، صرف نظر از مدت آن، حسب احوال به حبس از یك الی پنج سال محکوم می‌گردد.

تېښته

پنځلسمه ماده:

(۱) عسکري منسوب چې له دندې څخه عمداً په دایمي توګه وتښتي، داحوالوسره سم له دووڅخه ترپنځو کلونوپورې دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) په هغه صورت کې چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر یا جګړې یا محاربې په حالت کې ارتکاب شي، مرتکب د احوالو سره سم له پنځوڅخه ترپنځلسو کلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

وطن ته خیانت

شپاړسمه ماده:

(۱) دعسکري منسوبینو او ددې قانون د نورو تابع اشخاصو عمدي اعمال د استقلال، ارضي بشپړتیا، ملي حاکمیت او دافغانستان د اسلامي جمهوریت ددفاعي قدرت پرضد، وطن ته خیانت ګڼل کېږي اولاندې موردونه پکښې شامل دي:

۱- دښمن سره یوځای کېدل.

۲- دښمن ته د اثرلاندې نیروګانو

فرار

مادۀ پانزدهم:

(۱) منسوب عسکری که از وظیفه طور دایمی عمداً فرار نماید، حسب احوال به جزای حبس از دو الی پنج سال محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده در حالت سفر یا جنگ یا محاربه ارتکاب گردد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس پنج الی پانزده سال محکوم می‌گردد.

خیانت به وطن

مادۀ شانزدهم:

(۱) اعمال عمدی منسوبین عسکری و سایر اشخاص تابع این قانون علیه استقلال، تمامیت ارضی حاکمیت ملی و قدرت دفاعی دولت جمهوری اسلامی افغانستان، خیانت به وطن پنداشته شده وشامل موارد ذیل می‌باشد:

۱- پیوستن به دشمن.

۲-تسلیمی نیروهای تحت اثربه

تسلیمول.
۳- دښمن ته د مرستې په منظوردسلاح، محاربوي تخنیک، استحکاماتو او دجګړې دپرمخ بیولو دنورو وسیلو پرېښوول.
۴- د دولتي قدرت دنیولو په مقصد ، د دولت پرضد توطئه.
۵- د دولت پرضد دګټې اخستنی په غرض ، بهرني دولت ، دولتي ضد سازمانونو او دهغو جاسوسانوته دتسلیمولو په منظور دمسلحو قواوو، دوطن د دفاع په لاره کې دمحاربوي عملیاتو، داحضاراتو دنیولو، دهېواد د دفاعي وړتیا او دنورو معلوماتو غلاکول او دپټو معلوماتو ټولول.
۶- دمسلحو قواوو دمحاربوي وړتیا پرضد دعسکري منسوبانوپه منځ کې تبلیغات او دافغانستان اسلامي جمهوریت پرضد دهرډول خصمانه عملونو ترسره کول.
(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې ددرج شویو جرمونو یو له مرتکبینو څخه، داحوالو سره سم له پنځلسو څخه ترشل کلونوپورې دحبس په جزایا اعدام محکومېږي.
(۳) که چېرې عسکري منسوب دشمن.
۳- واگذاری سلاح، تخنیک محاربوی، استحکامات و سایر وسایل پیشبرد جنگ به منظور مساعدت به دشمن.
۴- توطئه علیه دولت به مقصد گرفتن قدرت دولتی.
۵- سرقت و جمع آوری معلومات سری راجع به قوای مسلح، عملیات محاربوی جهت دفاع از وطن، گرفتن احضارات، قابلیت دفاعی کشور و سایر معلومات غرض استفاده علیه دولت به منظور تسلیمی به دولت خارجی، سازمان های ضد دولتی یا جواسیس آنها.
۶- تبلیغات در بین منسوبین عسکری علیه قابلیت محاربوی قوای مسلح و انجام هر نوع اعمال خصمانه علیه جمهوری اسلامی افغانستان .
(۲) مرتکبین یکی از جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده، حسب احوال به جزای حبس از پانزده الی بیست سال یا اعدام محکوم می‌گردد.
(۳) هرگاه منسوب عسکری

دافغانستان اسلامي جمهوريت پرضد دخصمانه عملونو دترسره کولو لپاره ، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شويو عملونو په ارتکاب ، بهرني دولت ، دولتي ضد سازمان يا دهغوله جاسوسانو سره موافقه وکړي، په هغه صورت کې چې په عمل له اقدام مخکې دولتي ارګانونوته داوطلبانه له موضوع څخه خبرورکړي، له مجازاتو څخه معافېږي.

جهت اجرای اعمال خصمانه علیه جمهوری اسلامی افغانستان در ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده با دولت خارجی، سازمان ضد دولتی یا جواسیس آنها موافقت نماید در صورتی که قبل از اقدام به عمل، به ارگانهای دولتی داوطلبانه از موضوع اطلاع دهد ، از مجازات معاف می‌گردد.

د ډار او وهم له اثره تسليمېدل اووه لسمه ماده:

کـه چېرې عسکري منسوب د ډار او وهم له اثره دښمن ته تسليم شي، د احوالو سره سم له يوه څخه تر پنځوکلونوپورې دحبس په جزاء محکومېږي.

تسلیمی از اثر ترس و وهم مادهٔ هفدهم:

هرگاه منسوب عسکری از اثر ترس و وهم به دشمن تسلیم گردد ، حسب احوال به جزای حبس از یك الی پنج سال محکوم می‌گردد.

دمحاربې له صحنې څخه تېښته يادوسلې له استعمالولوڅخه امتناع اتلسمه ماده:

کـه چېرې عسکري منسوب د محاربې له صحنې څخه وتښتي يا دوسلې له استعمالولو څخه د محاربې په اثنا کې امتناع وکړي ،

فرار از صحنهٔ محاربه یا امتناع از استعمال سلاح مادهٔ هجدهم:

هرگاه منسوب عسکری از صحنهٔ محاربه فرار یا از استعمال سلاح در اثنای محاربه امتناع ورزد ، حسب

داحوالوسره سم له پنځوڅخه ترلسوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

احوال به جزای حبس از پنج الی ده سال محکوم می‌گردد.

دښمن ته دجګړې دپرمخ بیولو وسیلو پرېښودنه

نولسمه ماده:

که چېرې عسکري منسوب محاربوي تخنیک، وسله، استحکامات یا نور دجګړې دپرمخ بیولو وسایل دښمن ته چې دجګړې حالت هغه ایجاب نکړي او دهغه هدف وطن ته خیانت نه وي، پرېږدي، داحوالو سره سم له دووڅخه ترلسوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

واگذاری وسایل پیشبرد جنگ به دشمن

مادۀ نزدهم:

هرگاه منسوب عسکری تخنیك محاربوی، سلاح، استحکامات یا سایر وسایل پیشبرد جنگ را به دشمن که حالت محاربه آنرا ایجاب نکند و هدف آن خیانت به وطن نباشد، واگذار شود. حسب احوال به جزای حبس از دو الی ده سال محکوم می گردد.

نه اطاعت

شلمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب دآمردقانونی امرله ترسره کولو څخه صریحاً امتناع وکړي یا عمداً دهغه له ترسره کولو خودداري وکړي، دهغه دغه عمل نه اطاعت ګڼل کېږي، داحوال سره سم له شپږومیاشتو څخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

عدم اطاعت

مادۀ بیستم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری از اجرای امر قانونی آمر صریحاً امتناع ورزد یا عمداً از اجرای آن خود داری نماید، این عمل وی عدم اطاعت پنداشته شده، حسب احوال به جزای حبس ازشش ماه الی یك سال محکوم می‌گردد.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر یـا جګړې یامحـاربې پـه حالـت کـې ارتکاب ومومی، مرتکب د احوالو سره سم لـه یـوه څخـه تر پنځوکلونو پورې دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) ایـن مـاده در حالـت سـفر یـا جنگ یـا محاربـه، ارتکـاب یابـد، مرتکـب حسب احـوال بـه جـزای حبس یـك الـی پـنج سـال محکـوم می‌گردد.

دآمرتهدیدول

یوویشتمه ماده:

(۱) کـه چېـرې عـسکري منسوب، آمـر دعـسکري دنـدو دترسره کولـو په اړوند په ضرب او جرح یا وهلو او ټکولـو یـا وژلـو تهدیـد کـړي، داحوالو سره سم لـه یـوې میاشتې څخـه تریـوکال دحـبس پـه جـزاء محکومېږي.

(۲) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۱) فقره کې درج شوي عملونـه دسفر یـاجګړې یامحـاربې پـه وخـت کـې ارتکاب ومـومي، مرتکب د احوالو سره سم لـه شپږومیاشـتو څخـه تـر درې کلونـو دحـبس پـه جـزاء محکومېږي.

تهدید آمر

مادۀ بیست و یکم:

(۱) هرگـاه منـسوب عـسکری آمـر را بـه ارتبـاط اجـرای وظـایف عـسکری بـه ضـرب و جـرح یـا لـت و کـوب یـا قتـل تهدیـد نمایـد، حسب احـوال بـه جـزای حـبس ازیـك مـاه الـی یـك سـال محکوم می گردد.

(۲) هرگاه اعمال مندرج فقرۀ (۱) ایـن مـاده در زمـان سـفر، یـا جنـگ یـا محاربـه ارتکـاب یابـد، مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس از شـش مـاه الـی سـه سـال محکـوم می‌گردد.

دعسکري منسوب توهين
دوه ويشتمه ماده:
(۱) کـه چېـرې عـسکري منـسوب خپل آمر يـا مـادون په غيـر اجبـاري عمــل چــې دعــسکري شــرف او حيثيت دتحقير موجب شي، توهين کړي، له يوې څخه ترشپږو مياشتو دحبس په جزاء محکومېږي.
(۲) کـه چېـرې عـسکري منـسوب خپل آمر يا مادون په اجبـاري عمـل چـې دعـسکري شـرف او حيثيـت دتحقير موجب شي، توهين کړي، د احوالـو سره سم لـه دري څخـه تـر شپږومياشــتو دحــبس پــه جــزاء محکومېږي.

په اجباري عمل سره ديوه عسکر په واسطه دبل عسکر توهين
درويشتمه ماده:
که چېرې يوعسکر، بل عسکر چې دهغـو تـرمنځ دآمريـت او مادونيـت اړيکـې موجـودې نـه وي، تـوهين کـړي، د احوالـو سره سـم لـه يـوې څخـه ترشـپږو مياشـتو دحـبس پـه جزاء محکومېږي.

توهين منسوب عسکری
مادۀ بيست و دوم:
(۱) هرگاه منسوب عسکری آمر يا مادون خود را با عمل غير اجباری کـه موجـب تحقيـر شـرف وحيثيـت عـسکری گـردد، تـوهين نمايـد، حسب احوال بـه جزای حبس ازيـك الی شش ماه محکوم می گردد.
(۲) هرگـاه منـسوب عـسکری آمـر يا مـادون خـود را بـا عمـل اجبـاری که موجب تحقيـر شرف و حيثيـت عـسکری گـردد، تـوهين نمايـد، حسب احـوال بـه جـزای حـبس از سـه الـــی شـش مـــاه مـــحکوم می گردد.

توهين يك عسکر توسط عسکر ديگر با عمل اجباری
مادۀ بيست و سوم:
هرگاه يك عسکر، عسکر ديگری را که در بين آن ها ارتبـاط آمريت و مادونيت موجود نباشد، توهين نمايد، حسب احوال به جزای حبس از يـك الـی شـش مـاه محکـوم می گردد.

عسکري بغاوت

څلپریشتمه ماده:

کـه چېـرې عـسکري منـسوبین پـه شوراو غوغا په ښکاره ټولنې سره دخپـل آمـر پـه وړانـدې پـه بـې اطاعتی یامقاومت سره په تعرض اقـدام وکړي، دغـه عمـل عـسکري بغـــاوت محـــسوبېږي، دهغـــه مرتکبین د احوالو سره سم دحضرپه حالـت کې لـه یونـه ترپنځـو کلونـو حبس په جزاء، دسفرپه حالت کې له دوونه ترلسو کلونو دحبس په جزاء، دجګړې پـه حالـت کـې دپنځـو نـه ترپنځلسو کلونو دحبس په جزاء او دمحاربې په حالت کې لـه لسونه ترشـلو کلونـو دحـبس پـه جـزاء محکومېږي.

د نوکریـــوالی دترســـره کولـــو دمقرراتو نقضول

پنځه ویشتمه ماده:

(۱) که چېرې دنوکریوالی دجزوتام پـه ترکیـب کـې شـامل عـسکري منسوب چې د اړونده آمرپه واسطه ددښمن دناڅاپي حملې دمخنیوي لپـــاره توظیـــف شـــوی وي، دنوکریـوالی ترسره کولـو مقـررات

بغاوت عسکری

مادۀ بیست و چهارم:

هـــرگاه منـــسوبین عـــسکری بـا شـــور و غـــوغا بـــه اجتماع علنی در برابر آمر خود با بی اطاعتی یا مقاومت به تعرض اقدام نمایند ایـن یـك عمـل بغـاوت عـسکری محسوب شده، مرتکبین آن حسب احـــوال درحالـــت حـــضر بـــه جـــزای حـــبس یـــك الـــی پـــنج ســال در حالـت سـفر بـه جـزای حـــبس دو الـــی ده ســـال، در حالـت جنـگ بـه جـزای حـبس پـنج الـی پـانزده سـال و در حالـت محاربـــه بـــه جـــزای حـــبس ده الـــی بیـــست ســـال محکـــوم می‌گردند.

نـــقض مـــقررات اجـــرای نوکریوالی

مادۀ بیست و پنجم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری شامل ترکیـب جزوتـام نوکریـوال کـه توسط آمر مربوطه جهت جلوگیری از حملۀ ناگهـانی دشـمن توظیـف شـده باشـد، مقـررات اجـرای نوکریوالی را نقض نماید، حسب

نقض کړي، داحوالو سره سم له شپږومیاشتو څخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر، جنګ یادمحاربې په حالت کې ارتکاب ومومي یا د درنو عواقبو موجب شوی وي، مرتکب داحوالو سره سم له یوه څخه ترپنځوکلونو دحبس په جزاء محکومېږي.

احوال به جزای حبس از شش ماه الی یک سال محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در حالت سفر، جنگ یا محاربه ارتکاب یابد یا موجب عواقب سنگین شده باشد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس از یك الی پنج سال محکوم می‌گردد.

دقراول دخدمتونودمقرراتو نقضول شپږویشتمه ماده :

(۱) که چېرې دقراول یا هغې پوستې په ترکیب کې شامل عسکري منسوب چې دوسلې، مهماتو، محاربوي تخنیک یا دنورو مهمو هدفونو دساتنې په غرض توظیف شوی وي، دقراول د خدمتونو مقررات نقض کړي او دهغه عمل د زیان بښونکوعواقبو موجب نشي، داحوالو سره سم له یوې څخه ترشپږو میاشتو دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل دسفر یا جګړې یامحاربې په حالت کې

نقض مقررات خدمات قراول

مادهٔ بیست و ششم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری شامل ترکیب قراول یا پوسته‌ای که غرض حفاظت سلاح، مهمات، تخنیك محاربوی یا سایر اهداف مهم توظیف شده باشد، مقررات خدمات قراول را نقض و عمل وی موجب عواقب زیان بخش نشده، حسب احوال به جزای حبس از یك الی شش ماه محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در حالت سفر یا جنگ یا محاربه ارتکاب یابد،

ارتکاب ومومي، مرتکب د احوالو سره سم له شپږومیاشتوڅخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

(۳) کـه چېـرې د قـراول یـاهغې پوسـتې پـه ترکیـب کـې شـامل عـسکري منـسوب چې دو سلې ، مهماتو، محاربوي تخنیک یا نورو مهمـو هـدفونو دساتنې پـه غـرض توظیـف شـوی وي د قـراول دخدمتونو مقـررات نقـض کـړي او دهغـه عمـل دزیـان بـښونکوعواقبو موجـب شـي چـې قـراول یاپوسـته دهغـو دمخنیـوی لپـاره توظیـف شوي، له یوه څخه تر دوو کلونو د حبس په جزاء محکومېږي.

(۴) کـه چېـرې ددې مـادې پـه (۳) فقـره کـې درج شـوی عمـل دسـفر یـاجګړې یامحـاربې پـه حالـت کـې ارتکاب ومومي ، مرتکب د احوالو سره سم لـه دووڅخـه ترپنځوکلونـو دحبس په جزاء محکومېږي.

مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حبس از شش مـاه الـی یـك سـال محکوم می گردد.

(۳) هرگاه منسوب عسکری شامل ترکیـب قـراول یـا پوسـته‌ای کـه غـرض حفاظـت سـلاح، مهمـات، تخنیك محاربوی یا سایر اهداف مهم توظیف شده باشد ، مقررات خـدمات قـراول را نقـض نمایـد و عمـل وی موجـب عواقـب زیـان بخـشی گـردد کـه قـراول یـا پوسـته جهـت جلـوگیری از آن توظیف شده حسب احوال به جزای حبس از یك الی دو سال، محکوم می‌گردد.

(۴) هرگـاه عمـل منـدرج فقـرۀ (۳) ایـن مـاده در حالـت سـفر یـا جنـگ یـا محاربـه ارتکـاب یابـد مرتکـب حـسب احـوال بـه جـزای حـبس از دو الـی پـنج سـال، محکوم می گردد .

دګزمې دمقرراتو نقضول

اووه ویشتمه ماده:

(۱) که چېرې دګزمې په ترکیب کې عـسکري منـسوب دګزمې دترسره کولـو مقـررات نقـض کـړي او دهغـه

نقض مقررات گزمه

مادۀ بیست و هفتم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری شامل ترکیب گزمه، مقررات اجرای گزمه را نقض نماید و عمـل وی موجب

عمل دزیان بښونکو عواقبو موجب شي چې ګزمه دهغو دمخنیوی لپاره توظیف شوې ده، داحوالو سره سم له شپږومیاشتو څخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) کـه چېرې ددې مادې پـه(۱) فقره کې درج شوی عمل دسفریا جګړې یامحاربې په حالت کې ارتکاب ومومي، مرتکب د احوالو سره سم لـه یـوه څخه ترپنځـو کلونودحبس په جزاء محکومېږي.

عواقب زیان بخشی گردد که گزمه جهت جلوگیری از آن توظیف شده باشد، حسب احوال به جزای حبس از شش ماه الی یك سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در حالت سفر یا جنگ یا محاربه ارتکاب یابد، مرتکب حسب احوال به جزای حبس از یك الی پنج سال، محکوم می‌گردد.

د داخله خدمتونو دمقرراتو نقضول اته ویشتمه ماده:

(۱) کـه چېرې په قطعې کې داخل د(۲۴) ساعته نوکریوالې په ترکیب کې شامل عسکرې منسوب چې د داخله خدمتونو دترسره کولو لپاره تؤظیف شوی، د داخله خدمتونو مقررات نقض کړي او دهغه دغه عمل دزیان بښونکوعواقبو موجب شي چې نومورې مؤظف دهغو په مخنیوی مکلف شوی دی، داحوالو سره سم له یوې میاشتې څخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

(۲) کـه چېرې ددې مادې پـه(۱) فقره کې درج شوی عمل

نقض مقررات خدمات داخله مادهٔ بیست و هشتم:

(۱) هرگاه منسوب عسکری مؤظف شامل ترکیب نوکریوال (۲۴) ساعتهٔ داخل قطعه که جهت اجرای خدمات داخله تؤظیف شده، مقررات خدمات داخله را نقض نماید و این عمل وی موجب عواقب زیان بخشی که مؤظف مذکور مکلف به جلوگیری از آن باشد گردد، حسب احوال به جزای حبس از یك ماه الی یك سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در زمان سفر، جنگ

دسفر،جګړې یامحاربې په وخت کې ارتکاب ومومي ، مرتکب د احوالو سره سم له یوه څخه تردرې کلونو دحبس په جزاء محکومېږي.

یا حالت محاربه ارتکاب یابد ، مرتکب حسب احوال به جزای حبس از یك الی سه سال، محکوم می‌گردد.

د الوتنویادهغولپاره داحضاراتو دمقرراتو نقضول

نهه ویشتمه ماده:

(۱) که چېرې عسکري منسوب د الوتنویاداحضاراتو دنیولو په اړوند و اصولنامو او دستورالعملونو کې درج شوي مقررات نقض کړي او دهغه دغه عمل دزیان موجب نشي د احوالو سره سم له شپږوميا شتو څخه تریوه کاله دحبس په جزاء محکومېږي.

